ا افغان
ب باچاخان
پ پښتونخوا

ا ب پ ت ټ ث ج
چ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ

# پښتو د ژبو مور




# The Mother Pushtu
## (Linguistics)

ثېړنه


ډاکټر درويش خان يوسفزے
Dr. Darwesh

# پُښتو دَ ژبو مور

ډاکټر درويش خان يوسفزى

ټول حقوق دَ لیکوال په حق کښې محفوظ دي

دَ کتاب نوم: پښتو دَ ژبو مور
لیکوال: ډاکټر درویش خان یوسفزی
دَ چاپ کال: مارچ ۲۰۱۲ء
دَ چاپ شمېر: ۵۰۰
کمپوزنګ: شعیب صادق مردان
0333-9866046
بیعه: ۱۰۰۰ روپۍ
دَ موندلو درک: (۱) ډاکټر درویش خان یوسفزی
خیبر آئي فاؤنډېشن هسپتال ګلبهار پېښور
موبائل: 0300-5821959
(۲) یونیورسټي بك ایجنسي پېښور
(۳) وېژن بکس مردان
(۴) قاسم بك سنټر صوابۍ
دَ چاپ ځای: عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور
0300-9019499
aamir_print@yahoo.com

# تړون

## "دَ خپلې مور په نوم

## او دَ هغه ټولو مېندو په نوم چې پښتو ژبه وايي"

مـابـه تـل تـاتـه دا وئـيـل مـورې ! اى ګرانې مـورې!
چـې زۀ بــه تـابـانـدې يـوه ټـوټـه دَ فـن لـيـکـمـه
چـې پـه لـوسـتـلـو دَ هـغـې بـه ټـولـې مېندې هـرځاى
سـتـا تـپـوسـونـه کـوي.تـاپـسـې بـه ګـرځـي پـه خـداى
نـن چـې پـه ژبــه دَ پښتـو مــې دا کـتـاب سـم کـړو
پــه ډېـر ادب بـانـدې مـې سـتـا نـوم سـره وتـړلـو
او پښتـنـو درنـو لـوسـتـونـکـوتـه مـې وړانـدې کـړلـو
ګـوره چـې څـومـره زمـانـې بـه سـتـا تپوس کـوي اوس
ګـوره چـې دا ټـوټـه دَ فـن بـه څـومـره خوښـه کړي څوک
غـوارم چـې تـا هـم دا لـيـدلـى وى پـه خپـلـو سـترګـو

مـورې! تــه چـرتـه ئـې! اى مـورې زمـا چرتـه ئـې تـه!
دَ وطـن مـور! سـتـا هـغـه زوې سـتـا پـه لټون کښې ورک شو

# سرلیک

دا پانیز ما تر ټولو وړاندې دَ خپلو ښاغلو پښتنو لوستونکو دَ پاره کښلی دی۔ دا لکه دَ نورې نړۍ دَ بېلا بېلو ژبو دَ ټکو راغونډؤل او دَ هغوي تر مینځه غړېي یو شانوالی څرګندؤلو لره لیکلی شوی نۀ دی۔ دغه زما موخه نۀ وه۔

لوستونکي به ئې دَ پوره لوستلو نه وروستو درک ولګوي۔

دا دَ ګرانو ټکو دَ معنو کتاب هم نۀ دی۔ دا دَ غړ او غړېدونکي تړون هم نۀ دی۔ دا دَ غړونو څیرنه ده او دَ غړ څیرنې نه وروستو دَ هغې دَ برخو په بنسټ ژبپو هنه ده۔

زړۀ ته مې پوره پرېوتې ده چې دَ ژبپو هنې دَ پاره نورې ښکلې لارې چارې هم شته۔ دغه لارې چارې دَ دې کتاب دَ مینځه را ټولؤل ګران نۀ دي۔

زۀ دوسره توان نۀ لرم چې نور وړاندې لاړ شم۔ دغسې دا کتاب دې هم نیمګړی وګڼلی شي۔ کۀ څوک غوارې پخپله ئې سر ته رسؤلی شي۔ دَ مزکې په مخ دَ هرې ژبې ویونکي دغه حق لري۔

کومې ناشونې چې زما وړاندې راغلې هغې کښې دَ انګرېزۍ او عربۍ ژبو سره دَ پښتو ډېر زیات نزدېوالی دی۔ زۀ ئې په هېڅ ډؤل دَ پرانستلو جوګه نه یم۔ کۀ زۀ ډېر هم دَ تاریخه خبر یم۔ دَ هندوستاني سنسکرتي ژبو او دَ باکټریا اوستائي ژبو سره دَ پښتو خپلوي خو هسې هم منلې او جوته ده۔ دَ هغې نوره څېړنه څۀ کټه نۀ لري۔ دَ هندي اروپائي ژبو

سره جوختوالی هم دَ پامه اخوا نهٔ دی۔ دَ عربۍ او انګرېزۍ رشتو نه پرته غټه خبره دَ پښتو ژبې خپل لرغونتوب دی۔ یو بې کچه اریانونکی، زړهٔ لړزؤنکی او سر دَدؤنکی لرغونتوب چې دَ خیالي دعوو نه ډېر پورته دی۔ زمونږ ژبه زمونږ تاریخ دی او په دغه موندو څېړنه خبره سپینؤلی شي۔ په ډېره ګرانه دې لیکلو ته چمتو کېږم چې دغه دَ ټولو بنیادمو تاریخ دی۔

دَ موج ښننه او دَ "وژ" نړیواله شته والی دومره ارزښت لري لکه دَ قعر، خوږ، پنجکوړه، دَ مهابهارت، "ګاؤري"، جین توې، توره او تورات، باس، اګۍ، سجیل او نور دغسې توري چې په دې کتاب کښې کښلي لري۔ که پښتو لیکدود اوړېدلی نه وی نو مونږ به ډېر څه وئیلی وی۔

جوته هیله ده چې دَ دې کتاب لوستونکي ډېر پیاوړي دي۔ زما په وړه خُلهٔ لویه خبره باندې به دَ خپل پام نیلې ته واګې نهٔ راکاږي۔ پوهېږم چې زهٔ چاته ګنېږم۔ دا مې یقین دی چې دَ یو ښاغلي وخت به هم نهٔ زیانؤم۔ ما چې دَ چا نه هم مرسته موندلې ده، دَ هغوي مننه۔

په درناوي

درویش

٤٤ خواد ۱۳ اوم

# پښتو دژبو مور

د ټولو نه اول خو چې د ډاکټر درويش ددې کتاب نوم ته وکتې شي دا ئې د لسانياتو په مېدان کې هاغه ټولو کسانو ته پټون وهلے دی چې ددنيا په ژبو پوهېږي يا په دې چې ژبه څۀ شی دی؟ څنګه جوړيږي؟ او څنګ وده کوي، مړه کيږي يا ترې نورې ژبې زېږيږي ها ئې په چاپېر چل کې د نورو ژبو سره څۀ رشته کېدای شي۔ دا دعوی کول چې "پښتو" د ژبو مور ده او بيا يو ګڼ شمېره ثبوتونه وړکول اسان کار نۀ دی خو دا کړکېچن او زړۀ سترې کار بوازې د ډاکټر صېب نمونه ې کس کولی شي۔ هسې خو خلک وائي چې پښتو د زړګونو کالو زړه ژبه ده خو ډاکټر صېب په خپله پوهه او کړاؤ ددې ثبوتونه وړکړي دي۔ چې څنګه د پښتو ژبې ټکي دنړۍ نورو ژبو کې په بدل شکلونو کې موجود دي۔ بل مطلب ئې دا دی چې دا ټکي به په هاغو ژبو کې نۀ وو او ددې په وجه به نيمګړې هم وې۔

د ډاکټر صېب ددې کتاب د لسانياتو نه علاوه ادبي حېثيت هم شته۔ هاغه دا چې ژبه کۀ د اظهار پوره ذريعه ده خو چې خومره په ښۀ ډول دا اظهار وکړی شي۔ نو د تاثر وړ ده۔ هغه دا چې ادبي کار ئې څه دی ډاکټر صېب بلا شعرونه، متلونه، آيتونه او حديثونه ليکلي دي او ددې ټولو ادبي درناوی وي۔ بله خبره دا ده چې د قرآني آيتونو، حديثونو شعرونو او متلونو يو خپل تاريخي حيثتت هم وي د هغو نه مثالونه وړکول خپله وېنا او دعوی نۀ بوازې وزن داره کول دي بلکه د يو اوچ بحث نه ساعت شيبې له ادب ته تلل ا وپه خوندور انداز کې هر څۀ هضمول يوه غټه خبره ده۔

دډاکټر صېب بله د ستائېنې خبره دا ده چې سياسي او تاريخي

حقیقتونه ډېر په نره ښائي. په دې کې چاسره هېڅ قسم رعایت نهٔ کوي دا ډېره د افسوس خبره ده چې تر دېرش پینځه دېرش کالونه د سرمایه دارو، عربي وهابیانو اور ایراني شیعه ګانو او د کرایه دار پاکستاني پوځي په وجه په پښتنو قیامت تېر شوی دی. او لاتېرېږي په دې جرمونو کې ورسره ځنې پښتانه ضمېر خرڅه هم ملګري دي.

داسې مثالونه نه یوازې علمي خبرې دي بلکه بل طرفته پښتون قام ته غل او ساز په ګوته کول دي. چې د هغوي یو تاریخي او سیاسي شعور هم بېدار شي. او بیا ورسره څوک داسې ونهٔ کړي. تاریخ کې همېشه د رېښتوني خلکو قدر او عزت وي. دروغجن همېشه مخ توری وي. د افغانستان انقلاب کې خو په قام او اولس متین ووژلې شو خو د ډېرو پکې غواګانې لنګې شوې، بلا پیسې تکې ئې وګټلې او ورځ ئې ښه شوه. که انقلاب د مذهب په نوم یا په نورو دروغو یا د توپک په زور ناکامه کړی شو د دوي په چنه تود باد نهٔ لګي.

زما په خیال د ډاکټر صېب ددې کتاب لیکلو یو مطلب دا کېدای شي چې پښتانهٔ خپل ځان، خپل نسل خپل ګاونډیان وپېژني او د ښهٔ ژوند د پاره په خپلو هېرو شوؤ رشتو بیا غور او فکر وکړي او تینګې ئې کړي. دې سره به نهٔ یوازې ددې ژبه پښتو ترقي وکړي بلکه علمي او تحقیقي کار به هم شوروشي. او خپل سیاست، تجارت، معاشیات او کلتور ته به هم وده ورکړي. او د قام د سبا ورځ به ښه شي. ددنیا د نورو قامونو سره به سیالي هم شوروکړي او د هغوي نه د مخکې کېدو هڅې به هم شورو کړي.

دې وخت کې د ژبو ماهرین او عالمان ژبو ته په بدل نظر ګوري. هغوي ئې د نفسیاتو، تعلیم، عمرانیاتو او بشریاتو په ګزونو هم وهي. د ډاکټر صېب دا کتاب هاغه ټولو کسانو ته دعوت دی چې د پښتو ژبې خبرنې دې هم په دې توګه وشي ځکه چې دا د کروړونو خلکو ژبه ده او نۀ یوازې په پښتونخوا او افغانستان کې وئېلې کېږي بلکه په نورو ډېرو هېوادونو کې وئېلی کېږي. او هلته پرې په ځنې پوهنتونونو کې څېړنه هم کېږي.

دا هاغه ټولو ملکونو چرته چې پښتانۀ د ډېرې مودې راسې دېره دي لکه هندوستان او یا په مزدورو او تجارتونو پسې نورو ملکونو ته تللي دي خو یو ګڼ شېر لري. واپس راتلو خیال ئې شته او که نۀ خو د هغوي پام دې طرفته راړول دي چې تاسو دخپلې مورنۍ ژبې پښتو د ترقۍ د پاره په هاغه وطنونو کې ګامونه پورته کړۍ او دنیا ته دا پته ولګي چې پښتانه څوک دي او ددوي د ژبې څۀ اهمیت دی.یا ددوي د خپلې ژبې سره څومره مینه ده او یا دا ترقي یافته ژبو سره تر کومه حده سیالي کولی شي. هغه بیله خبره دا ده چې د پښتنو په نوم مشرانو یا د هغې برېڅو پښتو ژبې ته هېڅ قسم پام نۀ دی کړځولی.

ددې نه علاوه څو کاله وړاندې د تعلیم تحریک مردان په هلو ځلو چې د رومبي اجلاس مشري ئې ډاکټر درویش کړې وه، په مردان کې د ولي خان په نوم کوم پوهنتون جوړ شو نو هغې کې لا تر اوسه د پښتو څانګه او پښتو اکېډمي نشته. دې ته کۀ د پوهنتون په ځائې "مُلا کوته" ووئېلی شي نو ډېر مناسب به وي د افسوس خبره دا ده چې د پښتو ټول مشران په

دې خاموشه دي او تر اوسه ئې د پوهنتون د واکدارانو نه دا پښتنه ونۀ کړه چې دلته د پښتو په حواله تاسو ولې غلي ئې۔

هاغه کسانو ته ئې د ولي خان اېوارډونه ورکړل۔ چا چې ټول عمر د پښتنو مشرانو ته کنځلې کړې دي او سپک سپور ئې ورپسې وئيلي دي۔ په وخت به مونږ ددې هر څه تپوس کوؤ۔ او د پښتو په نوم مشران به ټول قام او اولس ته په ګوته کوو چې دوي په حقيقت کې ستاسو مشران نه بلکه ستاسو دشمنان دي۔ او د پښتنو وسائل ئې څنګه لوټلي دي۔ پښتو ئې څنګه سياله کړې نۀ ده۔ نه ئې تعليمي کړې ده او نه ئې دفتري کړې۔ بلکه په لاروکې ئې ورته په چل چل کې دامونه اېښي دي۔ ددې نه ډاګې پته لګي۔ چې دا د اسټېبلشمنټ خلک دي او خلکو له ترې لرې کېدل پکار دي۔

زۀ په آخر کې د پښتونخوا صوبائي حکومت ته دا غږ کوم چې د پښتونخوا په هر پوهنتون کې دې د پښتو څانګه او اکېډمي يو دم پرانستی شي ۔ او د ډاکټر درويش غوندې خلک ئې مشر شي۔ چرته چې د پښتو ژبې دروزنې کار روان شي او پښتو ادب پکې وده ومومي۔ د پښتنو تاريخ، سياست او معاش باندې خبرې وشي۔ ګنې ستاسو دعوې به ټولې غلطې وي۔ او د اپښتون قام به درته ډېر سپک ګوري او ځان له به د نورمحمد ترکي او ډاکټر نجيب په شان خلک مشران کړي چې پښتون قام د ترقۍ په لور روان شي، ددنيا د قامونو سيال شي او لوړ مقام ومومي۔ د ملا د دم نه خلاص شي او د سرمايه دارو يا د هغوي د بريځو د ظلم د نه خلاص شي بچې ئې په خپله ژبه کې تعليم حاصل کړي او خپل پښتون کلتور په وړاندې بوځي۔

زۀ دا خبره په ډاګه کوم چې د ډاکټر صېب ددې کتاب په قدر و قیمت به د لسانیاتو پوهان تفصیلي خبرې کوي چې د ډاکټر صېب دا کار په حقیقت کې د کوم معیار دی او څنګه ئې تر سره کړی دی خو دومره وېم چې د ډاکټر صېب دا کړاؤ علمي دی او پوهانو ته مخکې پرو ست دے۔

پروفیسر معراج خان

چئیرمېن

ډیپارټمنټ آف انګلش

ګورنمنټ پوسټ ګرېجوېټ

کالج مردان

۲۵_۱۲_۲۰۱۱

# پښتو او پختو

ژبه د بنيادم بدن کښې لکه د زړه رګی نظام (CVs) يا د مرکزی عصبی نظام (CNs) يو ځانلره نظام دے چې بېله رغونه او دنده لری. دا د بنيادمو ترمنځ د فکری ادلون بدلون کالے دے. د يو بنيادم د مزغو د فکر نه د بل بنيادم تر مزغو پورې رسيدلو لره د ستونی نه راوتې غږونه ژبه ګڼلے شی.

ژبه بنيادی ډول سره غږ دے. غږ د معنې ښخې پيمانه ده. بې معنې غږ چرته نۀ وی. خبره يا جمله (غونډله) د غږونو ګڼه وی. ژبه کښې هر غږ ځانلره وی او هر غږ بېله معنا هم لری. د يو قام ژبه د هغې د غږو د غږونو پانګه وی چې هر درنګ د بدلون سره مخ وی. ژبه او نسل يو تربله يو وی. يوه ژبه کښې زاړۀ تکی مری. نوی راتوکيږی. ورسره اوسنی تکی معنې بدلوی. د ژبې مرام د بنيادم نه بنيادم ته رسېدل دی.

مونږ په ډېر پام څۀ عمومېتونه وړاندې کړل چې تول پوره سائنسی بنسټ لری.

د يوې ژبې ارزښت د هغې د ويونکو ارزښت دے. د يو اولس پوهنيز، سياسی، معاشی، زيږونکی اهميت د هغوی ژبې ته درناوی بخښی. د يو قام سيمه ايزپيښنو الی، بدنی تکړه توب، کلتوری او تجارتی قدر د هغوی په ژبه درونډ سيورے غورزوی. يو قام چې څومره د نړۍ د نورو بنيادمو مادی او روحانی بنادی

کښې زياتے راوستے شي. دومره د هغوی ژبه پرمختګ مومي. ژبه د اولس وی، د پوهانو نه وی. د اتل د اولس واک کښې وی. لکه څنګه چې د اولس راپورته کول د ټول تاريخ تر ټولو ګران کار دے. د غسې ژبه کښې بدلون هم ډېر ګران څيز دے. ژبه هغه وی چې اولس ئې وائي.

د پښتو ژبې په حواله د بې بريده خوزون او ښورون ډک پښتانه د ټولې مزکې د پاره د ښېرازئ يوه غټه چينه ده. پښتانه نړيوالـه ټولنه کښې د اسې ځائ لری چې د هغوی د ژبې د ژغورنې د پاره ډېر دے.

لکه چې ولیکلے شو، ژبه د غړونو يوه کړئ وی. غړ د بنيادم ستونی کښې د يو ځائ نه چې غړ تارونه (Vocal Cords) نوميږی. د هوا د وتو ننوتو سره راخيژی. د ا غړ تارونه د مزغو د قابو د لاندې وی. د غسې يو فکر په غړ کښې بدليږی او بيا چاپېريال کښې د خپروونې د پاره ډول ډول لارې اختيار کړی. ښه ژبه هغه وی چې د فکر او غړ تر مينځه ښکلې او يو همره بدلون راولی. د غړ راختو نه وروستو بل ته رسيدلو لره ګڼو چارو کښې يوه د ليک ده.

بنيادم ژبه څنګه زده کړه؟ د ا سوال زمونږ د پوهنې نه ډېر لرې دے. لکه څنګه چې بنيادم د څلور بولی نه په دوه بولی شو. د غسې د ا زمونږ سره د ارتقاء د وړومبی درنګ نه ملګرې وه. د ا فيصله ګرانه ده چې د پرمختګ په کومه مرحله د بنياد مو يوه يا

ګنې جوړې یو یا ګنو ځایونو کښې د یو بل نه بېلې آزاد انه وجود کښې راغلې یا بل څه وشو؟ یوه پوهنه هم مونږ ته څرګنده لار ښودلې نه شی. د بنیادم او د هغۀ د ژبې آغاز په حېث د بنیادم په لکونو کلونو خپور په تیرو کښې ورکډ استان دے. ځائ په ځائ په غارونو کښې نخښې لکه "د نیاندړتل Neanderthal man)یو ډېر وړاندې تللے وخت ښکاری.

څنې پوهان د میسوپوټامیا (Mesopotamia) نه شورو کوی. د غه نوم چې اوسنی عراق او خواوشا سیمه رانیسی د بنیاد مو یو لرغونې تاتوب ګڼلے شی. څوکډ وائی چې د غلته بابل کښې د اوسیدونکو یوه او ایکی یوه ژبه وه. د دغه ځایه بنیاد مان هر لوری ته خواره شو. د ځائ او وخت سره ئې ژبو بدلون وموندلو.

نریوالو پوهانو په ډېر زیار د اوسنو ژبو کتنه شننه او یو تربله تړون باندې پوره کار کړے دے. عالمانو زمونږ ژبه په اینډو آریائی باکتریا ژبو کښې راوستې ده. وائی چې د دوی تولو شریکه مور ژبه زمونږ سره څه لیکلې پاتې ثبوت نۀ لری.

د مزکې په مخ د ژبو دیرش تبرونه دی چې خواوشا څلور زره ژبې په کښې اوربدے شی.

د میسوپوتامیا په شان اوسن دودونه (Civilizations) د مزکې په مخ د نورو غتو سیدونو په غاړ ځانلره ګڼی وجود کښې راتلل په آسانه فهم کښې راځی. د مصر د نیل دریاب په غاړه

فرعوني تهذيب د چين د زيړ درياب او د ګنګا جمنا د غاړو نه پرته د اباسين او لنډي سين په غاړه لوئې لوئې انساني اوسن دودونه ښرګند شوي دي. د بناغلي زرتشت ښرګند بدل په ډېر يقين سره د پښتونخوا خپل سيمه ايز انقلاب وو. د رګ ويدا ورومبې ستائنې چې د سوات، ګومل، کُوبا د ښکلو خوړو اوبو د ياده ډکې دي نو هم دا مطلب ئې دے چې د غه ليکونکي د پښتونخوا اوسېدونکي وو. د آرياګانو د اټک نه پورې وتل پخپله يو لوئې بدلون وو. دلته د هغوي ژبه باندې د دره وړو (Dravidian) اثر پرېوتو. کوم چې پښتونخوا کښې نه وو.

کوټه (Cottage) چې دره وړ توري ګڼلے شي. زما په خيال هندوستان ته د پښتونخوا څخه د آريا د تګ نه ډېر وړاندې په تجارتي لارو چارو تللې وو ګنه دا اصيل پښتو توري دے. مونږ چې په اخامنشي (Acheamonian) دارا دسکندر يرغل ګورونو ورسره د سائرس نه وړاندې د بابل نوشاد نظر ته هم ګورو. د غلته د بد مرغي نه د بابل په قېديانو زمونږ سترګې لګي. که تاريخي پېښې ډېر تاويل ولري خو ژبني دليلونه کم کوز غورزيږي. د بابل د ختو پرېوتو نه وړاندې او ډېر وړاندې د زرغون شاه (King Sargon) اکادي عربي هلې ځلې مونږ په هر اړخ خيرلے شو. د غسې مونږ د سوميريانو د ځلو نه د راوتي نخښو په ذريعه د کونړ او خواوشا سيمې اندازه لګولے شو.

دلنډي' اباسين ترمينځه د غه تهذيبونه د آسمانه راپرېوتي نه وو. د هغې بُنياد د پښتونخوا په خاوره کښې وو. دا

مـزکه د سرپيتوب يوه ډېره لرغوني ژانګو پاتې شوې ده۔ زمونږه په پورتني اټکل خبره ډېره په آسانه اته زره کلونو ق۔ م ته رسي۔

بائـرن پـه ۱۹۹۳ء کښــې لـيکی " د شريکې اينډو اروپائی ژبې تاکنه په زمان و مکان کښې يو سپړدے سوال دے"۔

ستهـوارټ۔سی۔پـول ليکی "دا خبره منلې شوې ده چې د شـريـکـې اينـډو اروپـائـی ژبـو مـورنيا څو زرګونه کلونه وړاندې وئيلې کېدله ۔ چې په ورو ورو ترې د اروپا(اونوری) اوسنی بيلې بيلې ژبې راووتې"۔

نـوم چـومسـکـی لـيـکـی "څـومره چې د بيلا بيلو ژبو په غـړونـو سـړے غـور کـوی، دومـره د ژبـو تـرمـيـنـځـه يوشـانوالے څرګندېږی"۔

بـلـوم فيلډ وائی "انسانی ژبې لکه د نورو آفاقی پېښو په طبـيـعـی قوانينو خوزی۔ د ژبو ترمينځ يوشانوالے د يوې نړيوالې سرچينې مرسته کوی۔ خواه که ډېره ډنګره هم وی"۔

پـوهانو د ژبو خبره تر ډېر لرې رسولې ده۔ دومره رسېدلی پوهان په شمېر او لوړتيا کښې چرې چا ليدلی نۀ وو۔ زۀ نومونه لړ اخلم۔ ډېر نومونه به په لاره لاره ليک کښې مخې ته راځی۔

د دغـه پـوهـانـو څـه خبـرې عامې او اسانې دی۔ د طبيعی دسـتـور خبـره ډېـره غـټـه ده۔ د ژبـې وراثتی او جينياتی Genetics مـقـام هـم څيـړنـه غـواړی۔ د غړی تارونو رغونه او مزغو کښې د وېـنـا مـرکـز بېشـکـه جينياتی بنسټ لری۔ د غړونو ترمينځ ثابت

یوشانو الے وراثتی دلیل دے۔ عجبه نه ده که د ټولو ژبو ترمینځ یوشانو الے وراثتی دلیل وُلری۔

د غیرو ځانلره ژبه هم د وراثت عنصر لرلو کښې بې یقینه نه ده۔ دا حقیقت ډیر روښانه دے چې ژبه د ټولنیزې موندنې شے دے۔

د نړیوالو ژبو په ډلو، تبرونو ویشنه ګڼ او بیل بنیادونه لری۔ لکه SVO, SOV او VSO ژبې S = Subject کړونکی =Object O پرې کړې او V = Verb کار یا کړل۔

د غسې پښتو یوه "SOV" ژبه ده۔

سیتم سنتم ډلې هم یادیږی۔ سیتم او ستا او سنتم لاطینی ده شتم سنسکرت ده۔ د لاطینی ژبو Centum په انګریزی Hundred کښې بدلیږی۔ د پښتو سل، صد، ست =سلم، سدم، ستم کښې په اوستا ورځی۔

تجربه ښائی چې د نړیوالو ژبو ویش او زده کړه د اوسنو قاعدو نه پرته نورې لارې چارې هم لرلے شی۔

د لاطینی P او یونانی P په جرمانی ژبو کښې په F اوړی۔ د غسې K او T هم دی۔ T په "ت" یا "د" اوړی او "ک" په "سی"، "C" بدلیږی۔ د غه شان gh=z او bh=v۔

د یوشانوالی د غه دستور ته ګریم قانون Grimm's Law وائی۔

زمونږ تجربه ده چې د غه قانون د پښتو ژبې اړیکو کښې

دېر په کار راځی. مونږ یو څو د غسې بدلونه لاندې راوړو.

v=w=و=ب= B=P ، ایز=Age (پیسونه) غ=ګ=ز=G=Z ج

T=ت=ب ، ق=KH یا Ksh = ښ= خ= ک، د=ت، ث =Th=ټ

ح=ژ،ږ، ف=پ، ځ=س=ث= Ch= =ق=ک=K=C ،ژ= T =ج= V=Y=J

پښتونخوا کښې بنیادمان دیرش لکه کلونو راهسې وسې. بنیادم چې کله په څیزونو باندې نومونه کیښودل نو دا د ژبې پر مختګ کښې ډېر لوئې توپ وو. دا هم د څو ورځو کار نه وو.

و علّم آدم الاسماء کُلّها.

"او مونږ بنیادم ته ټول نومونه وښودل".

اسماء مونږه صفات ګڼلے شو. بنیادم ته د الله علم صفات ورکړے شو نه چې علم ذات. بنیادم ته د دغه ضرورت وو.

زمونږ د ژبو یو ویش د اسې شوے دے.

د دې زیاته برخه ما د اروابناد ډاکټر مجاور احمد زیار نه اخستې ده.

# شریکه آریا ژبه
Protoindouropeon



(ب) اینډو اروپائي ژبې




د ډاکټر زیار د دریځ نــه څرګـنده ده چې پښتو د اوسنی ایران نه ډېره بیرته ده او دې ته د ختیزې ایرانی ژبې نوم ورکول بې ځایه دی. د زرتشت اوستا او د ساکانو ژبه زمونږ پښتو سره ډېره نزدې او د ایران نه دومره لرې ده لکه هندوستان: د پښتون تاریخ د ایران په حواله څه ډېر ښه نه برېښي.

O.I.A لــرغـونـی هـنـدی آریائی ژبـې د ۱۵۰۰ ق.م تــه تـر ۵۰۰ق.م پورې وخت لري.

O.I.A د اینډو ایرانـی ژبـې یوه څانګه ګڼلے شی. د اینډو ایــرانــی ژبــې د کــومــې نـــه اوستــا او زړه پـارسـی راووتــلــې (بارتولومی. بروګمان. غتاج. میروفر۱۹۸۹)

د ډاکټر زیار په نزد اوستا د ایرانی څانګې نه بیل څانلره آغاز لري. د قطب ختیز او سهیل لویدیز ترمینځه لار هم ډېره ده.

نور پښتانه هم د پښتو د ځانله وجود مرسته کوي.

بنیادم چې کله ژبه زده کوله نو ورسره ئې نورو ته د رسولو تابیا هم تړله. لرې ځایونو، راتلونکو پیړیو او د وېنا نه هېرولو لره د نور څه نه پرته لیک یو بل لوئي بدلون راوستلو.

ژبه وړومبے په مزغو کښې یو خیال وی. د غه خیال د سپائی نوزا په نږد څلور ارتقائی درجې لری. د ټولو نه د وړومبنۍ درجې خیالونه په بنیادم او نورو ځناورو کښې یو شان وی. د غه خیالونه د مزغو د مرکزې واک د لاندې د غړی تارونو څخه د اسې وُځی چې د خیال پوره په پوره غږ اړنه وشی.

د خیال او غږ ترمینځه پوره په پوره بدلون ګران دے. تر ټولو ښه ژبه هغه غږونه وی چې د خپل د ماغی خیال پوره متبادل شی او د اوریدونکی مزغوکښې هم هغسې هوبهو تاثیر جوړ کړی. د ژبې د غږ سره د لاسونو، سترګو او مخ څه حرکتونه هم وی چې هغه د غږ ممکنه کمے پوره کوی.

بل هغه سړے احمق بللے بویه
چې خبرې کړه په سترګو په لاسونو

ښکاریږی چې زمونږ مشران د ژبې د وظیفې سره اشنا وو. روښان پیر او خوشحال بابا کښې مونږ د غسې اشارې وینو. ډېر لږ بنیاد مان د دې جوګه وی چې فکر تول په ژبه کښې راونغاړی. د غه ته لوړ ادب وائی. فکر توان دے. غږ هم توان دے. ښائی، چې فکر = غږ. کله چې د فکر غږ ته اړول ډېر ګران

شي نو په ليک يا ويناتې يو هېډل هم گران شي لکه د منثور خبري يا د ډېرو فلاسفرانو خبري.

الا سنة مستنقاط تحت نقعليا مستيلكات.

ژبه چي ليک ته راورسېدله نو د ابل لوني انقلاب وو.

خبره د علمة البيان نه علم با القلم ته ورسېده.

دا دي هېره نه شي چي ژبه د شعور د ارتقاء تر ټولو زيات وړلي موندنه ده.

ليک فينيشيانو شورو کړو چي د نبي نه کس ته به تلل. دا د مسيح عليه السلام نه زرگونه کلونه وړاندي وو. د هغوی نه ليک يونان او روم ته لاړلو. هم هغوی نه ليک عربو او اسرائيل ته ورسېدلو. وائي چي د پال د عيسائيت په ذريعه اروپا ته لاړلو. کوم چي دا ډېره اوسنی خبره ده. ټولنو په دي غرض ليک خپل کړو چي ابلاغ د زمان و مکان نه بهر شي. فکر په دغه ډول د ژبي وړلي موندنه کښي ځان ترکندوي. دا د اعلی شعور لانديو فعل دے بنياد مر د غږ او ځيز تر مينځه ترون ځرکندولو لره ډېري هڅي وکړي. د غسي يکتو کراو لوکو کرام سيلابی او ايپخی يا الفابيت ته پر مختګ وشو. تريو ال غرين نخښي P.A اجوړي شوي. سوميريانو "پانه ليک" Cuneiform دوه لرلو. د سوميريانو نه مطلب د سهيلي ميسوپوټميا لرغوني وسيدونکی دی.

| | | |
|---|---|---|
| MESO | = | مينځ |
| PO | = | بو۰د اوبو ريښه ده |
| tamic | = | سيمه |

د اوبو تر مينځ سيمه چې د فرات د جله تر مينځ ګڼلې شي۔ سوميری اولس د دغه ځای استوګن وو۔ يو ښاريه به د غلته يو قام او وطن ګڼلې شو چې د هر ښار ژبه به د بل نه بيله وه او د غه ځانلره حکومتونه هم وو۔ اکاديان هم د غلته وو چې عربی ژبه ئې وئيله۔ سوميريانو کښې "اورنمو" يا نمرود او وروستو حمورابی يادېږی۔ هر کله چې اکاديانو کښې زرغون شاه يعني "King Sargoa"ډېر ياد دے۔ د زرغون شاه نه وروستو سوميريا د وه ژبې خلک شو۔

عربيانو د غوئی سر ته د انځنبه ورکړه A او الف ئې ورته اووې۔ لاطينی کښې د غه نخښه ∠ شوه او الفا ئې ورته اووې۔ انګريزی کښې ترې A جوړه شوه۔

د کور د پاره د انځنبه ▯ مصريانو راوړه۔ فينيشيانو د غه اړولې کړه او ▯ د اسې ئې کړه۔ ورته ئې بيت اووې۔ بيا به چې کوم غږ د "ب" نه شورو کېدو ، د غه نخښه به ئې سر کښې وه۔

لاطينی کښې د غه نخښه د لږ بدلون سره // "بيټا" شوه۔ انګريزی کښې د غه B "بی" شوه۔ د پښتو ▯ هم د کور نخښه ده چې تکے ئې ور دے۔ د سنسکرت نه راوتلې هندی او بنګله د غه نخښه ◁ د اسې کړه۔

د جیم نخښه ج په لاطیني کښې ګیما Gamma وه او نخښه ئې شوه ۷۔

د جیم او ګیما ترمینځ غرږي یوشانوالے هم شته۔ هندی او بنګله کښې د غه نخښه ݣ د اسې شوه۔ کله چې یوه نخښه یو غږ څرګندوی نو ابېځي دود ورته وائي۔ عربي، عبراني د غه دود لري۔ د فینیشیانو نظام ته Syllabic وائي چې د مسیح نه زر کلونه وړاندې پوره شوے وو۔

وائي چې تولې نړۍ ته لیک د فینیشیانه خپور شوے دے۔ ځنې خلک د امریکې د لرغون خلکو بیل لیک هم شمیري۔

د فینیشیا او سومیریانو د مړستون کتنه څرګندوی چې هغوی پښتونخوا سره هم تړون لرلو۔ د دغه ځلو څه ډېر لیکونه په خروشتي کښې موندلے شوے دی۔

اوستا نباغلي زرتشت ته منسوب کتاب دے چې د مسیح نه ۱۵۰۰ کلونه وړاندې وو۔ مولانا ابوالکلام آزاد د سورة کهف په تفسیر کښې زرتشت د پیغمبرانو شمېر کښې راولی۔ باچا خان هم د غسې ګڼي۔ د لویدیز نوم ګټلي فلسفي "نت شه" (Neutzsche) د زرتشت وینا جرمني ژبې ته اړولې ده چې انګریزی کښې د (Thus Spake Zarathustra) په نوم خپوره شوې ده۔

پښتونخوا کښې لرو وبر دوه نیم زره کلونو پورې

مجوسي او زرستانته دومره زور کښي وه چې دومره بودانی لاړ نه وه. هندو اثر لا ډیر لږ وو.

د سدوم، چارسده، نېسته، (نبسده)، پېرسده، سده د تېمرکرې. سده د باجوړ او سده د کرمې د دغه اتشکدو یادونه دي. د پښتو ژبې تورې سده او ست زموږ ژوندی تکی دی. اوستا د پښتو سره نژدې خپلوي لري.

د رګ وېد وخت د ۲۰۰ - ۱۷۰۰ ق. م کښلی شي د چا ژبه چې پښتو سره او پښتونخوا سره نژدې خپلوي لري.

لکه چې د دژبه د ستوني نه راوتی غږ دی. موږ د یو غږ "ق" کتنه راخلو بناغلی ډاکټر زیار لیکي (ق-q) او خ x ژبې تالونیز Uvular زیږ ځای لري. تم مبنلی ناغږن دی.

ښ ⅹ نرم تالونیز Postpalatal غږ دی. ناغږن مبنلی دی.

ښ S̱ غبر کږبیز Retroflex غږ دی ناغږن مبنلی دی.

س S اووریز Alveolar ناغږن مبنلی دی.

ش S̄ زیږ تالونیز ناغږن مبنلی دی. (Pre-palatal)

د زیار حواله ختمه شوه. دې کښي س S چې زما په نژد اووریز تالونیز او د ژبې په مخ Alveopalatal laminal دی. زموږ د اوسني باس نه وتی دی. موږ سره باس کښې ق. ښ ⅹ. ښ S̱ او شین S̄ پاتې شو. "ق" د پښتو خپل غږ نه دی. دا د پور غږ او نخښه ده. لکه ص. ث. ض. ط. ظ هم پورلي دي. د "ق" وتونځای د غږی تارونو نه لږ بره د پوزی په شاتنی ښکتنی برخه

کښي د تالو تر تولو شاتني لړ د برخه کښي وی. لکه سرے چي کله توخېږی او قخ قخ کوی. د قخ قخ ځاے د "ق" ريښتينے مخرج دے. د "ق" د غږ سره هوا نه د ننه ځی نه بهر وځی لړه اتله شی.

د "ق" غږ سره تونډې پر انستلے شی. چي شونډې بندې وی "ق" نه راوځی غابنونه تول د يو بل نه بېل وی. د مری شاتنی غاړه بنده وی. داسي وشی چي د ژبي بره اړخ Dorsum د تالو د سره وروستی برخي سره وتنبلی. د ژبي سُوکه او اړخونه د لاندينی مخامخ غابنونو سره په يوه ستنه وی. ژبه پخپل ځان بره لور ته ورکړه (Dorso-Flexion) شی. سُوکه ني د لاندينی مخامخ غابنونه شاته اړمه شی خو دا ضروری نه ده سُوکه خلاصه هم کيدے شی. د خلي Buccal Cavity شاتنی برخه به ازومرز بنديږی. ورپسي هوا په زور د مری نه د ژبي او تالو بېلېدو سره راوځي دا د Oropharynx د شاتني دېوال او د Larynogopharynx د مېنځينی برخي نه په زور راوځی چي او د تالو ژبي وروستی برخه بېلېږی نو د بېلېدو سره جوړ Uvula شوری کښي "ق" راوتے وی.

زما په نزد "ق" د "ښ" غونډې غږ لری. وتونځاے او زېږ ځاے ني بېل دے ځکه چي "ق" پردے غږ دے.

ق = Q = ک = C = Ch




د پښتـو د پـړك نـه بـرق او بـرېښ شو۔ سپوږمی پړقیږی، سپوږمی بـرېښېـدله، اسمان برېښی، "ق" پښتو کښې په ښ، ك او کله کله Q راځی۔ مونږ لاندې څو عربی، انګلیسی، پښتو ټکی راوړو چې "ق" لری او بدلون ئې ګورو۔

| پښتو | عربی | شمېره |
|---|---|---|
| برېښ / برېښنا | برق | ۱ |
| نخښه / ښه | نقش | ۲ |
| وانیه | وقود | ۳ |
| اوښت | سبق | ۴ |
| څښکل | سقایه | ۵ |
| Chasha, Saka / څښه | اِ ذق.ذائقه | ۶ |
| ښکالو | قال | 7 |
| ښرنتی | قندیل | ۸ |
| پښتون | بقعة | ۹ |
| جُښت/جوښت/ګوښ | جوق | ۱۰ |

| | عربی | پښتو |
|---|---|---|
| ١ | طاق | تاخ |
| ٢ | وقت | وخت |
| ٣ | قعر | خوړ |
| ۴ | تخرق | ترخ/تخرګ |
| ۵ | قبیله | خپله |
| ٦ | ثاقب | تیکاو |
| ٧ | طبق | تپک |

| | پښتو | انګلیسی |
|---|---|---|
| ١ | الاخون | Eloquent |
| | "ښه ون" | |
| ٢ | خلعت | Quilt |
| | ښورپدل | Quarrel |
| ٣ | ښه والے | Quality |
| | | |
| | | |

١ـ ذُق، اِنَّكَ اَنتَ الكَرِيم (القرآن)

قعر په معنی د خوړ لکه پنجکوړه = پنج قعره = پینځه خوره: دا د دیر نه راوتے نوم موندلے سیند دے۔ د مها بهارت یا د سین "ګورے" هم دغه دے۔ د سکندر یرغل کښې ورته "ګورائي" نوم ورکړی شوی دی۔ اند ازه وکړئ چې د مهابهارت یو تکے به عربی ژبې ته څنګه رسېدلے وی۔۔۔بد کوړ = بد قعر، هغه خوړ دے چې د "اودیانه" سره خوا کښې په حواله د سکندر اعظم ئې ذکر راغی۔ د مردان ادینه سره نزدې د غه یوه وړه کنده ده چې د یوسفزیو د ذرنو درنو مېړو په مېنځ کښې نامعلومه ښکته د څو څاڅکو اوبو سره مقام خوړ اوبلې سره یو کیږی۔۔۔لوند خوړ یا لوانده خوړ مردان شېرګړ هـ نه ختيز ته یو لوے کلے دے چې ښې شمېره کندے لری۔ د غسې خان خوړ او سبحان خوړ او نور هم ګڼ دے۔ د ادینه سره نزدې کندې ته ډېر خلق "دارا" وائي۔ شاید د "دارائ اعظم" سره تړون لري۔

نو کوم غږ چې "پښتو" کښې راځي يعني "ښ" د دغه وتونځاې د "ق" سره بدلون خوړلے دے. دغه "ق" چې مونږ پخپله ژبه کښې نه لرلو او نه ني لرو د هغې په ځاې "ښ" راووتلو چې نه "خ" دے او نه "ش" دے. ښ دے وو او وی به. دا يو ځان لره غږ دے. نه چې هسې منلې شوې نخښه. يو Jvular غږ Retroflex شو.

که شونډې پرانستے وی او غاښونه بند وی نو ق. ښ. خ راوځی او قاغ. قغ يا لکه د خوب ښر ښر غږ راځېږی. که غاښونه بند وی او شونډې سپرډې وی نو "ش" نه جوړيږی.

کـه شـونډې ېپرتـه وی او غـاښونـه بند وی نو ق. ښ ادا کېدے شی کله چې پـه "ق" زور. زبـر. غړوندے وی نو شونډې پـکښې برخه نه اخلی. که په "ق" پېښ وی نو شونډې ورسره لږې راغونډې شی.

د پښتـونـخوا ندلوېديز ته "ق" او ختيز ته "ق" يا X شته خو پښتونخوا کښې نشته.

پښتانه ته پښتانه نه وئيل يا نه ګڼل هغوی خپل سپکاوے ګنـی کـه هر کړ دود لـری. ش يا خ دواړه ځان پخپل ځاے او چت پښتـون ګـڼـی. ځان د چا د سند مو تازد نه ګڼی. پښتون بل ځوک خپلـه تولنه کښې نه ننويستے شی او نه ني ايستے شی. زرګونه کـلـونـه وشـو چـې د بيل کړ دود د پاسه هم يوې يا بلې قبيلې يو د يا بـلـه د پښتـونـولی. نه خارجه نه کړے شود. دغه تاريخی اوږد والے

هم د دوی د یووالي دلیل دے۔

خان جهان لودي بیټني وو دریا خان د اودزئي سربني وو۔ خو هېڅ کړ دود هغوی ښل نه کړل۔ د پښتو سیمې لکه کنجکي یو ښل کښي ننوتې دي. که دا ښلې ښلې ژبې یا اولسونه وی نو دا اسې به ګرانه وه۔ د خان علنین مکان خوشحال خان خټک وینا ده:

پــه یــوه ژبــه وئــیل ســره پښتو کــړو
ولــې هېـــځ نـــه شــو لـــه یو بـل خبرد ار

یوه ژبه وئیل څه معنی لري!

د هغه نزدې ملګرو ایمل خان مومند او دریا خان افریدی کښې یو هم "ش" نه وئیلو۔ هغه یوسفزیو سره په دښنه او دوستي دواړه پاتې وو خو هغوی نې د خپله قامه ښل نه وو ګنلے۔ دا هم وائي: پښتو ژبه مې خوښه هر څوک خپل ګني ښاغلے

دا هم وائي: په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

دا هم وائي: بیا د واړه پښتو ژبې په دنبال

ما بیا بیا "دا هم وائي" ولیکل۔ مطلب دا چې پښتون قام ته د ژبې په حواله وینا شوې ده۔ هغه په یوه نکته زور اچولو لره "پښتو ژبې" استعمالوي۔ دغه وینا وال که حکیم ملت نه هم شي نو وینا نې لا ډېر ارزښت لري۔ د اولسي ناروغیو طبیب که څه نسخه وړاندې کړي نو نړیوال پوهان یکښې ډېرې ناوړه خبرې په ګوته کولے شي۔ ولې د عام غړي وینا کښې رښتیا ډېر زیات وي۔ د

پښتو ژبې پحقله د هغوی وینا عمومیت لري۔
خوشحال بابا د افغان او پښتون توری په ایکې یوه معنی کښې دومره پریمانه راوړی دی چې نورې خیرنې ورکښې هیڅ ځای نه لري۔ زمونږ ټول پښتو ادب د دغه توریو د یو مانیزه راوړلو نه ډک دی۔ څوک چې پښتون تورے او افغان تورے بیلا بیلو معنو کښې اخلي هغوی جاهلان پساتیان دی۔ دا خبره چې د افغانستان وسیدونکے افغان دے۔ د حماقت انتها ده۔ د افغانستان وسېدونکے افغانستانی دے۔ نه چې افغان افغانستان یو هېواد دے۔ د مزکې یوه ټوټه ده۔ هر کله چې افغان بنیادم دے۔ خاوره خزله نه ده، پښتون ژوندے شے دے، کانې ګټه خو نه ده، ملکونه بدلیږي، قامونه نه بدلیږي، بخښنه غواړم۔ د یو قام ګڼ نومونه د نیا کښې شته۔
ډېره ترسکونه وه قیصې لړه اوږده شوه رانه
د "ق" مخرج د مخارج حروف ۵ نمبر لري۔ یعني د ژبې جړه چې تالُو سره وجنګیږي نو "ق" راوځي (اشرف علی تهانوی: جمال القرآن)
"پ": دا غړ غبرګ شونډیز، ناغږن دے، (Bi-Labial) دواړه شونډې یو ځاے شي۔ د هوا یو کالم د شونډو نه تر غړ تارونو بند شي۔ د شونډو تر مینځه یو سُورے وشي۔ شونډې بېرته شي او هوا د غړ تارونو څخه وړاندې حرکت کولو سره پُ غړ راوباسي۔ "پښتو" کښې پُ د اسې غړ ورکوی لکه: Push, Pull, Put څنې خلک "پ" باندې زور راولي چې ښه نه کوی۔ زمونږ "پ" نورو

ژبو ته په "ف" "ب" اوړی۔ لکه د ګريم دستور۔

## "ښ"

د ډاکټر مجاور احمد زيار د ليک سره سم "ښ" په بېلا بېلو ګړ د ودونو کښې په بېلا بېلو ډولونو سره وئيل کيږی:

(۱) په سويل لويديزه پښتو کښې يو سائيز "مختالوئيز" غبرګ ژبيز، ناغړن منښلی بېواک دے چې S دے۔

(۲) سويل ختيزه پښتو کښې "ش" وئيل کيږی۔

(۳) قطب ختيزه پښتو کښې د "خ" غوندې وئيل کيږی۔

(۴) په مېنځنی پښتو کښې يو وروستی تالوئيز بېواک /X/ د وينګ پر وخت ئې د ژبې وروستی برخه د تالو د ورستی سره نښلی۔

د پوهاند زيار مرحوم په وينا د "ښ" بره څلور اد اګانې دی۔ د پښتنو شجرې هم څلور دی۔ (د نعمت الله هروی)۔ زمونږ غټې تاريخی نسلی سرچينې هم څلور يادېږی۔ لکه ساکا، پارتيان، کوشان، اپتاليان۔ د ساکا پاتې يو ټکے سکه او ناسکه دے۔ سخاکوټ هم ساکا يادوی۔ پارتيان مونږ ته پر اته يا ديشين ټکی يادوی۔ کوشنی، کوچنی، کوچنډی مونږ ته د کوشان څخه پاتې دی۔ دا هم څرګنديږی چې "ش" او چ "ch" يو تر بله اوړی اپتالی څخه اتل تورے او بې شمېره يادونه پاتې دی چې ډېر زيات خواږه دی۔

## "تُون" ثانی مخارج الحروف۔

د ایو "ېیو اکوړی" یا Consonant Cluster دے۔ تُون سره دوارهٔ شونډې راغونډې شی۔ لکه د ګُل وغوړیږی۔ د ژبې شوکه تر دغه د مخامخ برنی غاښونو د شا سره اړمه وی۔ ېیلېډو سره وړاندې وخوځی او مخامخ هوا کښې غړ راوځی۔ پښتو ژبه کښې تُون پسوند ډیر راځی لکه ېیلتون، بنتون کونډتون، مېړتون، شتون، کړتون، پوهنتون۔ مونږ د پښتون "تون" د اسې راوړو لکه Soon. Noon. Moon۔

پښتو کښې "ښ" د نورو ژبو د "ق" یو لړ پوست شکل دے۔ د پوست نه مراد د Uvula د برنی خوزون کمزوری ده۔ د قرآن پاک تورے بقعة د پښتون د غړ سره نزدیو الے لری، سپوانی د ۃ نه۔

د پکهت تورے هم زمونږ د ق ښ دریخ ته مرسته ورکوی د فینیقا "ق" په "ښ" د اسې اوړی لکه فینیښیا۔ په Phoenicia کښې Cia غړ لره په لاندینی توریو غور ښائی۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١۔ | Acacia | ٢۔ | Paramecia |
| ٣۔ | Gynecia | ۴۔ | Alopecia |
| ۵۔ | Scleromalacia | ٦۔ | Enunciate |

* شمسی الحروف

تر تولو غټه خبره دا ده چې د پښتو د قطبی ختیز او سهیلی لوېدیز وېنا کښې د رغونې توپیر په نشت شمېر دی۔ توپیرې تش تر غړه دے۔

مونږ بیا لړ ساعت لره ژبپوهنې ته راځو۔ د کره پښتو ٣٦ ګونو غړیزه د شلمې پېړی د شلمو کال نه رامینځ ته شوے او په

۱۹۶۲ کښې د افغانستان د ژبپوهې په کار لوېدلې ده. کنې اوسنۍ باکتریا ژبې یو شانتنې ۱ تالوتیز غږ لري. لکه د پښتو سهیل لوېدیز وېنا او ورسره پامیري ژبې. د ډېرو کنو پوهانو فکر دا دے چې "دا غږونه د اینډو ایراني ۲ نه میراث کښې پاتې نه دي خو دا د دغه ژبې خانګړي پر مختګ کښې وروستو را اختلي دي." مارګن سټیزن ۱۹۲۷ (۱۹۷۷_۷۹) او ګیګر ۱۸۹۴ لیکي چې پښتو کښې یو ناغږن غبرګژبیز غږ دے. (دوارو ښاغلو هغه Ş کښلی دی) چې د اوستاد Sr غوندې دے لکه پښتو کښې Şa =good= ښه اوستا کښې Srao= ښه. د غسې پښتو کښې Şna ښنه =hipbone= د اوستا Sraoni په معنی د کوناتې. سکجیرومنی چې پښتو کښې غبرګژبیز ډېر وروستو ښکاره شوی دی. (۱۹۸۹ء) سر اولف کیرو هم ښه او good یو شان ثابتوي.

١. Post-palatal

٢. اینډو اریائی او لرغونی اینډو ایرانی اول د یوې ښل بولونه وو.

T-A-Hall تي. اے. هال لیکي: زمونږ د "ښ" توله غوته دوی سپړدلې ده. (درویش)

"زه باس کوم چې د سنسکرت S او اینډو ایراني Ś په راختلو کښې ترون لري. د اینډو اروپائی K̂ چې وروستي t نه وو. د سنسکرت Ś ته واورېد - Burrow 1955 وائي چې د سیتم تولو ژبو یو نامښلي وخت تېر کړے دے. بروګمان کنې چې اینډو

اروپائی $\hat{K}$ نبغ په نبغه د سنسکرت $\acute{S}$ کښې بدل شو لکه سنسکرت Visa= اوستا Vīsh یا śúska (سنسکرت) = Húska (اوستا) د اوستا د "ر، یو، ک، آئی" نه وروستو S په $\bar{S}$ یعنې د IPA په [ʃ] کښې (i, k, u, r) واوړېدلو۔

دا هم کېدے شي چې اینډو اروپائی $\hat{K}$ په $\hat{C}$ کښې بدل شوے وی او بیا د سنسکرت $\acute{S}$ ته اوړېدلے وی تاسو دا ملاژه کړئ:

Cosa → Cos → Chose → Cheez → Seez → Shai → Sheez
(ټالوی، اسپانوی، فرانسیسی، پښتو، پښتو، عربی، پښتو)

د غسې د سنسکرت St د اوستا $\bar{S}$t کښې واوړیدلو۔

داسې وګڼئ چې د سنسکرت "شټ" د اوستا په "ښت" کښې واوړیدلو۔

غرېبه ئې SHt (Cluster) او KHt (Cluster) وی۔(لوستونکی د پښتو "ښ" راوړاندې کولے شی)




$\acute{S}$ د $\bar{S}$ نه په اینډو آریائی ژبو کښې راوتے دے۔

د $K$ نه $\bar{S}$ ته بدلون د غږ له مخه زیاته مرسته مومي.

د $\bar{S} \rightarrow S$ او $\bar{S} \rightarrow K$ بدلون د اینډو ایرانی ژبې نه ډیر وړاندې وو. څکه چې د اسلاوی ژبه هم لري. که چرې $\acute{S}$ د $\bar{S}$ نه اخستے شوے وی نو دا به د رګ وید انه وړاندې پیښه وی (رګ وید اد ۲۰۰ ق.م نه تر ۱۷۰۰ ق.م وخت لري.)

[بابل په ۵۳۹ق.م کښې د اخامنشیانو په لاس رنګ شوے وو. اخامنشی د ذاته پارتیان وو. د هغوی نه وړاندې ساکا په پښتونخوا کښې څرګند وو. که د تاریخی پیښو په اټکل حساب وشي نو تر ساکانو ۸۰۰ق.م نه وړاندې خبره د رومي. د "ښ" تنازعه هم د غه هله ګوله کښې مینځ ته راغله. یعنی د "ښ" غږ هم د غه بابلی هنګامه کښې زرغون شو.

د "ښ" د پاره څه خلک /S/ یا /C/ یا /X/ راوړي.

د مینځنی پښتو "ښ" غوره او کره ګڼلې کیږی. د جرمنی C هم درې وینګه لري او کټ مټ لکه د پښتو "ښ" ې وائی.

یو اځې غږونه بدلون نه خوری. کله ځینې غږونه ورک شی. سره نزدې غږونه اړولے شی. سره هور ته غږونه هم واوړی. د توری منځ کښې غږ هم اوړی. کله د یو توری سر کښې غږ زیات شی. د بلې ژبې توری ځانګړی ډول سره غږ اړوی. د غسې بدلون ډیر وخت اخلی. تولنیز بدلون، ډیره ګڼه کوچیدل، جنګونه او نور ژبې په ځای نه پریږدی.

د ژبو ادلون بدلون کښې دوه غټ دستوره لوبيږي۔

(۱) د ويونکو ګڼه

(۲) د زيات قدرتی پر مختګ لاره

د ليک نخښې سره غلطوی، غږونه غلطی نه ورکوی۔ کله چې مونږ د "ک" او د "ش" غږ لرونکی بيلا بيل تکی ملازه کړو نو ښرګنديږی چې "ک" مشر او "ش" کشر دے۔

مونږ يو تکے د غسې وړاندې کوو۔




د اسې وشی چې وروستي "واول" ډير ښلـه پريوځی۔ د واولونو ترمينځه ناغږن غږونه غږن شی۔ ودريد نه منبلی شی۔ د توری پای کښې بيو اک بې غږه شی۔ بل تکے ځير کړی۔

خوښ خوش = Shee




یوه هاوه، هغه هم دومره لرې لرې لاړه: د ا د نړۍ خواوشا اتو ژبو کښې د اګۍ پوستکې دے. نور به هم ډیر وی چې زه ترې خبر نه یم.

اشارې:
(۱) په وجود کښې لکه هاډو پښتو خلاصه (خوشحال)
(۲) چې مکان ئې نابید انبان ئې نشته څوک به څه غواړی د پښتو بازو هویه (خوشحال)
(۳) مرد را کیر و خایه باید و بس      این همه زینت زن باشد      (شیخ سعدی)
(۴) کأنهن بیض مکنون (القران)

پښتو کښې ژبې ته ژبه وائی۔ که انګلیسی کښې ئې اولیکو نو د اسې به وی Jeba. Jwa ۔ ژبه ګ ج ی بدلیدې شی او "ب په" و "پ" " بدلیږی۔ ژبه۔ ژوه =gue ۔ د نړی د هرې ژبې پاې کښې gue راځی۔

(۱) ژبه = gue (پښتو) (۲) Tongue (انګلیسی) (۳) Bhasha : (Bhoya = gue)
(هندی، بنګالی، او غور خولی شوه)
(۴) Lingua : Dinjwa (لاطینی) (۵) Huzwa = zwa = gue (اوستا)
(۶) Jibwa (سنسکرت) (۷) Zuban = Zba (فارسی) z = g
(۸) Glossa (یونانی) Glo = throat Ossa = oza = oja = gue = j = g
اواز، غږ
(۹) ګوجری Gue : jar (۱۰) البانیه = gjuhe = gue
(۱۱) Gothic : tongo = gue
(۱۲) ترش Tonge = gue

پښتو ژبه کښې پرینبودلی شوی څو توری دا دی: تنکه۔ توره، سکه، ترو، سخ، چنی، ارتینه، جمدر، اشر، غوبل، پالکوری، یوم، کته، پیاړمه، تانګ، بتک: توری چې نوی راغلی دی، دا دی: اورلګیت، پوهنتون، ښوونځای، لویدیز، ختیز، توغندی، الوتکه، خپلواک، کړنومی، پسوند، پیشوند، مخنیوی او نور ډیر۔

زمونږ وخت کښې پختو، پشتو او سره ترلی غږونه د کشالې سبب ګرځولے شی چې ناروا کتیه ترلاسه کړی۔ مونږ بره لیک کښې د هر اړخ نه کلکه کړه چې خ۔ش او ښ خنګه وجود کښې راغلل۔ پښتانه بختور دی چې هغوی ربښتیا یوې ګډې سوچه سرچینې څخه راوتی دی۔

مــــونــــږ نـــن صـبــــــا Puxtoon, Pashtoon, Pushtoom.
Pakhtoon, Pukshtoon او Puqtoon لـیـکـو سره مخامخ یو۔ د "ق" پــه حــوالــه وروستی۔ اضــافــه پــه کبنې ما وکړه۔ قطبی ختیزه او سهیلی لویدیزه پښتو کښې د رغوني توپیر په نښت شمیر دے۔

بیـا یـادولـو لره په اینډو آریه کښې تالو اوریز S په غبرګ ژبـیـز اوری تالوئیز Ṣ کښــې د غـږی بدلون نه بغیر (Context free sound change) واوریدو۔

ایـنډو ایرانی S (یـعـنـی ش) پـخـپـله د اینډو اروپائی s نه زیږیدلي وو۔

$$\underset{II}{S} \longrightarrow \underset{II}{S} \longrightarrow \underset{IA}{Ṣ}$$

سبـب ي دا وو چې د غـږی بـدعـت نـه د ژغورنی د پـاره د انـدمال ډول تر لاسه شی۔ د هندی غیر آریه خلکو سره د نزدیولی په سبب داسې وشو۔ غږی بدعت په فطری ژبو کښی سند نه لری۔

کله چې د غسې اوشو نو وریسې اوریزتالوئیزت، ټ، ډ، ړ، را وتـلـل۔ د سنسکرت پخپله اندرونی بدلون هم کار کولو د Ṣ نه وړاندې S موجود وو۔

د ایـنـډواروپائی s او k سـمـدلاســه پــه اینډو ایرانی S کښې د سنسکرت په Ṣ بدلون نه وړاندی شو۔




Ș ⟵ S غږی بدلون څکه راغلو چې دواړه متضاد

وو- (Convert)

تول سالو اوریز په غبرګ ژبیز کنبې واوريدل څکه چې خپل منځی توپیر مخالفت وو پکښې.

د "ښ" د پاره منځنۍ پښتو وینګ غوره اوکره ګڼلې شی. څه التباس نه لری. غږیز توپیرونه ډیرو ژبو کښې شته لکه د جرمنی /Ch/ هم دوې وینګه لری. د منځنی پښتو "ښ" کټ مټ هغې غوندې دے.

مونږ چې د O.I.A او I.I نومونه اخلو او باس دی کوونو په دې سبب چې پښتو سره ې نزدې تړون دے. پښتو کښې "ښ" خپله تنیی پر مختګ دے خو مثالونه ې ګاونډ کښې وو چې زمونږ ارتقا هم خو اوشا په هغه سمی تللې شوه.

بیا وایو چې جرمنی /Ch/ درې وینګه لری او چورلټ د "ښ" غوندې ې وائی.




په دې لیک کښې مونږ د پښتو غږونه په لاندې ډول راوړی دی.

| Pharyngeal ستونیز | Uvular ژب تالوئیز | Post Palatal پوست تالوئیز | Palato alvelar تالوئیز | Retroflex غبرگ ژبیز | Alveolo-palatal اووریز | Alveolar غابنیز | Bi-Labial شونډیز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | k ک | | ṭ ټ | | t ت | ب b+ |
| | | g گ | | ḍ ډ | | d د | پ p- |
| h ه | Y غ | g ږ | z ژ | ẓ ږ | z ز | | v ف<br>p ف |
| | x خ | x̄ ښ | ʃ ش | ṣ ښ | s س | | - |
| | | | j ج | . | j ځ | | + |
| | q ق | | c چ | | c څ | | - |
| | | | ی | r ړ | r ر | | + |
| | | | | | l ل | | - |
| | | | | | | | م m+ |
| | | | | ŋ ڼ | | n ن | - |

د اتکی مونږ پورلي دي: ص۔ض۔ط۔ظ۔ث۔ق۔ف۔ح۔ع۔ء۔ذ

(۱) (۲) دا غږزونه مونږ په قطب ختیز او قطب کښې وئیلی نه شو

دا لیک د خلیل موممند داود زئی، مهمن زئی، مومند، یوسفزئی، سالار، ماموند، اتمان خیل، ترکانی، ترخیر آباده، سیند غاړې ختیک، افریدی، شینواری، صافی، ننگر هاری پښتو رانغاړی۔

پورلی غږونه مونږ د اسې وایو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ص | = | س | ض | = | ز، د |
| ث | = | س | ط | = | ت |
| ح | = | ا | ظ | = | ز، ذ |
| ع | = | ا | ق | = | ك، ښ |
| ء | = | ا | ف | = | پ |

د بدلون ډولونه مونږ پخپله راویستي دي چې د غږ بدلون په لویه پیمانه په کښې لیدلې او پرې پوهیدلې شي او د غه د نړیوال دستور سره په سمون دې. ما د نړیوال دستور I.P.A سره په سمون کړي دي چرته چې زه نه پوهیدم، هغه مې د غسي پرېښودلي دي. کلک پام لرم چې هر غږ په مزغو کښې ځانله کښې ځای لري او د وینا سره په بېلا بېلو لارو Nerve Paths تګ راتګ کوي. نسه به وي چې ژبپوهنه د خپلو تولو اړخونو سره د ادیبانو څخه واخستي شي او ډاکټرانو ته دې وسپارلی شي.

د لیک راغونډولو په خاطر پښتو کښې دا خبرې غور غواړي.

(۱) دا دعوه چې پښتو توری کښې د ننه "ش" ځانله غږ دے.

(۲) دا دعوه چې پښتو کښې د ننه "خ" ځانله غږ دے.

(۳) ۱+۲ دا وئیل چې د بیلتون لرې کولو لره زمونږ پخوانو پوهانو صلا وکړه چې "ش" او "خ" به نه لیکو خو د هغې په ځای به "ښ" لیکو.

د اسې تش تور تصور هم د خند اور دے. آخر ولې ئې د اسې کول؟ څه زور وویری؟ چا ورته وې چې د اسې وکړئ؟ څه

توقې وشتې خو نه دی؟

اختلاف تې زياتولو ؤلې نه؟ يقينا خبره د غه نه ده چې دوه بيل ژبې، بيل ذاته اولسونه پخپله خوښه سره يو شو. نه وينه توې شوه، نه سرونه مات شو، نه اورونه بل شو. د يو غلې اوږد تولنيز تاريخې عمل د اسې نتيجه هم د قياس نه ډيره بيرته ده. حقيقت دا دے چې پښتو کښې "ښ" بذات خود يو غږ دے. زما په ذاتی خيال د غه "ښ" د "ق" ځاۍ نيولو لره راوتے دے. کله چې پښتون "ق" وائی نو د "ښ" غږ راوځی. مونږه خپل "ق" نه لرو. د اسې پښتانه چې د پوهنتون باد پرې لګيدلے نه وی او د عربی پارسی "ق" سره بلد نه وی، کـه هغوی ته په وړومبی ځل "ق" لرونکی توری وړاندې کړے شی نو ثابته به شی چې هغوی تول به د "ښ" غږ راوباسی، نه چې "خ" يا "شين". زمونږ ژبه زمونږ تاريخ دے. ژبپوهان وائی "يو تورے چې د اينډو اروپائی ونې په دوه درې برو څانګو کښې بيل بيل يوشانو الے لری نو ډير کلکه ده چې هغه به د وړاندينۍ ژبې وی".

دا خبره غلطه ده چې پښتو د عربۍ فارسۍ د درونډ اثر نه تيتيه ده. د پښتو ژبې د پيو د پاسه درش څه ډيره پورتنی برخه عربی پارسی ده. نور تول رش او ترې لاندې تول تکی سوچه پښتو ده. د غه سوچه پښتو د اينډو آريائی او اينډو اروپائی ؤنې تولو څانګو سره دومره يوشانو الے لری چې سړے په دې ليک مجبور کړی "پښتو د مزکې په مخ د نړۍ د تولو ژبو ستر ميوزيم

دے (حبيبی صيب)

زه پــه ډيـر ډاده زړه لــيــکــم چــې د غــه ستــر مــيــوزيـم د ټول انسانيت شريکه زيرمه ده۔

# اختر

پښتوکښې اختر ښادۍ، خوشالۍ، خوښۍ ته وايي۔

عام پام کښې اختر په هر يو کال کښې هغه دوه ورځو ته وائي په کومو کښې چې ټول اولس په يو ځای، يوه خلۀ، يوه غونډه د خوښۍ نمانځنه کوي۔ دا يو اسلامي دستور دی۔ په عمومي ډول دا په نړۍ کښې په شريکه ايکې يو ورځ نمانځلی شي۔ نن نه څو لسيزې وړاندې به د ورځو اختلاف څکه وو چې يوتربله د پيوستون لارې چارې لنډې او په نشت شمېر وې۔ نن صبا دا اختلاف د سياسي، ذاتي او مسلکي توپير په سبب دی۔

دغه دوؤ ورځو کښې يو ته وړوکی اختر يا کم اختر وائي او بل ته لوئ اختر وائي۔ وړوکی اختر د اسلامي کال د روژې د مياشت نه پس سمدستي د بلې مياشت په وړومبۍ ورځ وي چې د وړوکي اختر مياشت بللی شي۔ لوئ اختر د اسلامي کال د وروستۍ مياشت په لسمه ورځ وي او د دين اسلام د يو غټ رُکن "حج" په اختتام نمانځلی شي۔ د لوئ اختر په سحر د نمانځۀ نه وروستو خلق د ځاروؤ قرباني ورکوي، غوښې خوري او په خلقو ئې خوروي۔

دواړو اخترونو باندې خلق يو بل ته مبارکي ورکوي، روغې جوړې کوي، يوتر بله غاړه وځي، يو بل کره تګ راتګ تولـه ورځ

کوي، يو تربله خوراکونه وېشي، د خپلو خپلوانو، مشرانو، خوېندو، لونړو تپوسونه کېږي او يو بل ته ډالۍ سره ورکوي. ټول خلق په خصوصي ډول نوې جامې او نوي پېزار اخلي. د کلو وړه زلمي نوي رنګ په رنګ زوندوالې ټوپۍ په دې ورځ په سروي. سترګې تورې کړي او د سر وېښتو باندې تېل او عطرونه پورې کړي، لاسونو کښې رنګين رومالونه ورسره وي، سحر وختي د سحر نمانځۀ لره خلق چې راوځي نو د اختر تياري ئې کړې وي ځکه ئې د سحر چائې پراتې د نور کله نه بدل وي او د وراندې شپې نه ئې تر جامو پېزار هر څۀ تيار ايښي وي. د اختر د ثابت د نمانځۀ سره خلق په جومات کښې دننه يو بل ته داسې ترغاړه وځي چې لوئ امبړ چمبړ جوړ شي. د قربانۍ وغيره نه وروستو خلق د خپلوانو په کورونو ورمات شي. هلته هم ښۀ خوراکونه خوري. کۀ د اختر مبارکي يو بل ته ورنۀ کړي نو ډېرې ګيلې پيدا شي او کله کله خو يو تربله غم ښادۍ باندې هم اثر غورزوي. خلق نورو کلو ته خپلو خپلوانو کره مبارکۍ لره ځي. مشرانو، استاذانو او خانانو لره حجرو ته خصوصًا خلق ورځي او د تېرو غمونو مړو دُعاګانې هم تازه کېږي. کلي کښې او ښاريو کښې ننداري، تماشې او مېلې جوړې وي او خلق ورته ګڼ شمېر کښې ځي. بازارونو کښې رونق وي او هر څۀ ډېر تېر وي. مطلب دا چې اخترونه په لويه اولسي پېمانه په ډېر درناوي نمانځلې شي.

په قرآن پاک کښې د اختر د ورځ د پاره عيد توری راوړی شوی

دی ﴿عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَ آخِرِنَا﴾(المائدہ: ١١٤).

قرآن پاک کښې د عید توری د اختر د پاره راغي.

اختر توری قرآن پاک کښې څو ځایه راغلی دی لکه:

﴿وَانَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحَى﴾ (طٰه: ١٣)

﴿وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِيْنَ﴾ (الدُّخان:٣٢)

دلته د اختر معنی ده خوښول، یعني دلته ئي هم معنی خوښي ده، خوښول ده خو د خوښۍ د دستور د پاره نه بلکې هسې خوښي.

دلته زمونږ خبره حل شوه چې پښتو دا تکی د عربۍ څخه نۀ دی اخستی. کۀ د عربۍ څخه ئې اخستی وی نو پکار ووچې د "عید" توری ئې اخستی وی. اختر داسې توری دی چې پښتو ژبه کښې د وړاندې نه موجود وۀ او پښتون اولس به دا د خپل اولسي خاص دستور نمانځلو لره استعمالؤلو.

اختر فارسۍ کښې ستوري ته وائي. پخواني پارسیان چې مجوس هم بللی شي، د فلکیاتو پوهنه کښې وړاندې وو. زما په نزد د پښتو اختر د مجوسیانو د "سَدې" سره تړون لري. د مجوسیانو یا زرتشتي پارسیانو یو ډېر عام اولسي مذهبي رسم "سَده" وه چې هر کال به کېدلو. دا لکه د هندوانو دیوالي وه. امام غزالي وائي چې سَده تېکی په ژبه اخستل هم کفر دی. معلومېږي چې د غزالي تر وخته د پارسیانو اثر لا ډېر زیات پاتې وۀ ځکه ئې هغۀ ته مخالفت

ضرورت پېښ شو۔

دکمال خبره ده چې سَده دَ پښتو ژبې يو ډېر عام تکی او ډېر عام خپور وور دستور دی۔

دَ ودونو، کوېژدنو، سنتونو په موقعه يو بل ته دعوت يا بلنه ورکؤل سده بللی شي، هم دغه ئې تلفّظ دی۔

کله چې سَده کښې "د" په "ت" بدل شي نو "سَت" ترې جوړ شي۔ "سَت" يوې بلنې يا دعوت ته وائي۔ "سَت" دَ "سَده" لازمي جز دی۔ چاته چې ست نۀ وي شوی هغه "سَده" کښې ګډون نۀ کوي۔

- ★ بې سَته مېلمه
- ★ دَ ستر ګو ست
- ★ په دروغه ست
- ★ مونږ ځکه نۀ وو تلي چې سَت ئې راته نۀ وو کړی۔
- ★ څوک چې چاته سَت ونۀ کړي نو هغه بل ورته انتقامًا سَت نۀ کوي، بدل ترې اخلي۔ چاته سَت نۀ کؤل سپکاوی او بې عزتي ګڼلی شي۔

په سَده نمانځنه به هم داسې پېښې راتللې چې يو بل ته دَ ګډون نۀ وېنا به بې عزتي وه۔

دَ پښتو، پارسی، عربی، توري چې هندوستاني ژبو ته اؤړي راؤړي نو "س" په "هـ" او "هـ" په "ا" بدلون خوري۔

سندهـ = هند

سبت = هفت (ب = ف یا پ)

(ف = پ = و ، لکه هفت اووۀ)

دغسې کۀ مونږ سده توری څېړو نو دي به دَ "هده = اده" شکل اخستی وی۔ آخري "ه" حذف شوه او دَ "الف" لاندې زوَر په زبر بدل شو نو "اید" او "ا = ع" نو عید ترې جوړ شو۔ مطلب دا شو چې عید دَ سَده نه معرب شو۔

دا تاریخي رښتیا دي چې هندوان او دَ هندوستان خلق عموماً چاته سَت نۀ کوي ځکه چې هندوانو سَده نۀ منله۔ دَ هغوي ځانله رسمونه وو۔ لکه دیوالي، وُلې دَ "سَتي" دَ رسم موجودګي ئې دَ زرتشتوسره څۀ ناڅۀ تړون خامخا څرګندوي۔

چې بې ستـه مېلمـه کېږي هغـه زۀ یم

کـۀ اشـنـا مـې دَ هـنـدو غونډې سـت نـۀ زده

خوشحال دَ هند څخه دَ پښتون تاریخي امتیاز ته ګوته نیسي:

هســې دَ ښـکـلـو پــه دیـدن خـوښ یـم

لــکــه پــه خـوارو بــانـدې اختـر راشـې

اختر یعني عامه ښادي راتلل چې تولنې به خپل تول غرې ښادؤل۔

څۀ غم دَ نعمتونو چې اختر راغی درویشه

پـه طمـع پـه امېد اوسـه دَ هرغني لـه وېشـه

دلته هم کۀ په ژور نظر څېر شي نو اختر هغه توری دی چې دَ عید دَ پاره دَ سَده متبادل شوی دی۔

نــهٔ مــې زکوٰة شتــه نــهٔ ســرسـايــه لــرم

نــهٔ مــې اختــر شتــه نــهٔ مــې قــربــان دی

خـوشحال دلته خپل معاشي احوال ښائي۔ ضروري نهٔ وه چې هغـهٔ دَ اختر نوم اخستـی وی، ولـې معلومېږي چې دَ اختر دَ پاره نور خلق پـه ښـادۍ کښې شريکوٌل هم دَ دغه دستور برخه وه۔ دغسې ئې سَده سره تړون جوتېږي۔

سَـده او اختـر په پښتونخوا کښې دَ ژبې په لحاظ ترننه موجود دی، عـام مـوجـود دی۔ مـعـنـی او مـطـلـب ئې هم يو دی نو دَ عربۍ دَ "خـوښـې" سره نـزدېوالـی ئې زمونږ دَ دريزمرسته کوي چې دا توری زمونږ دَ پښتونخوا نه لوېديز اړخ ته ډېر پخوا تللی دی۔

کهٔ چرې عيد دَ ميعاد سره وګڼو نو مطلب به ئې يوه ټاکلې ورځ وي۔ سده دَ پښتونخوا دَ ډېروکلوپه نومونوکې هم راځې۔

۱ : چارسده

دا دَ اشنغر نوم ګټلی کلی دی "په ښکلاوتي" يا "پشکلاوتي" ورته هم وايي دلته خلق ډېر ښکلي وو۔ اوس هم هغسې ښکلي دي۔ دلتـه بـه څلـور سـدې نمانځلی شوې۔ ښکاري چې دا سيمه دَ آتش پرستود ډېر اثرلاندې وه۔

دَ دوي اوسـنـي نـومـونـه هم "دَ اور بندګی" ياد تازه کوي لکه اسفـنـديـار، پروين، سهراب او نور۔ دَ بلخ مشهوره آتش کده هم په دې خاؤره د "اوربندو" دليل دی۔

ځینې تاریخیان وائي چې پښتانهٔ په درې مذهبه وېش وو۔ یوه برخه ئې بودیان، بله هندوان او بله مجوسیان وو۔

کله چې مونږ ومنله چې ست، سده دَ پښتنو او پښتو سره ډېر ژور تړون لري نو مونږ او منله چې هم دغه اصلي مجوسیان وو۔ هم دغه دَ پښتونخوا لرغوني اوسېدونکي وو۔ دَ سیمې ورومبۍ ژبه هم پښتو وه۔

۲: پیر سده.

تخت بائي سره نزدې یو کلی دی چې اهم محل وقوع لري۔

۳: نې سده = نې ستـه

لکه مونږ وینو چې "د" په "ت" بدلېږي

دا کلی

۴: سده باجوړ کښې یو کلی دی

۵: سده په کُرمه کښې ډېر اهم ځائ دی۔

٦: سده تېمرګرې سره نزدې دَ غر په لمن کښې یو ښکلی کلی دی۔

۷: سودم: سدوم

رُستم سودم دَ یوسفزیو یوه غټه تپه ده۔ دخوشحال خان خټک سخرګنې دلته وه۔ حمزه خان او جمال خان دَ دغه ځائ سرداران وو۔ جمال ګړهې کلی او حمزه خان کلی او ګدر حمزه خان اوس هم

مردان ضلع کښې مشهور کلی دی۔

سودم، پيرسده، چارسده دَ غرونو نه ډېخوا دي۔ اورنوس، بريکوټ او مساګا او سده ترې اَخوا دي۔ دا ټوله سيمه دَ زرتشت په دين وو۔ دَ امبېلی اومالاکنډ دَ غټې دېوال دواړه اړخ ته مجوس وو۔






که لوستونکي دا نقشه ښه وګیري نو پوهه به شي چې دا د سطنتِ دارائے اعظم پوه کلکه پخه قلا وه۔ سکندر څکه دلته ډېر وخت لره ډېر زیات خلک ووژ۔ قبدیانو لره ې په مرۍ چاړۀ راښکه۔ څناور بې هم وسېزل او سالمې ودانۍ ته بې اور ورته کړو۔ د چنګېز او انګرېز غوندې سکندر دومره قتل عام وکړو چې څۀ لږ کسان په غرونو،غارونو څنګلونو کې تر عمرونو پټ شو۔ د یوناني باختري ټولوا که ظالمانو دا پاچائي دوه سوه کلونه جاري وه خو ډېر زر سلیو کس هندي چندراګپتا ته د خپلې لور سره داسیمه په داج کې ورکړه۔ داشوکا راتګ سره ددې سیمې خلک هسې هم د Monks نه بتر وو وږو تږو بربندو بودائي کشکول داشوکا نه واخستلو بودائي دین دلته زرغون شو۔ د آتش پرستۍ نمر ترتلۀ پریوتو دا پښنه د سنکدر یرغلګر په ۳۳۱ ق م کې وه۔ د "اشیماني" دور دا زرغونه سیمه په ۵۵۰ ق۔م کې د سائرس سره جوړه شوې وه دا پښتانۀ وو۔ پښتو ژبه ئې وئیلـه لکـه د سنده، ست ، چارسده ،نیسده، پیرسدو، سودم زمونږ ژوندي توري دي۔ اور نوس، اورا، مساګا او ایګوند هم د اور ربنه لري۔ دغه پښتنو به په دا سیمه د ۵۵۰ ق۔م نه وړاندې څومره وخت تېر کړې وي او د خپل مدنیت په رونبانتیا باندې به ئې څومره ښېرۍ اخستې وي۔ لوستونکي ئې په خپله اټکل کولې شي۔ رِګ ویدا د ۶۰۰ نه ۱۵۰۰ ق۔م وخت لري ۔ اوستا هم خوا وشا ا۱۵۰۰ ق۔م نېټه لري۔ زرتشت هم دلته څرګند شوی وو دا د هغوي یو دیني مملکت وو

که دغه بره کلونه د ۳۳۱ او ۵۵۰ ق۔ م تاریخي حقیقت وي نو پښتو ژبه او پښتون قام هم ورسره سم دغلته موجود وو۔ باجوړ سره نزدې کونړ او اخوا! ترې بدخشان پروت دی۔ د بدخشان نه بلخ ډېر هورته نه دی۔ د ستر بریالي سکندر بتره کارنامه ارمان دا دی چې یو پښتون یاغېر پښتون مورخ هم دغه ریاست، دغه ژوندي نومونو او ددغه ظلم و بربریت انجام کې د بودائي دین نال ته پام ګرځولی نه دی۔ د ستر پښتون غتېه بد مرغي۔

★★★

## ارض : EARTH

وړومبی توری عربي دی۔ قرآن پاک کښې ډېر راغلی دی۔

دویم توری انګریزي دی۔

پښتو کښې ارت پـه معنٰی دَ خپور وور، وسیع راځي۔ ارت بېرت یا ارته ببرته هم دغه معنٰی لري۔ کهٔ غوړ وشي نو دابه داسې وي لکه ارته، بې ارته ، هغه څهٔ یا هغه چاته وائي چې ارت نهٔ لري۔ ارت نهٔ لرونکي بې ارته شو۔ ورته هم داسې ټکی دی۔ دَ دغه سره سره مونږ دَ قرآن پاک یو توری حرث خېږو۔

﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ﴾

(البقره:۲۲۳)

﴿وَ يُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ﴾ (البقره:۲۰۵)

نو حرث شو مساوي دَ ارت

لـکـه مونږ راروانو پانو کښې ثاقب = تیکاو= th-e.kao کښې ث = تې =th اوداسې نور ټکي راوړي دي نودلته هم حرث = ارت شو او ارت = ارتهـ شو۔ دغه ارتهـ Earth شو۔

دَ حرث معنی پټی دی او پټي ته مونږ مزکه هم وایو۔ دا زمونږ مـزکــه ده، دازمـونـږ پټـی دی نـومزکـه او پټی حرث شو او هغـه ارض Earth او ارت شو۔

(Arabic) ارض ← ارت (پښتو)

↑ ↓

(Arabic) حرث Earth (انګرېزي)

ارت هغه ځائ وۀ چرته چې آریه وسېدل۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| هیلمند | = ایرمن | هرات | = ایرات |
| بونېر | = بون ار | مانېرې | = مان ار |
| کړمار | = کرم ار یاکرماغر | دمغار | = د مغ ایر (مغ تکرغوارې) |
| کونړ | = کون ار | | |

"ار"معنی دَ اصیل لري۔ پښتو هم اصیل معنی لري۔

حـبیبي صـېب لیکي چې بره توریوکښې دَ "ار" ریښـه آریه ته رجـوع لـري۔ دَ آریـه ټاټوبي ته "اریه ورته" وئـیلی شي۔ دغه آریه ورته په "آریه ارتهـ" او وروستو "اریه ارض" یعني "دَ آریه وطن" کښې بدل شو۔

"اریـه ورته" ځینو په "اریه ورشو" بللې ده۔ "ورشو" د څرځای

معنی ورکوي چې هغه هم پټی يا ارض وي۔ مونږ وئيلی شو چې ارض هم دَ پښتو دَ ارت نه اخستی شوی دی۔

ځينې دَ آريه اصلي ټاټوبي ته "آريه وېجه" وائي۔ که وېجه دَ "جه" ريښه لري خو پرې دَ پاسه چې کله آريه وېجه په لنډ ډۆل اووئيلی شي نو ارض ترې جوړېږي لکه "ج، ه" په "ض" راواوړي او "ه" حذف شي۔

آري يو ډېر نوم ګټلی قام وو۔ ارض آريه يا آريه ارض هم ټوله دنيا کښې پېژندی شوه نو هرې ژبې ته دغه ټکی لاړلو چې اصل کښې ارت، ورته، ورشو، وېجو دی او دغه اصل دَ پښتو ژبې دی۔

"ارته، ببرته، ورته، چرته، ارته چينګه، ارته ويته" داسې توري دي چې ترېنه اړخ، لوری، جانب، طرف برېښي او دغه معنې ئې دَ هېواد، وطن سره نژدېوالی څرګندوي۔

★★★

## اګۍ EGG

دَ پښتو ژبې دا يو توری دومره عجيبه دی چې بين الاقوامي درجه ئې موندلې ده۔ اګۍ يو اړخ ته دَ خوړلو دَ موندنې ډېر په اسانه لاس ته راتلونکې ذريعه وه بل خوا دا دَ توليد او دَ خوړنې دَ شيانو دَ ډېرۆلو ذريعه وه۔ بنيادم ته ئې قدر دَ لرغون نه ښکاره وو۔

اګۍ اسم تصغير دی اصل به ئې "اګ" يا صرف "اَ" وي۔

★ انګرېزی کښې ورته "Egg" وائي

★ فارسی کښې "هاګ" بللی شي

★ اوستا کښې "AHIGA" یادېږي

مونږ لاندې یوه سلسله جوړوؤ چې دَ دې توري نریوالـه خپلوي ښکاره کوي۔

اګی

۱۔ هاګی

۲۔ هایه: (خایه هم ورته وائي "خویه" خوټه هم بللی شي)

مردرا کیر و خایه باید و بس (سعدی)

۳۔ ها: (متل دی "یوه ها وه هغه هم سخاوه")

۔ په وجود کښې لکه ها له وینښتو خلاصه

(خوشحال)

هندوستانیان چې څۀ ته هانډي وائي دا دَ "ها" څخه اخستی شوی دی۔ په ډېره اسانه لاس ته راتلونکی ښۀ خوراک هم دغه وو۔ هم دغه هانډي په انډه بدله شوه۔

۳ : ها ← انډه ← هانډي ← انډیوال

پرې مې سلام دی جرګې چې پنډې شي
زړۀ مې هورې وي هوري چې هنډې شي
(خوشحال)

۴۔ هویه:

چې مکان ئې ناپیدانښان ئې نشته
څوک به څۀ غواړي دَ سپینو بازو ویه

(خوشحال)

په شعر کښې به ئې غږ ها= هویه= ویه وي، نور نۀ شي کېدی۔

تالی چرګه نرښځی دی په دیدن کښې
لوئ چارخویل لکه دچرګ په هویو کړنګه

(خوشحال)

**۵۔ بِیه:**

**۵۔ هووا:**

مونږ چې بیبیه یا وي یه څېړو نو بیه نه بیج او بیج نه بیجه جوړیږي۔ "ې" په "ج" بدلیږي لکه "یروشلم = جیروسلم، جوګ = یوګ، جغ= Yoke " دپښتو مشهور توری پجه دَ بیج او بیجه مأخذ دی۔ بیج تخم ته وائي، بېجه مزغو ته وائي۔

دچرګې پجه هغه اندام ته وائي چرته چې اګی جوړیږي۔ دغلته اګی دَ وړو وړو دانو پشان وي چې په وار وار غټیږي او دَ غټېدو سره ښکته راځي تر دې چې بهر راشي۔ بنیادمو کښې هم پجه وي چې یوه یوه هر اړخ ته وي۔ هر ځناور او هر ژوندی څیز پجه لري۔ ژوندي شیانو کښې برتې هم راځي۔ دَ لوښو پجه هم وي۔

دَ اګیوال سره تیوکرۍ کښې دَ ډېرو اګو مجموعې ته پجه وائي۔ کله کله دغه تیوکرۍ ته هم پجه وائي۔

:OVARY _۷

په بنیادم اوځناور کښې دَ اګو دغه پجې ته Ovary وائي چې د هووا ربښه پکښې ډېره ښکاره ده۔ يوې اګۍ ته Ovum او ډېرو ته ova وئيلی شي پجه پخپله دَ بيضه مأخذ دی چې ببخي جوته ده۔ بيه يا ويه هم دَ بيضه مأخذ دی۔ پجې ته ovary وائي۔

۸۔ بيضه:

بيضه عربۍ کښې اګۍ ته وائي۔

﴿كَاَنَّهُنَّ بَيۡضٌ مَّكۡنُوۡنٌ﴾ (الصّٰفّٰت: ۴۹)

بيضه په حواله سپين رنګ بيضا بللی شي۔ ابيض هم دغسې دی۔

﴿فَاِذَا هِىَ بَيۡضَآءُ لِلنّٰظِرِيۡنَ﴾ (الاعراف: ۱۰۸)

کامل صبب دَ بيضامعنی نمر کښلې ده۔

۹ : بيضوي شکل ته oval وائي چې ova پکښې څرګنده ده۔

Oval home is similar

| | |
|---|---|
| انګريزي | Egg |
| فارسي | Hawg |
| اوستا | AHIGA |
| پښتو | اګۍ، هاګۍ |
| هندي | (Indian) هانډې، انډه |
| ها: هايه | انډيوال۔ ملګری |

ova(Latin)

هویه: خایه بیجه،بیج (هندوستاني)

ویه

بیه بېضه (Arabic)

Ovary(Latin)

پجه (ب= پ او ي = ج)

اګې د دنیاپه اووهٔ ژبو کښې

(Egg=Agai in seven languages of the world)

★★★

## اُر UR

دا دَ ابراهیم علیه السلام دَ زېږون ځائ وو۔ دا یو ښار وو چرته چې دَ نارِنمرود پښته شوې وه۔ ur دَ کلدیانو ښار وهٔ۔ UR په پښتو ژبه کښې اور ته وائي۔

ممکنه ده چې دا وُر وي لکه وُر کلی، بر کلی، لر کلی، هورې کلی، ورې کلی، پښتو کښې داسې عام نومونه دي نوی کلی، بار کلی، کوز کلی۔

دَ نمرود با چائي په بابل، ایرچ،اکاد او کلنه کښې شروع شوه۔ وائي چې بابل دَ مزکې په مخ وړومبی ښار وهٔ۔ دغلته دَ بنیادمو ژبه یوه وه۔ ټولو بنیادمو یوه ژبه لرله، داسې ممکنه نهٔ ده۔

په اُر کښې آتش پرستي او بُت پرستي دواړه جاري وو۔ دغلته

داسې خلق هم وو چې دَ فلکياتو لکه نمر، سپوږمۍ، ستورو ماهران وو۔

اوري، سُوري، سُور، سُورج دَ نمر معنٰی لري۔

سورج = سُور + آک

دَ نمر رب النوع سُوره بللی شو۔ سُوره يا اُوره دَ UR ريښه لري۔ سُور، سُوري، سُورياني يوه پښتو کلمه ده۔

مونږ کۀ دَ UR يا اور تړون عربۍ سره راولو نو داسې کېږي:

سعير يوعربي توری دی۔ دَ غږونو دَ بدلون دَ لار مطابق سعير مساوي راځي دَ "اعير"۔ چونکې "الف" او "عين" او "يا" يو شان نزدې اواز لري (vowels) واول دي نو ار ترې جوړ شو۔ عذاب السعير، اصحٰب السعير او دغه شان الفاظ قرآن پاک کښې ډېر راځي چرته چې سعير دَ دوزخ معنٰی لري۔ (القرآن ١٢ پاره)

ټائن بي ليکي چې: "سوميريان، اور اوروک، اريدو، دولس زره کلونه وړاندې دَ "اورسي" نه "بين النهرين" ته تللي وو۔ دا خلق عرب نۀ وو۔ ژبه ئې سنسکرت ته نزدې وه"۔

پښتو کښې اور اورکی، اورېښتی، اوربلکی دغه معنٰی کښې راځي۔ مطلب دا چې دَ ابراهيمؑ دَ UR مطلب هم دَ پښتو اور دی۔ دَ ابراهيمؑ د قام دَ فلکياتو مهارت دَ هغه پېښې نه معلومېږي چې هغې کښې دَ خليل عليه السلام دَ نمر، سپوږمۍ او ستورو مطالعې ته قرآن پاک کښې اشاره شوې ده او هغه آيت کښې هم صفا ده چې مونږ

ابراهیمؑ ته دَ ﴿مَلَکُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ یو هنه ورکړه. کۀ چرې دا رښتیا وي چې بابل کښې دَ ټولو بنیادمو ژبه یوه وه او دغه په مزکه دَ بنیادمو وړومبی ښار وۀ نو مونږ وئیلی شو چې ښار هله جوړیږي چې دَ ارخونو خلق ورته راشي. اطراف وړاندې آبادیږي، ښار وروستو وي، دَ بابل نه دېخوا کابل، زابل وو چرته چې پښتانۀ دَ پښتو ژبې سره وسېدل.

دَ Genesis لیک کښې په دې حقله تسلسل نشته. معلومه نۀ ده چې کوم نمرود، دَ بابل نینوا باچا یادیږي هغه هم دغه سړی دی اوکۀ دَ دوؤ کسانو بیله بیله پېښه ده ـ بابل دَ vowel او "وئیل" سره سمی خوري. ور کلی. بر کلی، لرکلی، نوی کلی، زوړ کلی، وریاکلی، وړې کلی زمونږ دَ پښتو انداز دی. نینوا نوی نوزی کلی.

اورکزئی او اورمړ کښې دَ UR او URUK ریښې زمونږ وړاندې دي. دا دَ سومیریانو لوئ کلي وو. پښتو سره تړون ئې سوال دی.

★★★

<u>اشر</u>

دا زمونږ دَ پښتو ژبې یو ډېر عام توری دی. ټولنه کښې دَ بدلون سره دا ټکی ډېر متاثر شوی دی خو دا دَ ژبې یوه برخه ګرځېدلې ده.

پـه ګډه، شریکه، یو بل سره بې اُجرته کار کؤلو ته اشر وائي. دا

عمومًا په بدل کېږي خو ضروري نهٔ ده چې بدل کښې ئې اشر ته ورشي بلکې دَ هغې په ځائ څهٔ بله مرسته یا نېکي هم کېدی شي. دَ فصل رېبلو وخت کښې چې دَ نمر تاؤ غنم خرابوي، د باد باران وېره وي، دَ غوبل وخت کښې دَ کار دَ زیاتي په وجه یا بل څهٔ مصروفیت په وجه دَ کار زر ختمؤلو لره دَ زلمیو یوې ګنې ته بلنه ورکړی شي چې په فلانی ورځ به مونږ سره اشر لره ځئ. زمونږ اشر ګندی به وي. یوه شپه یا مخکښې خبر ضروري وي. لس شل کم و زیات زلمي سحر وختي په متعلقه کار په یو ځائ لاس پورې کړي اوتر نماسپښینه یا نمازدیګره ئې هغه کار سرته رسؤلی وي. په دې دستور کښې دَ غړو شمېر هر څو مره کېدی شي. ضروري خبره نهٔ ده چې لس تنه به وي. لؤ لره اشر غوښتی شي، غوبل لره اشر غوښتی شي، دَ پټي یوې کؤلو او کر، نال لره اشر غوښتی شي. لختي کنستلو لره، دَ کوتې دېوالونو جوړؤلو، تپؤلو لره اشر غوښتی شي.

اشر ګوندوته خصوصي خوراک څښاک ورکؤلی کېږي. چې اشر سره دَ ګوندي تکی یو ځائ شي نو مطلب ئې واضحه شي چې دغه تن دَ هغه ډلې غړی وۀ. اشرګنی او اشرګندی او اشرګوندی یو تکی دی. (اشر دربانديې واچؤم، اشر درله راغوارم، هغه خو اشری ده، دا زمونږ ژبه کښې عام راځي).

عربی کښې او قرآن پاک کښې عشر دَ لسو معنی کښې راځي.

﴿تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ﴾ (البقره: ١٩٦)

﴿وَاَتمَمنَاهابِعَشرٍ﴾ (الاعراف: ٤٨)

لس به ملهٔ سره ونهٔ وینې په ننګ کښې
کهٔ درست ملک سره پره کړې تر تورسنګه

(خوشحال)

دَ تورسنګ مطلب کوهِ سیاه ضلع هزاره ده۔ تور غر هم نومېږي۔ نن سبا دغه سیمه ضلع تور غر او ډویژن اباسین ونوملی شو۔ تورسنګ ئې سُوچه نوم دی، مرئي توب مونږ نه نومونه وشوکؤل۔

عُشر دَ بنیادم خپله کلیزه ګټه کښې اسلامي حکومت ته یوه خاص برخه ورکؤل وي۔ دَ عربی دَ احد تجزیه ښاغلي غوریاخېل کړې، هلته ئې وګورئ:

عشر یوه پېمانه ده۔ دَ پېمانې په مطلب دا دَ لس دَ هندسې په ځائ په ډیکاګرام، ډېسي ګرام، ډېسي میټر، ډیکامټر کښې راځي۔ دغه ډیکا، ډېسي دَ "دس" یا لس نه وَتي دي۔ دې څخه علاوه مونږ دَ لس ګون، لس ګوند، شلګون، سلګونه، زرګونه تېکي شمېر کښې راولو دغسې برغون یا غبرګون دی۔ خو ګونه۔۔۔ معلومېږي چې چند ګنا، دوګنا، تګنا، چوګنا، پنج ګنا هم دَ دې نه اخستی شوي دي خو مونږ دَ عشر او ګوندي نه سترګې پټؤلی نهٔ شو۔ کېدی شي دواړه یو بنیاد لري۔

يقين سره وئيلی شو چې دَ ګاونډي ټکی دَ ګوندي او دغسې دَ ''جُند'' سره تړون لري۔ دَ کنډک توری هم دغسې دَ ګوندک ترکيب لري۔ کنډک دَ ګډو بيزو يا نورو څاروؤ يوې غونډې يامجموعې ته وائي۔ رَمه هم ورته وائي۔

Lasa (Pushtu) → Dasa (Avesta & Indian) → Deca (Old Persian & European)

Lasa (Pushtu)
↓
Ashar (Arabic)
↓
Asharghoondi (Pushtu)
↓

| | | |
|---|---|---|
| Ghond: | Circular: Pushtu | |
| Ghond: | Collection: Group: Pushtu | → Gonado (Spanish) / Gondak / Kandak (Herd, Pushtu) |
| Jund: | Army (Arabic) | |
| Gondi: | Fellow | |
| Gond: | Party | |

★ دَ ګوندک = کنډک په حواله هسپانوي ټکی Gonado دی۔

★ دَ بنيادم دَ ټولنيز حېث پته به ئې دَ څاروؤ سره لګېده۔

★ لرغونی پهلوی کښې ورته ''ډيکا'' وائي۔

★ اوستا کښې ورته ''دسه'' وائي۔

★ يورپي ژبو کښې ''ډيکا'' توری عام دی۔

دَ لسو هندسه دَ بنيادم دَ ګوتو دَ شمېر نه اخستی شوې ده او دَ يو هندسه دَ ګوتې دَ نېغ شکل نه۔

★★★

## اوبهٔ (oobeah) :

داتکی پښتونخواکښې ډېر عام دی۔ اوبهٔ په توله نړی کښې ډېرې او عام دي۔ دا د بنیادم د ژوندون د پاره لازمي څیز دی۔ اوبهٔ د لرغون څخه تر ننه د بنیادم ارتقاء کښې ډېر لوئ کردار لري۔ دا د هرې ژبې څېړنه کښې ډېر جوت توری دی۔

- ★ آب ورته ایراني وائي
- ★ وُب او وُبر = بحر

د اوبو روانګی ته بهیر وائي۔ وُب بهیر = بحیرة چې د عربی توری دی۔ د قرآن پاک توری "اکواب" د اوبو ریښه لري۔ صحیح بخاري کتاب التفسیر د اکواب معنی لیکي "داسې کوزې چې سُوخرې نهٔ لري چې د هرې غاړې ئې څښکی شي"۔

د قرآن پاک توری "ینبوعا" کښې د اوبو ریښه موجوده ده۔ ینبوع معنی چینه لري۔

د قرآن پاک توری "وابل" د اوبو ریښه لري معنی ئې عکرمهٔ د زوره ور باران کوي (بخاري کتاب التفسیر)۔

- ★ جبه : جوئ آب د عربی ایراني توری دی
- ★ نم : نو : ناب : نو آب

پښتو کښې د وُب ریښه لرونکي د څو ځایونو او کلیو نومونه داسې دي۔

- ★ صوابی : سوئ آب: د اباسین په غاړه د یوسفزیو یوه لویه

درنه سيمه ده۔

- ★ زروبۍ : زر+ اوبۀ يا زر = جړ : دا هم د صوابۍ په سيمه يو کلی دی۔
- ★ سروبۍ : سر + اوبۀ يا سره + اوبۀ، دَ امبېلې په خلۀ کښې يو کلی دی۔ سروبۍ افغان کښې د سيند په غاړه يو ځائ دی۔
- ★ څڅوبۍ: څاڅي اوبۀ
- ★ يعقوبي : (ياکوبي: يخ وبي/ يخې اوبۀ۔ ورسره نژدې سړه چينه ده)
- ★ تخت بۍ : تخت بائي
- ★ جلبۍ : جل + اوبۀ، جل په معنی د ځائ ياڅلند يا تړي، چې چرته اوبۀ لړې وي)
- ★ سواړۍ : بونېر کښې يوه وړه بناريه ده۔
- ★ دو واوه : دوآبه، د داؤدزيو پښتنو سيمه ده۔
- ★ سُرکاوۍ
- ★ سُرخابۍ
- ★ سړوبۍ
- ★ خړوبه : خړوبؤل۔ او خړوب زمونږ دَ ژبې عام ټکی دی۔
- ★ ترناؤ: په دې نوم بې شمېره کلي دي۔
- ★ ګنداؤ: مشهور ځائ دی چرته چې ايمل خان مومند مغل فوجونه تباه کړي وو۔

★ ارغنداو

★ کوبها : ښۀ اوبۀ، ښکلې اوبۀ۔ دَ کابل سيند زوړ نوم دی۔

★ کُوبامعنیٰ دکوکو : کوب : خوب

پښتوکښې کوکو ښکلي ته او ښو ته وائي۔ کوکو اصل کښې "ښۀ وو ښۀ وو" دی۔ دغسې کهوبا اصل کښې "ښۀ وو بۀ" "کوکو اوبۀ" دی۔ ځينې کوړ پامه دغه سيند دَ چترال دَ نوم سره تړي۔ هرکله چې دَ دغه سيند نوم پينځۀ زره کلونه وړاندې هم دَ کابل سيند وۀ۔

دَ کابل دَ ښار نوم شننه هم مونږ دَ ښو اوبو په نسبت کړلی شو۔ هغه ښار چې دَ ښو اوبو په غاړه وۀ يا هغه کلی چې دَ ښو خوږو اوبو په غاړه وۀ۔ کوفين = کوکو + پاني (اوبۀ)۔

دَ زابل شننه به بيا داسې وي چې چرته اوبۀ خوږې نۀ وي، تروې، ترخې وي۔ "زا" مونږ په زيم، سبب، زه، بدلولی شو۔ په هرحال زۀ "کابل = کلی بل" او "زابل = ځائ بل" ته ترجيح ورکوم۔

دَ مالم جبه سره مونږ دا لاندې ټکې څېړلی شو۔

★ کالام = کاله + وام (ووم)

★ کېدام = کېد + وام (ووم)

★ بشام = بهيس + وام (ووم)

★ مالم = مل + وام (ووم)

دَ "وام" توری دَ کلي معنٰی کښې په ټوله پښتونخواکښې ژوندی دی۔

"دځايونو نومونه د يوې ژبې د قدامت پانګه دليلونه دي. دا زمونږ د ژبې د تاريخي اصالت ټينګ اسناد دي" (حبيبي صېب)

- ★ کوبا = ګوبا= جُوبه = جبه
- ★ اباسين = اوب سين = ocean = اوقيانوس = اوشنوز
- ★ سېب = سياه آب = سيم
- ★ جبه = جائ آب

باړه کښې "با" د اوبو ريښه ده. د پېښور نوم "بره شاباړه" نه اخستې شوی دی. رګ ويد کښې اوبو ته APAS وائي چې P "ب" شي نو اوبۀ ترې جوړې شي. رګ ويد په A .ا ژبه کښې دی. اوستا سره ډېر جوړښت دی.

- ★ ترخوبه: کامل صېب ليکي چې ترخوبه د آتي خېلو وزيرو په حد کښې د يو کلي نوم دی.

نور شراب ورته اوبۀ د ترخوبې دي

(خوشحال)

- ★ تارو جبه = تر،جبه د پېښور نه ښکته په لويه لار يو کلی دی.
- ★ مالم جبه = معلم جبه يا معلومه جبه يا ماء لم جبه

مال وږم = معنی کلی

- ★ زوه = زهوب = وينه زوه = pus
- ★ چينه = چناب ، چينه + آب
- ★ جړوبی = عبدالستار عارف خټک د پښتو ښکلی شاعر د دې

کلي وو۔

★ دوبیان

★ یعقوبي = یخ +اوبهٔ

★ سبلاؤ = سېلاب

★ باریکاؤ = باریکاب = باریک آب

★ خوشاب

ـ تر خوشابه پورې ملک کړه شنه ډوزه

(خوشحال)

★ موب کلی

★ ګړیاله = غرویاله ۔ (ګړه +ویاله)

ویاله ته اوستاکښې vana وائي وېنې ئې پښتو ده۔

★ جهلم = ګِل + یم ، "ګِـل" په معنٰی دَ ختېه او "یم" په معنٰی دَ سېلاب۔

★ راوي : د پښتو ژبې روي دی RAWAY

★ بیـاس : دلتـه "بیـا" دَ اوبـو ربنـه ده۔ بهېدل، بئېدل۔ "س" دَ سینـد لنډیز دی او دَ "س" = سیـن یـعني "س" دَ سیند ربنـه ده۔

★ ستلج: ستوی لړ، چې ستوې دَ توې ربنـه ده۔

★ چناب : چینه +آب ، ټانکوائي : کهٔ تهنډه کوهي وران وي خو بیا هم "وائي" دَ اوبو ربنـه ده۔

داځۀ سيندونه دَ اوسنی پښتونخوا نه بهر دي ولې دامطلب ئې دی چې پښتانۀ دَ خپل ټاټوبي نه ختيز ته وخوځېدل او دَ ځان سره ئې خپله خوږه ژبه پښتو يوړله او هم دغه ژبه کښې ئې هغلته په هرځۀ نومونه کښېښودل۔ کۀ ختيز ته په پنجاب او نور هند ورختلي دي او کۀ لوېديز ته په عربستان مينځنی آسيا او وړاندې په اروپا ورغلي دي۔ دَ اوبو ټکی ئې ځان سره وړی دی او دغسې دَ اباسينْ نه ocean اوقيانوس په يورپي او عربي ژبو کښې ورننوتی دی۔

بنګالي ژبه کښې اوبو ته جُول= جاوُل وائي۔ غالبًا هندي هم دغه توری لري۔ په جُول = جاوُل کښې دَ اوبو رېښه موندل ګران نۀ دي۔

★ جوُ= جوې = جوئ آب = جبه، بنوروا ته هم جاوُل وائي۔

بنګال او قطبي هند دَ پښتون قام دَ زبردست فشار لاندې ځۀ خواؤشا يو زرکلونه زمونږ دَ سترګو وړاندې دَ محمود غزنوي او دَ ستر امزري محمد غوري دَ کلکې افغاني ارادې نه دَ حافظ رحمت خان تر وروستی سلګی پورې پاتې شو۔ يقين سره وئيلی شو چې دَ دغه نه وړاندې تاريخ به هم دغسې دَ ځان تسلسل وو۔ ممکنه ده چې دَ غوري دَ مستقل راست اقدام نه وړاندې به هم پښتانۀ په ځۀ نا ځۀ شکل کښې تللي وي۔ شايد دَ وړاندينيو ترون دَ اسلام سره نۀ وو، ولې پښتو ژبه خو ئې خامخا وئيله او دَ پښتون قام نامه پرې پورې وه۔ دغسې پښتو ژبه پرله پسې هند لورې ته، ايران لورې ته اولوېديز ته کوچېدله

اوخپلې نخښې ئې هلته پرېښودلې دي چې دَ څېړنوالو دَ څېړنو مُوتازه دي۔

Sea (English) = Seend (Pushtu) = Ob.seen (Pushtu) = Abaseen (Pushtu) = (Indus River) = Seen (Pushtu)

↓

= Ocean (English)

اوشنوس (اوقيانوس) Oceanos (Greek) ("او" دَ اوبو رېښه دَه)

↓

(Arabic)

★★★

## آفتاب

دا ټکی دَ ايران دی

په لاطينی، يونانې او انګرېزی ژبو کښې دَ يو ټکې مخالف ټکی هغې سره دَ a ، زياتولو سره جوړېږي لکه:

Zoospermia = Azoospermia
Asthenia, Aesthetic, Aplasia, Anorexia, Tone:Atonic, Abduct, Atresia, Cellular:Acellular, Aphakia etc.

دغسې دَ "آفتاب" اپوتيه "فتاب" شو چې هغه پيتاؤ شو۔

مونږ وئيلی شو چې دَ پيتاؤ نه آفتاب جوړ شوی دی يعنې:

پيتاؤ : اپيتاؤ : تاب : تاو          پ = ب، ف = پ

بونېر کښې سيوري امازئی او پيتاو امازئی نوم کلې کلی دی، سيوری او پيتاؤ نورو کليو کښې هم شته۔ پيتاؤ دَ پښتوعام ټکی دی محاوره کښې هم راځي دغسې هم۔

★★★

هوا .

اوَا

ايوا=eve = حوّا

avian , aves :ـ دَ زوالوجي دالوتونکو ځناوريو فائيلم دی۔

قـرآن پاک کښـې دَ هـوا تـوری ډېر راغلي - زياتره په معنی دَ هوا، باد، خـواهـش، غـوښتـنـه، هـوس راغـي۔ پښتـو ژبه کښې هم هوا دغـسې مطلبونه لري۔

دَ الـوت کـونـکـي معنی لري، کۀ دَ الوت نه ال حذف شي نو دَ "وت" ترون دَ vian سره جوړېږي۔

هـوا، ايـو، ايـوې ، اوا دَ يو توري مختلف غړوته دي۔ avian دَ زوالوژي په هغې vertebrata کښې راغي کوم چې الوځي۔

Eve بي بي حوا عليهاالسلام ته وائي۔

لاطيني Avian ⟵ Ave ⟵ اوا (پښتو)

↓

(ايراني) هوا ⟵ هوا (عربي)

ريژويدا کښې هوا ته VAYA يا VATA وايي۔

★★★

"افـواه"، "اَفـوَاهِهِـم" دا دَ عـربي لفظ دی معنی ئې ده په خلۀ خبره، دروغ خبره، هسې هوائي خبره۔

اف هـم قرآن کښې په هغه مطلب کښې راغي کوم مطلب ئې

چې پښتو کښې دی، معنیٔ ې غړ، ډېر په وروخبره، دٙ ناخوالی خبره۔
داسې يو غړ ياخبره چې بل پرې خفه، حېران، زهيرشي۔

۱: ﴿اُفٍ وّ لاتَنهَرهُمَا﴾

۲: ﴿اُفٍ لَّكُمْ﴾

۳: ﴿قولُهُم بِاَفواهِهِم﴾

★★★

## اِيسک ۔ اِسک

دا دَ پښتو ژبې توری دی، معنی ئې ده قرعه اندازي۔ پچه۔پوچه۔ حصه :ايسه ،هِسک هم ورته وايي په څۀ ځيز، برخه، پتې، دَ قربانۍ غوښه او نور دغسې يو دستور دی په جولۍ کښې يو تن يو وړوکی غونډ ځېز واچوي چې هغه دَ يو خاص سړي نخښه وي، نورې نخښې دَ نورو سړيو ورسره کړي اوجولۍ کښې ئې وخوزوي راوخوزوي يو ماشوم يا لوئ په پټوسترګو دَ هغه جولۍ نه يوه نخښه راوباسي چې هغه نخښه دَ چا وي نو مخامخ پراتۀ ځيزونو کښې په يو لاس ايښی دَ هغۀ شي۔ دغسې دا ګردانېږي۔ کله دَ قربانۍ غوښه په اووۀ يا کم زيات ټوپکو کښې اووېشي يو تن مخ بل خوا واړوي او بل تن ورته وايي چې دا دَ چا؟ او دغه وخت ئې لاس په يو ټوپکي ايښی وي۔

حصه: ايسه او ايسک دَ هغې تصغيري اسمونه دي۔

مونږ اسک يا هسک داسې هم ليکلی شو لکه

هسک: حیصك خصخص دَ عربی تورې دي قرآن کښې موجود دي. دا ټکي دَ خپل تول ګرائمرسره دَ پښتو نه عربی ته اوړېدلي دي.

"پُوچ" دَ سپک معنٰی لري. "پُوچ" د هندي تپوس ته وائي. "پچه" دَ ګډو چپلو Feces ته وائي. دَ نظامِ انهضام آخري نتیجه دغه وي. ګډه وائي پی به درکړم خو دَ پچو سره. "پچه په کښې شوې ده" مغرور ته وائي. پُوچه په پُوخه هم لیکلی شي. "پچه" دَ وړومبي زور سره دَ ټوکرۍ معنٰی لري. "پچه" یا "پچی"، "پُوچانې"، "پُوچانانی"، پیخانې" لږ مقدار ته وائي، وړوکي قد لرونکو ته وائي.

★★★

AURICAL: اوړېدل: Aurical دَ اوړېدو بهرنی حصه: دغوږ ځرګنده برخه.

Auri cular. Aura هغه موضوعي غړونو وغېره ته وایي چې دَ غوټې Fits راتلو ځخه وړاندې اوړېدی شي.

Auriculo-tympamic

Tympanum: تمبل: طبل، دَ غوږ دباندینی پردې شکل لکه دتمبل وي.

اوقیانوس

په دې ټکي کښې او، دَ اوبو ریښه ده. "ق: ښ" اخري "س" دَ لاطینې طریقې سره بدلون دی. ق = ښ په دې کتاب کښې زمونږ دَ دریز مرسته ده.

Seen (River.Pushtu) → Seend → Obseen → Abaseen (INDUS.Pushto) → Ocean (English)

Seend ↓ Sindh ↓ Hind (س په د بدل شو) ↓ Ind (Indian) (داو اِ نژدې غږونه دي)

Ocean (English) — Oceanos → Greek

Oceanos ↓ Greek

دا تېکی ښاغلي حسېن بخش کوثر غوریاخېل ډېر څېړلی دی تاسو ئې هلته کتلی شئ.

غوریاخېل لیکي چې کله پښتانهٔ په لرغون کښې لوېدیز ته وکوچېدل نو دَ ځان سره ئې دَ خپل وطن نه اباسین توری هم یوړلو. چونکې دَ هغوي وطن کښې تر ټولو لوئ سیند یوائې اباسین وۀ نو هغوي په یورپ کښې هم دغه نوم په لوئ سمندر کښېخود. دَ ډېرې زمانې تېرېدوسره هغه لفظ اباسین په اوشن بدل شو مونږ دَ اوب سین : اوشن سره دَ اوکیانوس:اوشیانوس اضافه کؤل غواړو.

کابل سیند ته لنډی سین یا لنډی هم وایي. دَ کهوبا :خوبا اوبۀ اوس هم ډېرې خوږې دي:

یا اوبۀ دَ لنډي سین یا دَ باړې دي
چې په خلهٔ مې ترنبات لګي شیرینې

(خوشحال خټک)

دَ لنډي اوبۀ هغه ګڼه خوشحاله
چې یادېږي په جنت کښې جوي شیر

(خوشحال خټک)

کهوبامونږ ته اوس هم ډېرګران دی خو په ۲۸ ـ ۲۹ جولائي ۲۰۱۰ء کښې کهوبا کښې یو ستر سېلاؤ تول مهمنزی او تول نوښار تر تاروجَبې پورې مزکې سره اوارکړل۔

لنډی ورته ځکه وایي چې ډېر اوږد نهٔ دی یا دا چې دَ "لونډې" تکی وران شوی دی۔

خُوب آب : ښکلي اوبهٔ : خوږې اوبهٔ، خُوب آب بل

کُوبا : کابل سیند

"کُو" هم پښتوکښې دَ خوږ اوښکلي دپاره لکه کوکو ماما، دَ "کُوبا" توری اولني وېد کښې راغلی دی چې ورسره دَ ګومل (ګومتي یاګوم توې) کورمه، سوهتوپوتو (سوات توې) پښتانهٔ نومونه هم راغلي دي۔

زم زم = زیم زیم = ځائ یم، دَ اوبو ریښه لري۔

اروابښاد حبیبي صېب دَ کابل دَ توري څېړنه کښې زیات زور په "کاو" اچولی دی زما په خیال دَ "کهوبا" دَ رګ وېد موجودګۍ کښې ښه څېړنه دَ "ښکلواوبو" ده۔

★★★

اسریٰ

۱: ﴿مَا کَانَ لِنَبِیٍّ اَنْ یَّکُوْنَ لَهٗ اَسْرٰی﴾ (انفال:٦٧)

۲: ﴿قُلْ لِّمَنْ فِیْٓ اَیْدِیْکُمْ مِّنَ الْاَسْرٰی﴾ (انفال:۷۰)

۳: ﴿وَتَأۡسِرُونَ فَرِيقًا﴾ (الاحزاب:۲٦)

اسیر په معنی دَ ګېرشوي. بندیوان، مقید راځي۔

ایسار هم دغسې معنو کښې راځي۔ هغه د دښمنانو مینځ کښې ایسارشوی دی۔

ایسارېږد مه، په تادۍ راځه، دلته ئې مطلب اتالېدنه شوه خو هره معنی کښې تې دَ بندېزسره څۀ ناڅۀ تړون موجود وي۔

زلفې دې زنځیر دی پکښې ډېر زړونه اسیردي
څوک په دا تدبیر دی چې خوشحال آزاد لره

پښتو کښې اسره په معنی دَ هیلې، امېد هم راځي۔

٤: ﴿لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا﴾ (بنی اسرائیل:۸)

دلته حصیرمعنیٔ د "قېدخانه" ورکوي

## ایل ۔ یاغي

ایل په معنیٔ د مطیع، بنده، محکوم رات شوي (رعیت شوي) راځي،غلام ته هم وایي۔

یاغي دَ باغي، آزاد، خپلواک معنی لري چې دَ چا دَ حکم او حکومت لاندې نۀ وي او دَ حکومت دَ نظام په ضد ولاړ وي سرکښ۔

یاغي بازونه یو یو بازدار نیسي
څۀ چرګې نۀ دي چې ئې هرخوار نیسي

(خوشحال)

پښتنو سره کۀ شته څۀ عقل پوهه

ایـل یـاغــي دي څنــې کـانـدي اوس حـذر

(خوشحال خټک)

رعــیـت لـکـه عـیـال سـاتـه خـوشـحـالـه

پـه یـاغــي بـانـدې مهـم کـانـدي بـادشـاه

(خوشحال خټک)

پـــه لـــیـدلـودې خـوښــي درســره راوړي

لـکـه تـلـلـی یـاغـي بـاز راغـلـی بیـا یـي

(خوشحال)

چې دَ یوې یاغوبل وخت کښې غوئي ته چوکه ورکوي نو دَ

ایل شه غږ ورسره کوي کله کله یوائي "ایل ایل" وایي

څپـانـد سـیـنـدئـې هـم لـه ډاره ایـلائـي کـه

(ښکارندوی)

ایل دَ خېرغوښتوغږ ته هم وایي

هلتـه یـوفـقـیر ورته ایل ورکړو نور بې درنګه

دَ ایل ریښه دَ قرآن پاک لاندې لفظونو کښې راځي:

١ : جبرائیل ٢: میکائیل

٣ : اسرافیل ۴: اسماعیل

۵ : عزرائیل ٦ : عزازئیل

٧ : انجیل ٧ : خلیل

۸ :	الیاس		۹ :	الیسع

۱۰ :	اسرائیل د یعقوب دویم نوم دی (۱۱ بني اسرائیل)

یله کوّل یا ایله کوّل پښتو کښې د پرېښودلو، آزادولو معنی لري.

"زهٔ لا ایـلـه نـهٔ یـم وار وکـړه"

ایل ـ ـ الله ته وایي. ایل دَ اهل وعیال مطلب هم ورکوي.

په نوي لوظنامه کښې دَ ایل لاحقه ډېره راغلې ده لکه حزکائیل، داني ایل، عمانوایل، غالبًاعبراني کښې دا توری ډېر راتللو. دَ یعقوب ببت ایل یقیناً زمونږ خانه کعبه نه ده لکه زوړ کتاب چې لیکي:

ایل : ایل دَ پښتو دَ عربۍ دَ هل مطلب کښې هم راځي. لکه اشر غوبل کښې چې چغه شي هلا. هلا (الله الله) ایل ایل چې غوئي ته چوکه ورکوي نو دَ ایل څهٔ غږ ورسره کوي. عربیان هل دخبرداري دپاره وایي:

ع:	ایل یاغي دي څنې کاندي اوس حذر

(خوشحال خټک)

"ایله پرې مهٔ کړه" دلته "ایله پرې مهٔ کړه" دَ سر پې معنی لري. "هغه ایله راغلې وه چې" نو ایله دَ ډېر لږ وخت معنی ورکوي.

ایل نر ایلۍ نر ته هم وایي.

دَ عیسایانو زوړ کتاب کښې ایل پسوند ډېر راځي.

ایل معنی دَ الله لري.

"هله هله" دَ "زر، بیړې، تادی" معنی هم لري.

★ ★ ★

## الوان

"الــــوان" رنګـــونـــو ته وايي. کــهٔ "ال" ترې لرې شي نو "وان" به پاتې شي.

١ : ﴿مُختَلِفًا اَلوَانُهٗ﴾ (النحل:١٣)

٢ : ﴿وَاختِلفُ اَلسِنَتِکُمْ وَاَلوَانِکُمْ﴾ (الروم:٢٢)

٣ : ﴿وَالاَنعَامِ مُختَلِفٌ اَلوَانُهٗ کَذَالِکَ﴾ (فاطر:٢٨)

پارسۍ کښــې هـم ورتـه الـوان وائـي. دا ټکی پښتو کښې ډېر لیکلی وئیلی شي:

لــون لــون کــالــی بینا پیـري خـواجـه شو
چـې خـوشـحـال دیار دمـخ پــه بازار راغـی

(خوشحال خټک)

پــه بـاغ چـې ګډ شـي کـهٔ تـرې وتـونـې وې
کــــهٔ لــون لــون مېــوې خـوړونــې وې

(خوشحال خټک)

زهٔ خبــر ورځـنــې نــهٔ شـوم بهــارتېـر شـو
دګــلــونــو لــون وارهٔ پـــه بـل پېـرشــو

(خوشحال خټک)

★ ★ ★

## اَخَذ

دا تېکی هم زمونږ په خيال سو چه پښتو اصل لري۔ قرآن پاک کښې دا تېکی بې شمېره ځايه راغلی دی۔

١ : ﴿اَخَذَاللّٰه بِذُنُوبِهِم﴾

٢ : ﴿اِذَا اَخَذَتِ الاَرضُ﴾ (يونس ٢٤)

٣ : ﴿وَلَا يُؤْخَذُوا مِنهَاعَدلٌ﴾ (البقرة)

٤ : ﴿خُذُوامَآ اٰتَينٰكُم بِقُوَّةٍ﴾ (البقرة)

دَ پښتو اخستل زمونږ څرګند تېکي دي۔

دا مصدر دی او ډېر مشتقات لري۔ ماخذ او اخذ پارسی کښې هم ډېرعام دي۔ اخستل په اغشتل هم وئيلی شي۔

اخله، ماخله، واخله، راخله دَ پښتو بې کچه بنيادي تېکي دي او مونږ پرې ډېره کلکه دعوه لرلی شو۔ اخذ نه اخستل دَ ژبو يوتربله دَ بدلون دَ قاعدې سره سم دي۔ S=Z

عربی کښې دَ "نيولو" معنی هم لري ولې پښتو کښې دَ "نيولو" معنی نهٔ ورکوي۔ اغشتل، واغشتل۔ دا کښې به اغشتل لرغوني وي۔ که اخستل، اغشتل، اغښتل شي نو "س" مشر دی، ورپسې "ش" دی او "ښ" دَ ټولو کشر دی۔

★★★

امېل: امبېله : امبېل، حمائل، مالاکنډ، ملکنډ، حمائل کنډ

دَ امېل اوامبېله دَ پرانستې نه وړاندې ليکم چې توربېله، ځاله بېله، ګل بېله ، بېله ارباب، خان بېله، ګمبېلا او دغسې تورې

پښتو کښې ډېر دي.

کۀ دې توان رسي په لوئ دریاب کښې ګرځه
په بېلـه کښې دې اجل وینم نهنګـه

(خوشحال)

بېړۍ ګرځي په بېله کښې
په قلزم ګرځي جهاز

(خوشحال)

دواړه شعرونو کښې د بېلې معنی د یو وړوکي سیند ګوتې وځي. امېل او امبېل او مالا یو شان مطلب ښندي.

"مالا" پښتو نۀ ده بلکې هندي ده او دَ سنسکرت نتیجه ده.

حمائل هم چې په لنډیز بدلون وئیلی شي نو امېل ترې جوړېږي. حمائل هغه څۀ ته وایي چې بنیادم (لوئ یا وړوکی) ئې غاړه کښې اچوي.

حمائل شریف قرآن پاک ته هم وایي، تعویذ ته هم وایي.

امبېله او ملاکنډ دَ غرونو یوه سلسله ده چې دَ اباسین نه لوېدیز ته دَ پښتونخوا قطبي سیمه کښې پېښه ده. دا سلسله لکه لړۍ یعني امبېل دغلته دَ دې وطن په غاړه ده ځکه ورته امبېله وایي.

لوی نهنګ لره عمان او قلزم بویه
په بېلـه کښې ئې تمام شي اوبۀ خور

(خوشحال)

دملاکنډ یوه شرحه داسې هم کېدی شي چې دا دَ هند دَ وطن سره ترلې سیمه وه. کۀ دَ هند زورِ والی مونږ دَ سکندر یوناني سره یو ځای وګنړو(کو چې دا ډېر مخکښې دی) نو لږ نه لږ تر دغه وخته دلته دَ پښتون وجود موجود ښکاري. اندې مونږ غاړې ته هم وایو. اندې په زوَر او زېر دواړو وئیلی شي. دَ اباسین یو نوم دغه هم دی. یقیناً لرغوني هندوستان (india) دَ هند دَ کودر نه اخوا وو چې اوس هم دي. په ښاروي چې بار پروت وي، دَ هغې یو اړخ ته اند وايي.

کندَاو اوکنډ یوبل ته ورته مطلب لري. ورسره مَل، مَله، مالا دَ امېل یادغرونو سلسله معنی هم ښندلی شي. کندَاو دزخم یا دوه ټوټې کېدلو معنی لري. کنډ سخت ته وايي. کنډ تتې ته هم وايي. روهیل کنډ، بوندیل کنډ، ګولکنډه ښائي چې کنډه به وطن ته وايي.

خدائ دې نۀ کړه چې زمونږ نه یو کنډوشي
بیابه هله په چاجوړ دَ مغل بوشي

(خوشحال)

کېدی شي چې همالیه هم دغه دامېل ریښه لري. کۀ داسې وګنړو چې مالا تکی سنسکرت ته نزدې دی نو یوه نتیجه به دا وي چې دا تکي اصېل پښتو دی او ختېز لوېدیز دواړه لوریه ئې هجرت کړې دی (Eastern Aryan / Western Aryan).

هماليه: امالیه : اماله = امېلیه = امبېلـه نـږدې نږدې غږونه دي.
امبېلـه دَ مـردان او بـونېرترمېنځـه هغـه دره ده چرتـه چې پښتنو دَ
فېرنګيانو مخ نیوې کړې وۀ او چرته چې دَ مغلیه باچا اکبر ډېر فوځیان
تباه شوې وو. هم دلته دَ سکندر مخ نیوې شوې وۀ.

پـــه دا لار دَ شهـســوارانـو ختـل ګـران دي
ګـوډه څـوبـه بـانـدې خېژي مـلاکـنـډ دی

(خوشحال)

دَ امېـل یا حـمائل سره مونږ نور غږونه هم لرو لکه کړاکړ، کړه
مـار، کـړپـه، کـړی دَ لاس پښـې نـه تـاؤ شوی کالی وي (هتکړی).
کړاکړ=کړی کړی (کړه کړه سلسلې ته وايي)

دَ کـونـړ پـه غـږ کښـې هـم کوه او اړ ریښې دغه اصل لري. اړ دَ
خنډ مـعنـی هـم لري او دَ ترون په مطلب کښې هم راځي. کړپه توری
پښتو کښې عام دی.

دَ خېبـر دره ئـې سـره کـړلــه پـه وینـو
پـه کـړپـه ئـې هـم روان کـړو دندوکـار

(خوشحال)

دَ تـاتـرې دَ کـړپې نـه عـلاوه دَ شکـردرې کـړپه، دَ امبېلې کړپه
یادېږي. شاېد ورې ورې کړپې ډېرې زیاتې دي. کړپ یو خصوصي غږ
دی. کـړپـه کښـې دَ کـړ جز دَ "کړه" یا سلسله سره ترون لري. دَ لرګي دَ
پائزار غږته کړپ وايي. کړپ، خړپ، شړپ غږونه دي.

ګمبېلا نومې یو بل توری هم مونږ لرو۔ دریائ ګمبېلا او سرائ ګمبېلا زمونږ سهېلې سیمه کښې دي۔

دَ سلسلې اود ملاکنډ برنې وضاحت دامطلب لري چې پښتانهٔ دلته ډېر دَ پخوانه آباد راروان دي۔ دَ ګنبو ډېر لیکنو دَ لوستو ځنې هم دغه نتیجه را اوځي۔ داسې حال کښې زمونږ دَ یوسفزو هجرت او سر دوباره آبادي تاریخي سوال دی۔

دَ حمائل معنٰی کاملِ صب داسې لیکي "هر هغه څېز چې ترغاړې ځوړند وي، لکه دَ تورې تسمه، هاریا تعوېذ او دَ ورکوتې تقطیع دَ کلام الله نسخې ته هم وایي"۔

دَ کړه مار باره کښې لاندینی خبرې به هم بې ځایه نهٔ وي۔

۱۔ کړه مار : ولاړ، سخت مار، دمارونو سلسله۔

۲۔ کړم غر : کنډم غر

۳۔ کړه مار : کرما غر (دعمل یانجات غر)

۴۔ کرم آر : دَ آریاګانو کرما

دَ بېلې په اساس دَ Bay نور لیک وړاندې راځې۔

دا خبره چې کنډ یا کنډی په رښتیا غر ته وائي، مونږ دَ خوشحال دا شعر ګورو:

زلزله په جهان ګډه شوه خوشحاله
دَ آسمان له شدتونو کنډې رغړي

سبکتګین چې کله دَ شاه جیپال سره په صحرائي کنډي

کښې مخامخ شو نو مات ئې کړو- کندی اوس هم د جلال آباد نه لوېدیز ته پروت دی-

چې یو غاښ ئې نهٔ وي ورته کنډی وائي- چې یو ښکر ئې مات وي کنډی بللی شي- غاښی دَ غر څوکې، څانګې یا تول غر ته هم وائي- دغه غاښی کنډی یا کنډاؤ هم بللی شي-

دَ ماترې غاښې نېغ درُومې آسمان ته
په ختو لنډېږي باندې سپینې

(خوشحال)

کندی یو محلې ته وائي چې نزدې خپلوان یا دَیو نیکهٔ اولاد پکښې اوسي- لکه هوتي کښې کندی اله داد خېل، ګمبت کښې کندی جونه خېل-

کندی د کندہ جمع ده چې زوړ ځائ ته وائي- خوړونو ته هم کنده وئیلی شي- دارا کنده آدینه څخه را روانه ده او نوم ئې دارائ اعظم سره تړلی دی- کنده کنستلو ته وائي- مونږ دَ کانډې راؤ نوم دَ نوم دَ محمد غوري مقابله کښې اورېدلی دی- کانډې هغه ته وائي چې غاښونه ئې کنډي وي- تندی ئې کلک وي، نر وي، زړهٔ ور وي- چې ښکر ئې مات وي هم کنډی بللی شي-

ع: لا جینوتې سر کونډې چې پرده نهٔ کا له پلاره

(خوشحال)

دلته سر کونډې په سر لړو وېښتو ته وائي- کونډې دَ ښځو دَ

تر ټولو ستر جوړ Kneejoint تـه وائـي۔ دَ کـونډی هډ تـه Patella وائي۔ يوناني ژبې کښې کنډاؤ ته Knuckle=Condylos وائي۔

لکه ذ = S او کله چې اغښتل شي نو "س=س"

اغښتـل او غـوښتـل يـو نـهٔ دي خـو يو شان لري۔ دلته ژبې کښې د "س"، "ش" او "ښ" ارتـقـا مـينـځ ته راځي۔ داسې چې "س" مشر دی وروسـتـي "ش" کشر دی او "ښ" تر ټولو کشر دی۔ اينډو اروپائي "س" پـه اينډو ايراني "ش" کې واؤړېدلو او وروسـتـي "ښ" زمونږ خپله دننی ارتقا ده۔

★★★

اولس

دا دَ پښتـو ژبې يو ډېر عام توری دی۔ وېنا به ئې داسې وي چې "الف" او "واؤ" دواړو باندې شريک پېښ اولګي او يا "الف" لرې شي او دوه واؤونـه شي۔ انګرېزی ژبې به ئې داسې ليکو oolus چې u به سپک غـونـډې غـږ ورکـوي کوم چې به a نـهٔ وي خـو ورتـه ورتـېـټ بـه وي۔

معنٰی ئې عام وګړي Common People يا Masses دی۔ پـه لاطينی ژبې ورته Vulgus وايي۔

دَ دې نه ستائينوم Vulgar دی۔ اپوته ئې Verra يا "وره" ده۔

درېـغـــه اشـرف خان دستـيـاری هـو نبره قـوت

درست اولـس پـه لاس کښې هېڅ در او نهٔ شو جرأت

(خوشحال خټک)

اولسونه چې سند و بله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندي اختيار

(خوشحال خټک)

د خوشحال وينا کښې د اولس نه مُراد هسې ډېر خلق هم راځي۔

کيرو ليکي چې پښتو کښې "اولس" د "ساکا" قبيلې څخه پاتې دی چې هغه ئې سپينو هونانو کښې راولي۔ هغه ليکي چې پارتيان، ساکا، کشان، او اپتالي د يوې ونې څانګې دي او د پښتو ژبې بنياد کښې لويه ونډه لري۔

لکه مونږ وليکل چې لاطيني هم د وولس سره نزدې غږ لرونکی ټکی Vulgus لري۔ کۀ "وو"، "لس" بېل بېل جزونه شي او لس د شمېر ټکی وګڼو نو هم ئې مطلب ګڼه دهٔ۔

لس به ملۀ سره ونۀ وينې په څنګ کښې
کۀ درست ملک سره پره کړې تر تور سنګه

(خوشحال خټک)

دې شعر کښې دَ لس مطلب ډېر، ګڼه، زيات ووځي۔ مونږ دَ لس مطلب په اشر کښې او په deca کښې دې کتاب کښې بنۀ څېړلی دی۔

اَبرُو EYEBROW

اوره (Avesta) تش "ب" په "و" لاړه

ابهرو : Sanskrit

وروځه : Pushtu الف حذف شوې دی۔

Wroozga د پښتو غږ ئې د ز، ج اوک ترمېنځه دی

★★★

## ایمان

په ایمان کښې دمننې ریښه ډېره جوته ده۔ مثل

﴿وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ﴾ (القصص ۵)

★★★

## اِهیًا اشراهیًا

دا دَ الله پاک نومونه دي۔ وايي چې دا دَ سُریانی ژبې توري دي۔ په دې کښې اهیًا دَ یاحيّ په ځائ دی او اشراهیًا دَ یا قیّومُ په ځائ دی۔ دلته هم دَ ش او ق بدلون څرګند دی خو دا دَ Assyrans ژبې سره دي۔ کۀ چرې دا پښتو کښې راتلی شوې نو ښ یا خ به وې خو پښتو کښې دا زمونږ په لاس نۀ راځي دومره ده چې زمونږ دبدلون دطریقې مرسته کوي۔

باس: بأس :

باس په پښتو ژبه کښې یو توری دی مونږ تول ئې ډېر وایو خو چرې پرې چا هم غور کړې نۀ دی چې معنی او اصل ئې څۀ

دی۔ یو متل څهٔ داسې دی "چې غلې غلې باسې هغه تل کانې پرېباسي"۔ "هلکه ماسره ډېر باسونه مهٔ کوه"۔

پښتو وېناکښې ب ا = با دی او په "ا" باندې څهٔ نخښه نشته۔

اروابناد حبيبي صېب دَ باس په سپړدنه کښې توږباس. توږه باس، توږه باس خان مثالونه راوړي دي او باس ئې دَ منشيانو غلطي دَ "عباس" ګڼلې ده۔ ورسره ئې دَ پير روښان دَ خيرالبيان نه "توږ کښ" دليل وړاندې کړی دی۔ هغوي ليکي چې دَ هندوانو فرقه کهشترې دَ "کښ توري" نه اخستې شوې اصطلاح ده۔ اصل کښې داسې ده چې دَ دغه آرياو خپله ژبه پښتو وه او توږ کښ يا توږ کښې اوکښ توري ئې ځان سره وړې وو، وروستو دهغوې ژبه سنسکرت وګرځېده چې دَ پښتو يوه لور وه۔

تُور ېښ يوجنګېدونکي کېفيت کښې دوه په دوه مقابلې ته وايې۔ غصه ناک ته هم وايې۔ په توږ ېښ ناسته، په توږ ېښ ګرځېدل۔ دلته دَ تربور، تربګنی لفظ هم کارکوي۔

تربوريښ چې په لنډيزاولسي ډول ووئيلې شي نوتوړيږښ ياتورېښ ترې جوړيږي۔

توريېښ چې توره ورته وړاندې کړې شي۔

تېرکش = ترکښ ته تيردان هم وايي۔ په دغه نسبت توږکښ اوکښ تورې هم راځي۔

- په بانډه په سترګو سهم وتېرکښ يې

(خوشحال)

چې ئې بياترکش ترميان کړو
چې ئې عزم دمېدان کړو

(خوشحال)

ترښځه دَ ترکانې يوه آله وي چې لرګې پرې توګي- تېرکښ ته درسته هم وائي- هغه پټه چې غشي پکښې پراتهٔ وي، درسته بللی شي-

"کهٔ مې کتل تور برېښ کېده" تاريخ (مرصع)

کش يو غږ دی : دَ قلم کښ: دتورې کښ : کش کړې :د پرتوګ کښ (غني خان)- دا فعل هم لري- لکه کښل، وکښل، وکښه، کښه، وکېښ- کهٔ چرې کهشترې په لساني اصولو بدلېږي نوخترې، خښترې پکار دي- دلساني اصولو کلکوالي واضحه نه دی- د تورکښ غوندې يو څو ټکي دادي

١ : زيارکښ ٢ : سرکښ ٣ : خوارېکښ
۴ : خودکښ ۵: تېرکښ ٦: مخکښ
٧: پېشکښ ٨: زرکښ
٩:کښئې (هديرې ساتونکی. دَ فصل. ورشو څوکيدار. داعي. بلونکی)
١٠: بيلکښ (بيلک وړونکی)
١١: رسکښ (سرغنه)

۱۲: پیکښ: پښو کښې رانښکلی شوی

۱۳: ساکښ: کښ په معنی دَ ست، سلا، بلنه کامه کښې ژوندی کلمه ده۔

زمونږ دَ وخت يو شاعرليکي:

ستاسپينې لېچې دَ قدرت دَ نعمتونو برخه
تورو لستونو کښې به څنګه ښکارېدې ورکېدې

لکه دوه تورې دَ تورزنو دَ توربېښ په موقعه
ياپه ازل کښې ورځې شپې وې جوړېدې ورکېدې

زیارګالل : زیارباسل

وُباسل دَ بهر اېستلو معنی لري، بهر اېستل هم زورغواړي۔

ما دَ کاره مهٔ وُباسه، هغوې زرېښې وُباسلې يا پښې ئې اووېستلې۔

وُباسل، باسل،کښېباسل، ننه باسل، دننه باسل، ورننه باسل، پرېباسل، تېر باسل، جارباسل، دا ټول مصدرونه هغه مطلب ورکوي څهٔ چې دَ عربی دَ بأس مطلب دی خو پښتو کښې په الف باندې سکون يا همزا نشته۔

۱: وُباسل ۔ چې به بل تر تاراتېر کړم

دا وېــــې لـــه زړهٔ وُبـــاســـه

(خوشحال)

ســـرې وُبـــاســـې دکـــاره

پـــکـــارنـــۀ دی ډېـــر خـــر ښـــت

(خوشحال)

دلتـه دَ وُبـاسـې مطلب دی دَ يوشي دَ يو ځای نه بل ځای ته وړل يا اړول يا منتقل کول۔ خو چې غور پرې وشي نو دَ زور عنصر لري۔ يعني په زوره۔۔۔ يو څېز د يو حالت نه بل ته بوتلل۔

۲ : باسل

هـــمـــت نـــاک بـــاسـل بـــازل وو
پـــه هـــر کـــارکښـــې صـــادقـــان

(خوشحال)

دلتـه دباسـل معـنـی جنګجو، جنګیالې، مېړنې راځې يعني ددغه تورومصدر دی۔

غتـه خبره دا ده چې باسل او بازل دواړه مصدرې شکل کښې راوړی شوی دی۔

۳ : پرېباسل

دلازاکې جـونـه پټ سپايان پرېباسې
چې پـه قهرغـصـه راشي قهر ژنې

(خوشحال)

پرېباسل کښې هم د زور اثر پټ دی
داغـیـارومـخـکښـې خـانـده
پـه خـوشـحـال تـنـدر پـرېبـاسـه

(خوشحال)

دلتـه هـم د زور کېفیت لري- پرېباسل، پرېوتل، پرې غورزېدل، ورغورزول، ورپرېوتل نژدې نژدې مطلب ورکوي-

۴ : ننباسل

د بـنـګـښ بـخـره د پـالې د چوکې ده
نـور دې نـنـبـاسـې توره پـه نـیـام

(خوشحال)

توره چې تېکې ته دننه کوي نو د زور څۀ عنصر لري-

۵ : باسونه

چـې تـرتـانـه پـه قوت د متو زیات وي
لـه هـغـۀ سـره حـجـت مۀ کړه باسونه

(خوشحال)

دلتـه ما باسونه د کلیات د مروجه لیک مطابق لیکلی نۀ دی- مـا د خپـل فـکـرې مـحـور لار خـوښـه کـړه- بـخښنه غواړم کۀ یوټکی پکښې نۀ هم وي نو زمونږ مضمون پرې څۀ خرابېږي نه-

٦ : پرې اېستل (پرېباسل)

دلته هم ما د خوشحال په مروجه شعر کښې ګوتې وهلې دي خو دا راته د اوسنې لیک په رڼا کښې ډېر بې ځایه نهٔ لګي. ځکه چې دا هرڅهٔ د ډېرو کاتبانو د لاسه وتې دي.

کوم یاغیان هوډیان دي پرې اېستل له هوډه
چې دا دومره ډېر دماغ لري ختکه

(خوشحال)

پرې اېستل د پرېباسلو معنی لري.

پرې اېستل او پرېباسل یوتربله ډېر بدلېږي "هغه ئې د ملکه اووېستلو". "هغه ئې د جوماته وُباسلو". "هغوې د دښمن وېخ ووېستو". "تول ډکې ئې وېستل". "تولې ونې ئې وُباسلې" "هغه ئې د برمه پرېباسلو".

٧ : تېرباسل :

تېرېستل یا تېروېستل د چا بې لارې کؤلو، ګمراه کؤلو، غلطولو ته وایي. د اوبو نه پورې اېستو ته هم وایي. تېروتل اوتېرباسل د ځناورو جنسې فعل ته هم وایي. تېروتل فرېب خوړلو ته هم وایي. د جارباسلو معنی کښې هم راځي.

٨ : پورې باسل

٩ : جارباسل :

سلام جارباسل، دلارې جار اېستل یا جاروتل، جاروانۀ۔ دَ یوشي یو خوا بل خوا خوزون دغه تورو کښې راځي۔

۱۰ : کښېباسل :

"تول دښمنان ئې کښېباسل" دې تکې کښې دَ باس سو چه معنی خوندي ده۔ دَ خوشحال شعرونو کښې دَ باسل تورې دعربی دبأس معنٰی کښې راغلی دی۔ دَ بأسُ په مېنځ کښې چې کوم الف دی دا اصل کښې همزادی داپه حروف هوائیه (دتجوید) کښې راځي۔

متقدیمېن همزا ته الف هم وايي۔ (کما في الفتح الباري)

متاخرېن ئې الف نه بېل ګڼي۔

دَ باس تکی قرآن پاک کښې ډېر او بې شماره ځایونو کښې راځي زۀ به ترې څو لنډې حوالې ورکړم۔

۱: ﴿وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَأْسِ﴾ (البقرة:۱۷۷)

۲: ﴿بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ﴾ (الحشر:١٤)

۳: ﴿أُولُوالْبَأْسِ وَالْاَبْصَار﴾

٤: ﴿وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَأْسٌ شَدِيْد﴾ (الحديد:١٥)

٥: ﴿يُذِيْقَ بَعْضُكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ﴾ (انعام:٦٥)

٦: ﴿اِلٰى قَوْمٍ اُولِى بَأْسٍ شَدِيْدٍ﴾ (الفتح:١٦)

۷: ﴿اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَأْسُنَا﴾ (الاعراف:٩٨)

۸: ﴿اَخَذنَآ اَهلَهَا بِالبَأْسَآءِ﴾ (الاعراف:۹٤)

۹: ﴿وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُم﴾ (النمل:۸۱)

۱۰: ﴿فَاَخَذنٰهُمْ بِالبَأْسَآءِ﴾ (انعام:٤۲)

شاید زما حوالې زیاتې دي بخښنه غواړم۔

لکه مونږ تول خبر یو پرېباسل، کښېباسل، جارباسل، تېرباسل، ننباسل، وُباسل او یوائې باسل دَ پښتو ژبې ښخې خپل اصلي اوسو چه ټکی دی نود عربی ژبې سره تړون ئې دا مطلب ورکوي چې دا دلرغونې دور اخستې شوې ریښه ده۔ داټکې په کومه لارې معرّب شو اوپښتونخوانه ترمکې معظمې ښکه ښکه لاړل۔ نوره تشریح ئې دَ خلله خالي نهٔ ده۔ زمونږ المیه داده چې باس مو دَ بحث نه ماخوذ ګڼلی دی۔ داخبره غلط العام ده چې دَ بحث دَ تورې لنډېز باس دی۔ پښتانهٔ دَ بحثونو سره نه بلکې دَ باسونو سره بلد خلق دي۔ بې سواده خلق بحثونه نهٔ کوي، باسونه کوي۔

زهٔ دَ یوبل پل اخستلو جسارت کوم۔

باسل اوبازل یوبل ته نزدې مطلبونه لري، خوشحال لیکي

چې فلک سره سرباسې
په همت کښې هغه زهٔ یم

(خوشحال)

په تېرو سلو کلونو کښې چاتپوس نهٔ دی کړې چې "سرباسې" څهٔ معنی لري۔ مونږ نن خبرنه کوو۔ خوشحال وايي:

ع: سر بازي يا دَ عاشق يا دَ پتنګ ده

باسل او بازل لکه مصدر راغلي دي۔

تاسو وکتل چې سربازي اوسرباسې يوه معنٰی کښې راځې۔ نو تُورباس اوتُرباز هم يوشان دي۔ دَ حبيبي صيب دَ تبصرې څۀ جواب پرې کېږي چې توله غلطي دَ منشيانو نۀ ده څۀ غلطې زمونږ هم ده۔

★★★

## بُنسټ : بُنياد

حديث شريف دی: "بُنِيَ الاِسلامُ عَلٰی خَمسٍ۔۔۔۔"

قرآن پاک کښې راغلي دي

١ : ﴿اَفَمَن بُنيَانَهٗ۔۔۔﴾ (التوبه:١٠٩)

٢ : ﴿لَا يَزَالُ بُنيَانُهُمُ الَّذِیٓ بَنَوٗ فِیٓ رِيبَةٍ﴾ (التوبه:١١٠)

خوشحال خان خټک وايي:

په وکښلوبه ئې ځوک وې چې بد وايي
دَ ګنډېر ونه کۀ خېژي تر بنسټه

(خوشحال)

دعربی بنې په پهلوی کښې بُن او اوستاکښې بُناده (BUNA)۔ دا تورې هم ځرګنده پښتو ريښه لري۔

★★★

## بَخساً دَرَکا

دَ پښتو توری دی : بخسکی : خسنی

## خس : بَکَس

بکسکی : يوبخری : لږغوندې

قرآن پاک کښې راځي:

۱ : ﴿لَا تُخَافُ دَرَكاوَ لَاتَخشٰی﴾

(نۀ ئې وېره وه دَ درک اونۀ دَ ډوبېدو)

۲: ﴿قَالَ اَخسَؤُافِيهَا﴾ (المومنون ۱۰۸)

(وايي به خوار وسپېرۍ په دې کښې)

۳ : ﴿ولا يُبخَسُونَ﴾

٤ : ﴿فَلَا يَخَافُ بَخسًاوَّ لَارَهَقَا﴾

۵ : ﴿وَلاتَبخَسُوالناسَ اَشيَاءَ هُم﴾ (الشعرا ٦٣)

نوروحريفانوواړه ډکې پيالې نوش کړې
ښه چې دخوشحال پياله ئې ډکه په بکَس کړه

(خوشحال)

بکس معنیٰ د بخس، بخسکې، لږکوټې لږي۔

﴿وَشرَوهُ بِثَمَنٍ بَخسًا دَرَاهِمَ﴾ (اليوسف)

دَ قرآن پاک په بره حواله کښې دوه ټکې زمونږ زړۀ راکاږي۔ يو بخسًا دی چې معنی ئې بکسکې يا پېسانې ده۔ دوېم ټکی ثمن دی۔ دا توری مونږ داسې څېړو

ثمن = Thaman

ث = th لکه ثاقب او ثاني او حرث او هېثم چې مونږ دې پانو

کښې کړي دي. دغه thaman څخه تُومن راوځي.

★★★

مینځ:

بَین= میان : مینځ :منځ : مځیره : مدهیا = mid

↓ ↓ ↓ ↓ ↓ ↓

(عربي) (فارسي) (پښتو) (اوستا) (مد هـ جا) (انګلش)

(مځای را) (سنسکرت): midpoint ئې معنی‌ده.

★★★

بُورا

﴿وَكُنتُم قوماًبُورا﴾

(اوتاسوتباه شوې قام ئې)

بُوره دپښتو ژبې عام تکې دی" موردرباندې بُوره شه"

چې بادشاهانوته واخلې تورې
دَ دوې خبرې شي په ملکونو مشهورې
کۀ بیا اتبارکړه په بادشاهانو
په ځان به خپلې میاندې کړه بُورې

(خوشحال)

مور دې نه شي باندې بُوره
چې مړونه دکار زاردي

(خوشحال)

بُوره هغه ښځې ته وايي چې بچی ئې مرشي، ډېرزيات غم پرې راشي. چې يواولادئې مرشي هغې ته هم بُوره وايي کۀ تول مرۀ شي نو هم بُوره ده. دخاروې لکه غوا،مېښې بچې چې مرۀ شي نو هم ورته بوُره وايي. "کوجر له بُوره ښه ده" . قرآن پاک کښې دارالبوار (ابراهيم:۲۸) په معنٰی دَ تباهی دَ کور راځي.

★★★

## بَرِئٌ

بريال :کټه ور، آزاد، خلاص

۱ : ﴿اِنِّی برِئٌ مَنكَ﴾

۲ : ﴿اَنتُم بَرِئٌ مِمَّاتُشرِكوُن﴾

۳ : ﴿مَا اُبَرِئُّ نَفسِی﴾ (یوسف)

برېد په معنٰی دحد اود برغل دغه سرچينه لري.

راشـه کوره نـامردان بـلا وهـلـي
دَ بَري مېدان پرېږدي لَري ته زغلي

(خوشحال)

## پَدَل : فضل :

دوست شينواری ليکي چې دا دَ عربی دَ فضل نه مفغن دی.

نـۀ ئـې قـدرشتـه نـۀ پـدل
ډېـرتـرمـور اوتـرجـراد دي

(خوشحال)

کۀ چرې پدل مفغن وې نو خوشحال به خامخا فضل ليکلی وۀ خوشحال دَ عربۍ د ډېر اثر دَ لاندې وۀ. شک نشته چې دَ پښتو لهجه کښې فضل هم په پدل ترننه ډېرزيات دی. "هئې بې پدله" "هغه څۀ بې پدله سړی دی" ډېره اغلبه ده چې پدل سوچه پښتو ده. دا دَ پښتونخوانه عربستان ته تللی ټکی دی او هلته په فضل بدل شوی دی.

★★★

پلار

= Petra (لاطيني)

= Father (انګرېزي)

= Vader (ډچ) = Plar = Pushtu اَب (Arabic)

= Fader (Gothic)

= Vater (جرمني)

= Pitar (سنسکرت)

= Pedar (پارسي)

= Peidra (Spanish)

بُرُج

برِج : دَ محل معنٰی لري، بورجل هم ورته وايي.

بُرج

يو پوخ کور چې د ځښتو، سيمټو، چوني ځنې جوړ وې او ځو چتونه لري، برج يابنګله يامحل نومېږي چې دحفاظت د پاره پرې د ځوکۍ انتظام هم داسې شوې وې چې دننه ناست کسان محفوظ طريقې سره دَ بهرنې حمله آورمقابله کؤلی شي۔

عموماً په برَني چت ګوټونو ته داسې ځايونه جوړ شوې وې چې پکښې د تماشې دپاره اود توپک شپېلۍ لره سُورې موجود وې۔ دوکړې هم بللی شي۔ پښور کښې سېد خان برج مشهور ځائ دی۔ دَ پښت دَ خانانو محل ګني دوکړې لري۔

سېدخان برج باندې سيکانو قبضه کړې وه بيافرنګيانو دغه ځائ په ګرجاکښې بدل کړو ترننه دغه دَ چواړيانو عبادت ګاه ده۔ سېدخان ځوک دراني خان وۀ۔ برج مرکب ټکی دی دوه برخې لري۔

۱ : بُور

۲: وُج

دَ بُورمطلب بره او وج مطلب دَ ځائ لري يعني بره ځائ، ځرګند، په سپينه، جل منډاو ته وايي۔ بُورجۍ دَ عمارت ټينګؤلوستن ته وايي۔ بورجۍ دَ ختيو هم وې، دَ لرګو هم او پخې هم وې۔

دَ بورجل پشان ټکې غواجل اوسجنجل هم دي۔ غواجل ياغوجل هغه کوټه وې چې څاروې پکښې تړلې وې خصوصًا دَ شپې دَ پاره، يعني دڅاروو ځائ۔ حبيبي صاحب "ل" دَ ظرفيت نخښه ګني۔

غوا + ج = ګاؤ + جا = ګاؤ معنی غوا

سجنجل په معنی د آئينې = سجن جل يعني د يار ځائ
د کوټې بلی. هم دغه اصل لري. د ورنه بهر د کوټې په ور بره
ځائ ته وربل وايي.

بورجی، برج، برجونه زمونږ د اوسنی پښتوعام ټکي دي.
بور په معنی د بره او جی په معنی د اړخ يا طرف دی. دغسې داسو چه
پښتوده. د بُور تلفظ ځنې قبيلې اوس هم برکوي. "هغه د لار په جی
تللو".

جل : ځائ: جاله ياځاله هم دې سره ترون لري.
جاله د الوتونکيو مرغوکور يااستوګنه وې.
جالا يا جاله په اوبو د پورې کېدلو يوه کشتی يابېړی وې چې په
يو پېړې روانه وې. جاله وان اوجاله ډوب دواړه سره تعلق لري.
جلاله د مردان ملاکنډ په لاره يو کلی دی. غالبًا د جلال الدين
روښانې په سبب نوملې شوې دی. ممکنه ده چې انګرېزې ټکې
Bridge هم دغه ريښه لري.

حد د چا دی چې دې پل ږدي په بورجل ځوک
که زه نه وې تابه ځان لره بلل څوک

(خوشحال)

عاقبت به آفت ځان لره پيدا کړه
چې جاروزې د بوتانو په بورجل زړه

(خوشحال)

دَ جیم دَ پاسه زوَر نه بلکې غړوندی راځي

قرآن پاک کښې الله فرمايي:

۱: ﴿وَلَوكُنتُم فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾ (النساء:۷۸)

۲: ﴿وَالسَّمَآءِ ذاتِ البُرُوجِ﴾ (بروج:۱)

(قسم دی په اسمان چې خاوند دَ بروجنو دی)

اروابناد حبيبي صيب دَ بورجل معنى اقامتګاه، مسكن ليكلې ده (تاريخ جغرافيائي افغانستان)۔ همېش خليل ئې كور، كوټه معنى بنائې۔ په خوست كښې غوجل ته غيل وايي۔ څړي هم غوجل ته وايي۔

ورور Vrore:

Brother (English) — Broeder (Dutch) — Bruder جرمنی — Phrater يوناني — Bhratar سنسكرت

Brathair ↓ (آئرش)

Bratu ↓ (سلاوي)

Birader ↓ (فارسي)

Vror: B=V ↓ (پښتو)

اخ ↓ (عربي)

اخي = وښی (چې لكه د ورور خوږ وي)

↓

اخښي

↓

اوښی

## بغ

دَ بغ معنى ده زياتې، كښنه، ورانې۔ لوی، غټ

بغ اوباغي يا بغي يوشان تكي دي۔ مغليه بېګ هم دَ Big

معنٰی لري۔ یاغي هم دَ باغي شان مطلب لري۔ معنی ئې ده پورته شوې، برغل کړونې۔ ﴿تَبغِی﴾ (القرآن)۔

انګرېزی Big او پښتو بغ یوشان دي۔ په معنی دَ لوې (دوست شینواری) بېګ، بوګ، بغ دَ لوې معنی لري۔ دَ سرۀ کوتل کتيبه کښې کنشک دَ بګه شاه، شهنشاه په لقب یاد دي۔

غالبًادمغلو الې یو پاتې ټکې بېګ هم دغه مطلب لري۔

پګ، پګه، پټکې هم دغه مطلب لري۔

ع: لاړم ترمسجده نمونځ مې وکړو پګه تر

(خوشحال)

قرآن پاک کښې راغلي دي:

﴿ذَالِكَ جَزَینٰهُم بِبَغیِهِمْ﴾ (انعام ۱۲۷)

په هجران ئې په سنګېر مېشته زما وې
په وصال دمهوشانو زړۀ باغې شي

(خوشحال)

په داهسې قباحت چې دې پېدا دی
دسرې نه به هم بل پېدا وې بوغ

(خوشحال)

تناوونه ئې دَ زلفو دي دا زړۀ مې
لکه ملک دیاغې لاندې ترتخریب شي

(خوشحال)

د پښتـو يـوزوړنـوم بګرام =بغ ګرام پـه مـطـلـب دلوې کلي، خدائي کلي، لوې ښار، دَ تول یعني دروند ښار يامقدس ښار دی. بګرام افغانستان کښې يوه هوايي اډه ده.

دَ بغ ريښـه پـه بغلان کښې هم ښکاره ده. بغداد هم دغسې دی. بغ ياډېنګ مونږ يو مارغۀ تـه وايو چې پښې ئې دنګې وي. اوچت وي. غړانګه ئې لويه وي.

بوګ=بغ=بګ=بهاګه=بوغ=بيګ=باګ

کامل صيب لیکي بوغ دَ لرګي ښانک یا پیالی ته وائي. دَ قار يا خفګانه مخ پړسېدلي ته وائي. بوغما دَ ډېر ګروم خفګان حالت ته وائي. شلېدلو رېمنو جامو او غټې بدشکله ښځې ته هم وائي. بغ ډينګ ته هم وائي. چې هندی کښې ورته بګلا وائي.

زياتی، ورانی=بغ=عربي

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| زيات، لوی | = | Big | = | (انګرېزي) |
| خدای | | Bagwan = | = | (هندي) |
| امير، خدای | = | Baga | = | (اوستا) |
| خان، امير | = | Baig | = | (ترکی) |
| وران، لوی | = | بغ<br>بګ | = | (پښتو) |




د سرۀ کوتل کتيبه په کوشانی پښتو کښې ليک ده او کنشک ته بغه شاه يعني شهنشاه وائي۔ ساکا، پارتي او کوشان دَ پښتو ژبې بنيادونه دي۔ بغ يا ډينګ مونږ يو مارغۀ ته وايو چې پښې ئې دنګې وي۔ اوچت وي، غړانګه ئې لويه وي۔

★★★

بيت

قرآن کښې بيت الله، بيت الحرام، بيت العنکبوت راغې۔
بيوتِ آبَائِکُم، بَيتُکُم ډېر راغې۔
پښتو ژبه کښې وتاک ، اوتاک راغې، شايد "ک" پکښې دَ تصغير نخښه وي او سو چه تېکې اوتا، وتا، وت وي۔ وتکې زمونږ کلوکښې خلق ډېر وايي۔د بيت ب چې په و بدله شي نو وېت يا وت ترې جوړشي۔
بيت هغه ځائ وي چرته چې خلق پاتې کېږي، وسېږي۔

انګريزی ژبه کښې دَ Bنخښه دَ کور دَ شکل نه اخستې شوې ده چې بېت ورته وايي او دَ بېتِ لحم برخه ده.دا فېنېشي ايجاد دی. بېت اصل کښې دَ عبرانی توريِ دی.عربی کښې ب دَ کور نخښه ده. اوتاک دَ اوت تصغير دی. زما په خيال زمونږ بېتک دغه بنياد لري. کۀ چرې تصغير وې نوبيا خبره لا اسانه شي. کور دَ پښتوتکې دی يونانې ورته Core وايي.

Coria; PolyCoria

Leuco Coria

د''کوريا'' نه کور يا کهر = ګهر = ګهرانه

↓

خرانه

↓

خانه ← خونه

CORE دَ يوشي مېنځنی حصې ته وايي. لکه دَ اونې دَ تنې مېنځ کښې برخه. دَ يو ملک خصوصي اوعسکري اړخونه هم په کور بللی شي. په هرحالت کښې ترې مطلب دَ اوسېدو جوګه خوندي ځائ راځي.




T.S of a plant showing Core

مونږ یقیناً چې دَ بره خبرونه دا مطلب اېستی شو چې دَ دې تکوسر چینه پښتو ژبه ده۔

او یعقوب د خدای د ښودلي ځائ نوم بيت ال کښېخود۔ "د ایرث لار کښې بيت اللحم دی"۔ (Genesis 35/15-79)

★★★

## بُوتی

Boto او Botany د انګـریزی او لاطینی تکـي دي۔ هندوستانیان ورته جړي بوټي وايي۔ عربی کښې ورته نبات، نباتات وايي۔

دَ نبات او بوټي ترمېنځه رشته څرګنده لېدی شي۔ په نبت کښې 'ن' دغږي تقاضې په وجه دی۔ چې "ن" ترې لرې شي نو بت یابوټې پاتې شي۔

قرآن پاک کښې راځي:

۱ : ﴿لِنُخرِجَ بِهِ حَبًّاوَّنَبَاتًا﴾ (الانبياء ورومبی رکوع)

ترجمه: "دې دَ پاره چې راوباسو په دې دانې اوګیاګانې"

۲ : ﴿كَمَثَلِ حَبَّتٍ اَنبَتَتْ﴾ (البقره)

۳ : ﴿وَاَنبَتَهَانَبَاتًاحَسَنًا﴾ (آل عمران:۳۷)

٤ : ﴿اَن تُنبَتُوا شَجَرَهَا﴾

ترجمه: "چې زرغونه کړې ونې دَ هغې"

بوټی ← بایټان ← پایتان ← فائتان ← Phyton (a plant)
(Pushtu) Process of Change (Greek)

↓

نبات ← Boti ← Botany
(Arabic) (Indian)

۵ : ﴿فَاَنبَتنَابَهٗ حَدَائِقَ﴾ (النمل)

(بس زرغونه کړې دې مونږ په هغې باغونه)

★★★

## بیګار

وِزر ب = و او ګ = ز

پــه خــوشــحــال بــانـدې د بـېـګـار هـوا ژونـدون دی

مــرده دِلـــه کــهٔ پـــه تــابــانــدې بــيــګــار دی

(خوشحال)

قرآن پاک وايي :

﴿وَلاتَزِرُ وَازِرَةٌ وِزرَا اُخرٰی﴾ (الانعام)

ژباړه :۔ په هېچابه د بل بار یا پنډ (یا بیګار) نهٔ شي غورزولی۔

په بیـګـار کښې ب او ې په بې او بې دواړه ډوله وئیلې شي د بګار معنی ده بې اجرته، په زور یا جبر یامجبوری کارکؤل۔

★★★

Bond

Bound/Bind

بانډ انګریزی ژبه کښې یوټکی دی چې یوه معنیٔ ئې تړل،

تړون، سېلوې، رشته، انخښتونکې کېږي. هندوستانې ژبو کښې ورته بندهن وايي. ضمانت ورته هم وايي.

پښتو کښې "بندی" هغه امېل ته وايي چې د څناورو د غاړې نه چاپېره وي او يو جرس ياتينګ تينګی ورسره تنګېدو لره تړلی وي.

پښتو کښې وندنې يو ټکی هم شته چې هغه يو داسې ځېز وي چې ګېډې پرې تړلې شي.

د عربۍ ټکې بُنې سره د دې تړون پټ نۀ دی




"بــانـدې" وينزې ته وايي، معنی ئې "تړلې" ده. هوتي سره نزدې "باندې کلی" زور يادګار دی. مرهتي کلی او غلاما کلی هم دغسې يادېږي. "که په پردو آبادېدی نو غلاما به آباد وو". دَ بدمرغۍ نه دغه کلو کښې اوس هم خلق قديمي غلامان دي.

پښتو توری تانته چې محاوره شي نو د اوستا Tanda معنی ورکوي. دغسې Bondage اوبنديز يو شانوالې لري.




کله کله بندی د ځناورو دغاړې جرس ته هم وایي۔ جرس زورند وي، یو وې او ټنګېږي۔ بندی د ښاروې مرۍ سره کلکه تړلې وې او یوه نه بلکې ګنې اودې رنګ غتې مرۍ پکښې پېرلې شوې وې۔

د پښتو وندې یعني د زمکې محدوده ټوټه هم د Bound ریښه لري۔ کۀ چرې وندې د بهندوارد سره ریښه ولري نو هم دغه ټول توري سره نژدې نژدې مطلب لري۔

★★★

## بُکا

Buccal: Bucca: خلۀ ور، خلې سره نسبت لرونکې۔

Vocal: Voca : غږور (Pertaining to sound)

د بنیادم غږ چې د ستونې د کوم ځائ نه راځېږي هغې ته Vocal

Cords وايي۔ voice box يا vocal box هم ورته وايي۔ بکه خلۀ دَ وازې خلې معنیٰ لري۔ بکه = چينګه وازه= پرانستي = ارته بېرته۔

Bucca (Latin) ⟶ Baka (Pukhtu) ⟶ Buka (Arabic)

Voca (Latin) ⟶ ونيز (Pukhtu) ⟶ Awaz (Persian)

↓

Voice (Latin) ⟶ ونيز

بکه خلۀ داسې وې چې دَ دوارو شونډو ترمېنځه بېلتون زيات او ډېر څرګندوې۔ دَ ژړا حالت ته هم بکه خلۀ وايي۔

په بُوکا ئې وژړل، په برکا ژړا هم شايد دغسې وې۔

دَ بنيادم سره ځنې څېزونه ډېر اهميت لري۔ لکه اوبۀ، هوا: هم دغسې دۀ سره غږ ډېر زور ترون لري۔ خصوصًا دَ ژبې په حواله غږونه يو عالمګير حېثيت لري۔ دَ بنيادم ژبه ټوله په حقيقت کښې دغږونو مجموعه ده۔ دغه غږونو دَ پاره بنيادم دَ ليک نخښې وټاکلې او په زرګونو زرګونو کلونو کښې دغه غږونه او دَ غږونو دَ پاره بېلې بېلې نخښې دَ ارتقا دَ بې کچه کږکېچن منزلونو څخه دَ تېرېدونه پس دَ علم وهنر او بنۀ ژوندون وسيله اوګرځېده۔ دغسې دَ بنيادم په مزغو کښې ترټولو مهم ځاۍ غږ يعني "وينا" يا ژبې ونيولو۔ په مزغو کښې دَ دغه خصوصې ځاۍ څېړنه مونږ ته دَ اوسنو جهانې ژبو په حقله معلومات راکؤلی شي۔

دَ غږونو دپاره ټاکلو نخښو ته الفبېتې وايي۔ انګرېزی کښې ورته الفابېټ (Alphabet) وايي۔ فکر وکړئ چې الفابېټ او الفبېتې په

غږي ډول یوبل ته څومره نږدې دي.

بوک چرک ته وايي چې هر وخت بانګونه وايي. د بکا په وجه ورته بوک وايي.

'اوکې' کوُل هم د voca او Bucca سره تړون لري. آه و بُکا ورته ایرانیان وايي.

"په بُوکائې وژړل" "برق برق ژړائې وکړه"

"بې باکه" دامطلب لري چې ژړغوني نهٔ وي، وېره پروا نهٔ لري.

بُوغ ستوني، په ژړا بوغ شوي آواز، بُغمه.

دَ خوشحال بابا شعر دی:

تـهٔ پـه خـو بـې غـمـه خاندې خوشـحالـي کـړې
زمـــــا غـــــاړه پـــــه ژړا درپســـــې بـــوږه

دَ بوغ تورې بناغلې ظفر دَ ژړامعنٰی کښې راخستی دی.

دَ بـره بـحـث رڼا کښې چې دَ vocal پـه حواله voice وخبرِلی شي نو 'وئېز' ,voice' به ترې رابرسېره شي.

voice = وئېـز او دغـه دَ آواز سـرچـیـنـه معلومېږي دَ وائیس : وئېز، وئې، وېنا، بیان، آواز په تړون سرې بنهٔ ډاډه کېدی شي.

اوکې یا اوقې چالونو یا قې ته وايي

(( اُبِکُو تَبَاکُو )) (حدیث شریف)

(( اُبِکُو فَاِن لَمَ تَبکُو تباکو )) (حدیث شریف)

﴿فَلیَبکُو کَثِیرا﴾ (القرآن)

"اُبکُوکَثِیرا"

Bucca (Latin) ⟶ بُکه (Pushtu) ⟶ بُکٰ (Arabic)

Voice (Latin) ⟶ وئيز (Pushtu) ⟶ آواز (Persian+Pushtu)

Voice (Latin) آواز (Hindi etc.)

خوشحال وايي :

لابـه کـلـه هـغـه ګل پـه چمن راشي

دنرګس ګلونه ګورې سترګي بکې

(بُوکې :کليات)

دلته دَ بک معنی واز شوه۔ اکوبکو سندربکو هم دَ بکو د

تورې پښتو کېدلو ته اشاره کوي؛ بکواس هم دغه ريښه لري۔

★★★

## بُقعَةٌ

﴿فِي البُقعَةِ المُبَارَکَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ﴾

ژباړه : "هغه توته دَ مزکې چې برکتناکه ده دَ ونې نه"

(القصص:٣٠)

دَ بُقعَه معنی شبیراحمد عثماني تخته کړې ده۔

(دارالتصنيف کراچی)

شايد مطلب ئې توته وي۔

دَ پښتو دمشهور تکي "اوربنتې" ترون هم دغه بقعه سره دی

اورپښتې مرکب تورې دی چې دَ اور جز ترې بېل شي نو دپښتې

معنی بياخرګنده شي۔ يعني اوربنتې = اور بقعتې = اورتوته۔

اورپښتې ټکی مرزاخان انصارې ډېر راوړې دی۔

ق پسې ع پخپله حذف شي۔ مونږ اور اورکې ته اوربکې هم وايو چې څرګند دليل دی د اور بکې = اوربقعی۔ اور پښتی ته جاوکی هم وائي۔

بُق = بُښکهـ = بُښ ( لکه برق= برېښنا وراندې مونږ څېړلې ده)

فِی البُقعَةِ المُبَارَکَةِ مِنَ الشَجَرَةِ

ژباړه: هغه ټوټه دمزکې چې برکتناکه ده دَ ونې نه

(القصص:۳۰)

(ترجمه عبدالله فاني۔ معراج کتب خانه قصه خواني)

بُقت = پُکهت = پُښت

دغسې دَ پښتون دَ نوم ترون دغه ټکې سره څرګند شو۔

دَ بُقعه معنی رڼا ،نور ، دَ رڼا يو جونپک وځې۔

جونپک = ضُون بقع = زونپک = زونپک = خو په معنی دَ نُور، رڼا۔

زومبک=جومبک=جونپک = دَ ستوريويارڼايو غونډوسکی۔

ج = خ = ز =j = z

دغه زمونږ دپښتو عام توري دي۔

دَ جمدر ياجودر بوټې په سر کښې وړې ته زومبکې يا ډومبکې وايي۔

بېله : Bay - la

په دا کښې بې دَ اوبو ريښه لري۔

خليج يا ګلف ته بېله وايي

Gullf او Engullf ترستوني رانغړدلو ته وايي

دَ امېبا دَ خوراک ډول داسې دی چې دَ خوراک دَ شي نه غېږه

راتاوکړي او په خپل پروتوپلازم کښې ئې ورننه باسي۔

Gullf او خليج او Bay دَ سمندر هغه حصې ته وايي چې هغه

په وچه کښې ورننوتې وي۔ داسې ښکاري لکه چې مزکې ورته خلهٔ

وازه کړې وي او دغه اوبهٔ ئې ستونې ته رسولې وي۔

تاسو وګورئ Persian Bay 'Bay of .Bangal

پخپله دَ بنګال توري کښې ب دَ اوبو ريښه ده او Bay - angal

هم ممکن دی




(۱) ګل بېله، (۲) توربېله، (۳) څاله بېله

(۴) ګام بېله (۵) خان بېله

بېله دَ درياب يا سمندر هغه برخه وي چرته چې اوبهٔ نسبتًا

لږې وي۔ دَ خوشحال دَ شعرونو سره دغه معنی جوته ده۔

ګنتهانامو بې زمونږ وخت کښې دَ طالبانو دَ زندان په سبب

عالمې شهرت لري. هغه کښې هم Bay په بره معنی کښې راځي.

د جولائې ۲۸ ـ ۲۹ کال ۲۰۱۰ء سيلاب د ډېرو بيلو نو مونه ورځپانو کښې ځرګند کړل.

د بيله باره کښې لاندې خبرې د فيض الوهاب فيض دي.

"دا بيله دې د درياب نه وتې ماله، وله يا چره وګنلی شي.

فرهنګ خوشحال کښې ئې هم معنی ټاپو ښودلې ده.

قلندر صيب ئې په درياب لغت کښې دا معنی کړې ده

ناوه، ترناوه، ترنا، د لرګې، سيمټو يا وسپنې هغه لويه ناوه چې په نهر يا ولې د پاسه د اوبو تيرولو د پاره اېښودې شوې وي."

"زما په خيال کۀ د درياب مقابله کښې بيله د ولې يا ناوې په معنی واخستې شي نو د خوشحال د شعر مطلب به ښۀ وځي. ټاپو د درياب متضاد نۀ شي کېدی.

"ستاسو خيال د صوتې يوشانوالي ترحد خو صحيح کېدی شي"

قلندر صيب هم د بيله مونږ هندي ښودلې دی خو Bay د انګلش تکی دی خو داسې معنی د دغه قياسونو اجازت نۀ ورکوي ځکه چې په Bay کښې د نهنګ اجل څۀ معنی نۀ ورکوي.

ستاسو خبره صحيح ده خو سل قياسونه د يو دليل مقابله نۀ شي کولی. قياس هغه ځائ ځائ نيسي چې واضح دليل نۀ وي بيا "فهم عام" هم وي چې د سري رهنمائي کوي.

"تاسو تېک وايئ او د قياس له دغه اهميته زۀ انکار نۀ کوم.

تاسو چې د ببله باره کښې کومه د قیاسونو مانۍ ودرولې
ده......

زما خبرې داسې وې
د لرغون تاریخ ډېره اډانه په قیاس ولاړه ده۔ د ژبو باره کښې خو
بله لار نشته"

ببله د خپل پلرنې سیند نه د کمو اوبو لرونکې برخه وې۔ ببله
اصلاً لرغونې پښتو تورې دی۔ تر سومېره او تر بابل ئې مختلفو ژبو
ته رېښې لاړلې۔
ما د ببله باره کښې څو مره لټون کړی دی او لکه د نورو ټکو
مې لکه تاسو هېله لرلې شئ د یقین ممکن حد ته رسولې۔ ګنه هسې
لیکل خو فضول شی دی۔ تاسو وایۍ د قیاسونو اجازه نشته۔ کله
چې قیاسونه ډېر شي اونور دلیلونه ئې په مرسته شي او ګڼ شي نو
خاص حال کښې هغه د دلیل برابر شي۔ تاپو ته خو نهنګ نۀ ورځې۔

★★★

برق

برښن : برېښنا ق = Kh یا Ksh = ښ
پښتو کښې پرق پروق ، پرک پروک راځې۔
برېښنده، برق انداز او پرقنده ټکې هم وئیلې کېږي۔ د
سپوږمۍ پرق مشهور دی۔ د ځلا معنی کښې راځې۔
د سترګو پرق هم وئیلې شي۔ په مخ پرق ته ځپېږه وایي۔

زما ډېر کلک یقین دی چې برېښنا تکې پښتو دی او تر ټولو اورېجنل هم دی۔

برېښ په معنی د درد هم راځي، لکه د برېښنا په تن کښې زغلې، اوسنی مېډېکل پوهه هم درد او ورسره د عصبې برېښنا تائېد کوي۔

۱: ﴿يُرِيكُمُ البَرقَ خوفًا وَطَمَعَا﴾ (الروم ۱۵)

۲: ﴿فَاِذَ اَبرِقَ اَلبَصَرُه وخَسَفَ اَلقَمَرُه﴾ (القیمه:۷۔۸)

دخوشحال د زړۀ خوښې په هغه وخت وي
چې برېښنا دسپینو تورو شي په زغرو

(خوشحال)

چې وبرېښي سپېنکي : د لنديو پرهار شي
يويو مرد بويه خوشحاله : چې په ځائ باندې قرار شي

(خوشحال)

د احمدشاه بابا مشهور شعر دی:

په برېښنا د توري ژوند کوه احمده!
د برې جولان په لور د هر ديار ځه

د برق په مناسبت مونږ په دې کتاب کښې قَعَرَ، بُقعَة، نقش، قنديل، وقود، ثاقب او نورق لرونکې تکې څېړلې دي۔ خو اوشا تول د يو اصول مطابق اورېدلې دي او دغه زمونږ نور ثبوت دی۔

★★★

## بکره

باکره : ابکار

قرآن پاک راوړي دي.

۱ : ﴿لَا فَارِضٌ وَّلَا بِكر ﴾ (البقره)

۲: ﴿فَجَعَلنٰهُنَّ اَبكَارًاO عُرُبًا اَترا اَبَاهO﴾ (الواقعه:۳٦_۳۷)

ابکاره په معنې دَ پېغلې، ناوادۀ جینۍ، نوې رارسېدلې نجل، ابتکار دجدید معنیٰ ورکوي.

بکره په معنیٰ دَ پېغله، نوې، ناوادۀ، تانده، سپینه، دَ لس کلن نه شل کلن پورې.

بَکرۍ په معنیٰ دیو سپین څلېدونکې ښکلې کانې چې یوتربل منبلو سره اور ژېړوي.

دخوشحال شعرونه دي:

چـا ئې پلو دَ جمال وانۀ خستو
پښتولا هغسې بکره پرته ده

(خوشحال)

شبستان مې دَ ابکارو معنو ځائ دی
تې ئې نمورم په غدو او په آصال
چې دې لاس په باکره برشي پرې ئې مۀ ږده
کۀ دې ځائې شي په هغې جهان سقر

(خوشحال)

غُدُوِّ والآصال: سحر او نماښام

داسې هم وايي فلانی جينی دومره ښکلې ده لکه سپينه بکری۔ دَ بکری توری سو چه پښتو دی۔

**اَلاَبكارُ اَوّلُ فَجرِ** (بخاري كتاب التفسير)

اِبکار دَ سحر ورومبی برخې ته وايي

لاس پـه باکره برکېدل دا مطلب لري چې کهٔ چرې وس دې ورسې۔ دوېمه مصرعه اصلاً دامطلب لري چې کهٔ ډېره ګرانه درپېښه شي نو هم۔ دَ سقر لفظ دَ اور په مناسبت دَ بکری کانې په حواله راوړی شوی دی۔ دشعر مطلب قطعًا دا نهٔ دی چې دَ ګناه ارتکاب دې وشي۔ کهٔ ډېره زياته ګرانه او تکليف ده هم وې تکليف برداشت کره۔ کهٔ مبالغه وې، بياجائزه وه۔ ولې دَ شعرنه غلط مطلب اخستل غلط دې۔ تاسو دَ شيخ سعدي دَ بهارستان آخرې برخه راوړاندې کړئ دا به درته هيڅ ښکاره شي۔

شيخ سعدي وايي جينی ګاځره غوارې، غوښه نهٔ غوارې۔ ځوک چې پاسېدلو لره په همسائهٔ شي پاسېدی، دهغهٔ امسابه ځهٔ پاځې۔

"بطن وفرج توام اند" سعدي

ولـي بـحـملـهٔ اول عصائے شيخ بخفت
کمان کشيد ونـزد هدف کـه نتوان دُ وخت
مگربسوزن فولاد جامـهٔ هنگفت
تـرا کـهٔ دست بلـرزد گهر چهٔ رانی سفت

زور بایدنهٔ زرکه بانورا
گزرے دوست ترنه ده من گوشت
بوئے یازازدهن خوبروی
مرد راکیر وخایه زینت وبس

(سعدي)

★ ★ ★

جینۍ:

"جینۍ ته پښتو کښې دا تکی وئیلي شي "جینۍ. جله، جل، انجلۍ، نجل، انجل، ماشومه، وړه،سپي سرد، کچنۍ، سرکونډي،جونه، نجونه، جن (Latin) Domine (italian)Donna جندون = جمدون = ژوندون هم دغه حال لري. زنده اوزندگي هم دغه ریښې لري. دَ پښتو جونه = دَ اطالیه ډُونه.

دَ انجلۍ نه Angel وتي دی. جونه اونجونه او انجونه کښې هم دغه حال دی. اوستاکښې ورته Jaini وایي.دَ عربۍ جن او جانٔ (جنات) هم دغه مطلب لري. عربۍ کښې جن او جان هغه څهٔ ته وایي چې پټ وي. په نظر نهٔ راځي. پټ ساتلی شي.

دلاطینۍ Gyne هم دغه مطلب ورکوي. لاطینۍ کښېGymno ، Gymnosperm دَ پټ معنی لري . په کروموسومز کښې Genes پټ وي. Genetics او Geneology دغه شان دي. Genes خصوصیات وي.

دَ اشنغر جېندي سين داسې دی۔ جېنډې = جېن توې يعني پټ سيـن لـکـه وزيـرستـان کښې شـکتـوې، دوه تـوې او دَ سـوات سيند،سوتو پوتوې۔

Jintwe = jin-ti = Jindhi = Jendy = جېنډي

دَ جېنکو سين=وړوکی سين= جېنـکو به ترې اوبۀ راوړې۔ هغـوې لـره تـاکـلې شوې وو۔ دسواته راروان دښاپېريو سين، پټ سين، يـو کـمـزوری سيـن، يو داسې سين چې جېنکو لره دَ اوبو وړلو، زړوکو وېـنځـلو، غونډېدلو،لامبلو دپاره يو وخت کښې مخصوص وو۔ مونږ دَ ګـنـګا درياب شننه هم دغسې کؤلی شو۔ ګنګا=جن+جايعني ګنګا= جينۍ + ځـائ، ګـنـګا دَ هندوانو دَ جېنکو دَ اشنان دَ پاره پېژندلی سين دی۔ جـمـنـا هـم دغـسـې تـوتـې کېدلی شي دا دې ياده وي چې په اولنې رګ وېدا کښې دَ ګـنـګا جمنا تورې نشته بلکې دَ کوبها، سوتې پوتو، ګـومتـې، تـرېـښ تـوې، وغېـره نومونه ډېر زيات لري۔ مطلب دا چې دَ رګ وېـدا لـيـکـونکې او ويونکې پښتونخوا کښې وو او چې هند ته تر لري لري ورننوتل نو هم پرې لا دَ پښتو اثر پاتې وۀ ج = ز = ګ = ژ = ږ = دَ زج = j = g = z = d دارالسلام = جبروسليم = پروشلم

زيـات امـکـان دی چـې پېـغـلـه دَ جـل نـه وتـې ده۔ لکه پېغله : بېګله :بېجله۔

Genitalia او Gentals يـونـانـي تـوري دي۔ دَ جـينـۍ ريښـه لري۔ Genotype او Genus پـه معنی دَ Race راځي۔ Gon يـوناني

کښې جنریشن ته وایي۔

کامل صیب لیکي: باړی ته جهندي وایي۔ جهندي او زیندي یو دي۔

په انګریزی توري Virgin کښې هم دَ جینۍ ریښه ده۔ Gender انګریزی کښې Sex یعني مونث مذکر ته وایي چې Gen پکښې دَ جینۍ ریښه ده۔ یوناني کښې جېن نوغې یا نسل ته وایي۔ جېن دَ جرثومه معنی هم لري۔ دَ جینۍ مقام تناسل ته Vagina وایي چې دَ جینۍ ریښه لري۔ نسل یانسلي شجره او تسلسل هم دَ جېن ریښه لري۔ The book of Genesis دَ "زوړ کتاب" یوه برخه ده۔ Generate معنی پېداکوّل هم لري۔ دَ پارسی زن هم دَ پښتو ژبې دَ جینۍ نه وتې دی چې ج = ز بدل شوې دې۔ Gender Bender کاوخه ته وایي چې جینۍ مخې وې(oxford) نۀ نر وي نۀ ښځه۔

Gyneacology یعني دَ زنانه ناروغیو علم هم دغه ریښه لري۔ لفظ زنا لکه وَلا تقرَبُوالزّنا هم دَ جینۍ نه وتې توری دی معنی به ئې 'دَ جینکو کار' وي۔ دَ ګلستان سعدي یو شارح دَ جینۍ معنی ځواني کښلې ده۔

دَ عباسي خلیفه مامون الرشید مور او دهارون رشید کور وداني "جل" نامه تاریخونو راوړې ده۔ چې دَ پښتو توري سره ئې په نسل ونسب رڼاغورزېږي۔ دغسې مونږ دَ طاهر "خراساني" او ابو مسلم "خراساني" پحقله هم فکر کوّلی شو۔ دَ امېن مور زبېده عربې وه اود

مامون مور پښتنه (عجمۍ) وه۔

دَ منصور ابو مسلم، دَ هارون برمکيان: خالد او زامن ئې او دمامون طاهرخراساني يوشان انجام لري۔ مرجېله = مورځلا = اُمَ النَور

امَ النور دَ هارون تېر وکړ ځېدو، دا دمشهور استاد سپس لوُر وه۔ سپس په پښتونخوا کښې تر خراسانه دَ عباسيه په ضد بغاوت کړی وۀ چې ووژلی شو او لا دې بنديوان شو او لوُر ئې دَ هارون خوښه بې بې شوه۔ دَ پښتنو لونه مال غنيمت وې نن صباهم دغه لوبه وشوه۔

دسپس بغاوت دَ ابو مسلم اوبياد طاهر يوه کړی ده۔ ضروري نۀ ده چې مرجېله دَ اُمَ النورمتبادل وې۔ مَريا مَېر دَ نمر په ځائ ډېر پښتانۀ وايي او بقېن کېدی شي چې دا "نمرځله" يا "نمرجله" وې۔

دَ محکومانو لونه دَ حاکمانو مال غنيمت وې۔ د ثور بدلون نه وروستو بې شمېره پښتنې جينکۍ عربيانو په مال غنيمت کښې وتښتولې۔ وزيرستان کښې پرې تر ننه پسات دوام لري۔ دَ عبد الله بن عامر کانی وشوې۔

★★★

## جُند:

جُنود په معنی دلښکر قرآن پاک کښې راغې۔

١ : ﴿هَل اَتٰكَ حَدِيثُ الجُنُودہ فِرعَونَ وَثَمُود﴾ (جنود)

٢ : ﴿وَ اَنزَلَ جُنُودً اَلَم تَرَوهَا﴾ (التوبه:٢٧)

٣ : ﴿وَ لِلّٰهِ جُنُودُ السَمٰوٰتِ وَالاَرض﴾ (الفتح:٤_٧)

۴: ﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ﴾ (المدثر)

۵ : ﴿جُندٌمَا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّن﴾ (الاحزاب)

٦ : ﴿اِنَّ جُندَنَا هُمُ الغٰلِبُوْن﴾

جُند کښې چې ج په ګ واوړي لکه اصول دی نو ګوند ترې جوړ شي. ګوند معنی د ډلې، پارټی. لښکر لري ج = ګ = j = g جېندې د يو ګل نوم هم دی. ګوندک د کنډک سره يوه معنی لري، کنډک هم لکه ګوند د حېواناتو مجموعه وي. ګاونډي هم د دغه نه مشتق دی.

غونډ او غونډه په معنی د رايوځای کېږي هم زمونږ تصديق کوي. ګوند يوې ډلې يا سياسي پارټۍ ته هم وايي. دَ ګوندک په حواله هسپانوي ټکی gonado هم دی چې هلته به د بنيادم د تولنيز حېثيت پته د هغهٔ دَ خاروو نه لګېدله. GONADO "ګوواره" معنی لري.

دَ خاروو لرلو په بنياد امارت يا سرداري پښتنو کښې عامه ده. دَ بنګالي او هندي ژبو "جنتا" هم دَ پښتو دَ ګوند نه وتی دی. ګنتا کښې چې ګ په ج او ت په دَ بدل شي نو ګوند ترې جوړ شي. لس ګون، شلګون، زرګونه او دغسې برغون يا غبرګون هم دَ دې. چند ګنّا، دوګنا، پنج ګنا هم دغه حساب کښې راځي.

اشرګنډي = عشر + ګونډي هم دغي لور ته ګوته نيسي.

(عربي) (پښتو) (هندي) (اسپانوي)

جند ← ګوند ← جنتا ← GONADO

غونډ. کنډک ګنتا

اشرکندی. ګاونډي

کنـډک دَ ډوډی ټکړو ته هـم وايي. ببا په چړ راټـولې شوې ټکړې چې وې.

ع: پـه کچکول کښې مې پراته دي څوکنډکه

(خوشحال)

دَ هـند په لرغونو قامونو کښې يو ګونډ هم يادېږي. يقين سره دغه دَ پخوانيو پښتنو يوه ډله وه.

(Arabic) (عربي) (Spanish)

جنود ← Gonado

ګوند (ډله) (Pushtu) — جنتا (Hindi+Bangali)

= کنډک: پښتو — ګنتا (Hindi)

= ګونډې: پښتو — (English) Genta

= ګاونډي: پښتو — (Gentalman)

= غونډ

= (Conglomerated)

ټولنېزسری، شائسته سړی، ښائسته غړی.

غونډ :پښتو ج = ګ = g = j

(Collection , conglomeretion)

"جنتا" اولس ته وايي.

## جُناحُ،ګناه:

داتکی راتـه ښاغلي مشتاق مجروح یوسفزي ښودلی دی.د جناح توري به خوشحال سره په لاس رانهٔ شي خو دګناه یا دَګوناه توري دَ پښتو، فارسی او هندوستانی ژبو عام تکی دی.ګ په ج او حا په ها بدلېدل عامه اورېدنه ده.قرآن پاک کښې جناح توري ډېر ځایه راځي.

۱ : ﴿لَیسَ عَلَیکُم جُنَاحٌ﴾

خوشحال وايي

په دا کلي کښې څوک نهٔ لرم نېک خواه
کهٔ رښتیا وایم هم دا لرم ګناه

ج : ګ :g
ح : ا

یو باندېڅي پښتون به ئې "ګُونا" وايي.

★★★

## جمدر:

جمدر په معنی دَ تېغ، توري، چاړهٔ، یوه امساچې څُوکه ئې تېرهٔ وي.ج په ګ او دَ په ت بدل شونو ګېنترې ترې جوړه شوه.د جمدر تکي اصلاً لرغونې پښتو ده. سول هم ورته وايي چې دواړه غاړې ئې تېرې وي.

تسبې په لاس کښې په نظام پور کښې
ناست یم مسجد کښې جمدر تر څنګه

(خوشحال)

دَ کنترۍ ټکې په جمدر کښې بدل شو او نورو ژبو ته لاړو۔

ج = ګ = ل

دَ = ت ده = ت

ګِنتري لکه دَ کوډالي، بېلچې یوه آله وي۔

★★★

جېش:

په معنٰی دګواښ = ګوېښ = ګېښ جېش په معنٰی دَ لښکر، فوځ، دَ جنګې بنیادمو ګڼه راځې۔ قرآن پاک کښې جَیشِ العُسرَة راغلی دی۔ صحیح بخارې شریف کتاب المغاذي راوړې دې۔

اِذهُم مَعَهُمْ فِی جَیشِ العُسرَة وَهِیَ غُزوَةُ تَبُوكَ۔

ګواښ او ګېښ په ډول دَ فعل او اسم صفت دواړه راځې۔نن سبا پنجابې ورانکارو دَ جېشِ محمد، جېشِ صحابه په نوم ډېر ګواښونه په پښتونخوا کړې دې۔دې خلکو ټوله پښتونخوا وېجاړه کړه او لروبر ټول پښتانهٔ ئې تباه برباد کړل۔ دوې اصل کښې دَ پنجاب بالادستې قائم ساتل غواړې۔ پاکستانې پوځ دَ دوې ملاتړ او کلک ملګرې دې۔ جېش = زواښ او زېښ هم کېدی شي۔

جبیبی صېب او دوست شینواری د ګواښ معنٰی سوله او له جنګ ژغورل ښائی۔ مردان کښې ئې مونږ د جنګ معنٰی کښې اخلو او دغه سره جېش ګڼو۔

به شر مګينی عثمان که جيش عسرت را

جهاز ساخت به بذل ذخائر اموال

(جامی)

★★★

## جَلوَی:

ځلا : ځلوه ج په ځ واوړېدلو او و+ ه په الف واوړېدل

(Old English)=Glow
↓
(Arabic): Jalwat
↓
(Persian):Jalwa
↓
(Pushtu) :Zala
↓
(Hindi) :Jalna.Jalo
↓
Indian: Jila جلا

ج=ګ= z =j

په معنٰی دَ سکروټه، يوه لنډه اوړينه تماشه دَ Glow نه جلو او جلانا په اسانه ابستی شي. جِلا (Pushtu) : indian ځلا (Persain) جلوه (Hindi)(English) Glow جلنا Jalo = Bengali ځلندهٔ، ځلېده، جلن.

ج = ګ = ز

z = g = j

دَ بنګاليانو يوه غټه ناره "آګُن جالو" وه. جالو پکښې څرګند دی.

## جِدار:

جدار توری د قرآن پاک شپاړسمه سيپاره کښې وروميې رکوع کښې راځی۔ ج = ګ = G

ګدر لکه ګدر، حمزه خان دَ مردان سره کلې دې دَ فاطمه يونين کونسل سره دې۔ ګودر هغه ځائ بللی شي چې دَ اوبو په مېنځ کښې دَ پورې راپورې وتو تګ ځائ وي۔ دغلته دَ اوبو ژورتيا لږه وي۔ اوبۀ لږې ډونګې وي۔ په قلاره وي تېزې نۀ وي۔ اړخونه به ئې په ختو کوزېدو اسان وي۔ دغلته عام خلق پورې راپورې ځې راځې۔

دَ ځاروو دَ اوبو څښکلو او پورې راپورې وتو ځائ هم وي۔ دَ کلي تور سرې دغلته جامې وينځي او کورونو ته ورلو لره منګې هم ډکوي۔ دَ غرمې وخت کښې نارينه دغلته نۀ ورځي۔ دَ چينې غاړې ته هم ګودر وايې۔ ګودر په خوړ، نالې، سيند ګوتې يا لوې سين باندې وي۔ دَ سمندر په غاړه يو ځائ هم ګودر بللی شي لکه دَ بلوچو سهېل ته دسمندرغاړه چې Gawadar نومېږي او زمونږ زمانه کښې پرې پنجابيانو+پناګزېنو په زور قبضه وکړه چې ښۀ ډېر پسات پرې وشو۔ دَ هندو ګودر، دَ اټک ګودر، پېهورګودر۔ دَ عرب جدار دَ پښتو ګودر څخه وتې دی کله چې يو تکی دَ يوې ژبې نه بلې ته واوړې نودغسې وي۔

(پښتو) دېوال = (فارسې) ديوار

Wall (انګرېزې) = ديوار ( هندوستانې)

دَ غرېې رنګارنګو سره جدار دَ دغه دېوال او ګودر نه وتلې شوې

توري دی۔ ګدر حمزه خان دَ خوشحالیاتو سره ډېر نزدی ترون لري۔ حمزه خان دَ خوشحال خان اوښې دَ صدرخان ماما، دَ ملوخان یوسفزي زوی دَ یوسفزو سردار وهٔ، دَ رستم کلي (تپه سودم) وسېدونکی وهٔ ګدر حمزه خان سره نزدې جمالګړهی۔ دَ هغهٔ دَ زوې جمال خان یادګار دې۔

دَ حمزه خان اوجمال خان تعلق دَ خوشحال خان خټک سره ځهٔ دَ ستائېنې وړ نهٔ وهٔ کو چې هغوې ئې مخالفت باندې ځرګندېدل هم نهٔ خوښول۔ حمزه خان او جمال خان دَ مغلیه صوبه دارپه بدو دَ مومندو خلاف دَ هغوې په علاقه ننوتې وو۔ شهنشاه ډهلې پرې دَ هغهٔ محاسبه او مواخذه کړې وه۔ خوشحال په یوسفزو کښې دَ خپلې ناکامۍ ذمه وارې ترځهٔ حده په حمزه خان وراچوې۔ دَ خوشحالیاتو نه ځرګندېږي لکه حمزه خان دَ سمې سوات تړوله یوسفنامه کښې جوت حېثیت لرلو"الثالث باالخیر اصطلاح" ئې دَ حمزه خان دَ پاره راوړې ده۔ دَ ډېرو کلیو دَ نومونو سره دَ هغوې ترون هم دغه ځرګندوې۔ ماچې پخپله دَ یوسفزو ځهٔ مشاهده کړې ده هغه دَ حمزه خان دَ ځهٔ والې نخښه نهٔ لري البته دَ خوشحال بابا کورنۍ ته پناه ورکؤلو کښې دَ یوسفزیو کردار کښې دَ حمزه دَ کورنۍ پټه پناه برخه ضرور وه۔ چې زمونږ تاریخ لیکونکې ئې دَ نظره غورزوې۔ ګدر، حمزه خان او جمالګړهی دَ هغه ځایونو سره ډېر نزدې دې چرته چې دَ خوشحال بابا بال بچ دېره وهٔ۔ سېکرۍ، سنګاهو او وراندې کوئې او برمول چې دغه سیمه پرې دَ یو غر په ذریعه دَ بونېر نه بېلېږي۔ بونېر ته دَ خوشحال

ورتګ ښکاره کوي۔ دغه د موري غر دی۔ دغه سیمه کښې لرغوني بودائي اثار هم پریمانه دي۔ خوشحال دَ رستم نه هم په اسانه بونېر ته تلې شو اوهلته ئې خلکو سره لېدل هم کړي وو۔

برمول کښې نن هم ورونړې ډېرې زیاتې وې اوبۀ پکښې ترننه یوائې دَ آسمان نه راځي۔ وایي چې ډېر زر به یوه ویاله دمالاکنډ نه په برمول راتېره شي

★★★




جغ Jugh:

YOKE (انګریزي) په معنٰی Yoke: Slavery

یوغ (فارسي په معنٰی دَ جغ)

Vokten (پهلوي په معنٰی جغ)

کۀ فکر وشي نو دلته هم د "ي" او "ج" یو تربله بدلون څرګند دی۔ لکه جورډن : اردن Jordan (دلته "ا" او "ي" برابر ګڼلي شوي دي)

طوق:

هندکو کښې جغ ته وايي چې عربي يا فارسي توري دې. طوقِ غلامي. طوق: توک: چوک: جغ. په هندي ژبو کښې هم جوت توري راځي دغه هم دَ پښتو دَ جغ يا جوغ نه اخستې شوې دې.

جوتې ځاروې هغه ته وايي چې دَ جغ سره بلد شوې وې، په يوې کؤلو يا نور کار عادت وې، بلد شوې وې او وراني نهٔ کوي، اېل شوې وې. دَ هندي ژبو جوتنا دَ پښتو دجغ نه وتې دی. دَ هندي ژبو جتن هم دغسې دی، دې کښې څهٔ ټکې دَ محاورې په ځائ راځې او څهٔ په اصل معنىٰ کښې. دوارو حالتونو کښې ئې مطلب څرګند دی. کامل صيب ليکې چې يوغ جغ ته وايي.

Yoke هم هغه شي ته وايي چې دوه ځاروې پرې سره وتړې او په يوې ئې واچوې. يوې ته يُوم وايي. ناجغه دَ وحشي، بدتهذيبه، آزاد، بېواکه معنىٰ لري. سنسکرت کښې ورته يوګا وايي Yoga کهٔ غور وشي نو يوګا دَ پښتو جغ سره نزدې مطلب لري. يوګا عبادت کؤل يا Exercise کؤل وې. ناجوتې هغه ځاروې ته وايي چې کار سره بلد نهٔ وې او په کار کښې سخت وراني کوي. تاسو فکر وکړئ توک، يوک، جوک سره نزدې پرېوزې. جوتې اوناجوتې کله کله بنيادم دَ پاره هم راځې. جوته په معنىٰ دَ څرګند هم جغ سره نزدې تړون لري. جوتې دَ اسپو دپاره هم راځې، کله ورته دوچې يا دوشې هم وايي. په دوه جوتو هغه ته وايي چې لتې وهې يعنې ناجغه وې.

د خوشحال شعر دی۔

د دې دور یـــاران واړه مـــنـــافـــق دي
پـه خلـهٔ تـاسره هو هو کړه په زړهٔ یوغ

(خوشحال)

Joke پـه مـعـنـی د توقې وشتې د هندي توري جوګ او یوګ سره نزدې معنی لري۔ جوګې، یوګې او Yoga دغسې تکې دې۔ غټه خبره داسې ده چې جوک = یوک او دغـه یوک = توک او دغـه توک:توقی۔ آخرې e په توق کښې اودغه څرګنده "ې" شي

توک : توقې:

توک او توک د یوې توتې، حصې، برخې معنی هم لري او دغې تـه مونږ د تلې جوک وایو څو جوکه دې واچول؟ تلونکې چې په تله (Scale) غنم تلې نو ورسره په زوره زوره وایي، دوه جوکه، دوه جوکه ، دوه جوکه۔۔۔۔۔ د دې د پاره چې هېر ترې نهٔ شي۔

د خوشحال بابا شعر دی

خوې د پلار دنبکهٔ هېڅ ورسره نشته
په لیکه په جوکه تېر دې تر هندوانو

(خوشحال)

د "ج"، "ې" بدلون داسې وي لکه جېروسلم : یروشلم، جورډن = اُردن، یعقوب = Jacob

تله یا Scale داسې تکی دی چې "کَیلَ" سره نزدې تړون لري۔

﴿فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ﴾ (سورة يوسف)

Jugh → (Pushtu)
↓
Yoke (English) → Yoga (Hindi)
↓ ↓
 Yoge
Tauq (Tauk) (Hindko)
↓ ↘ (Joke) → وښته توقه
Towq (Persian)
↓
Jote Jotna (Hindi)

جُوتي (Pushtu)

دَ جغ دَ تورې سره تړلی تورې جغونډې هم دی. دا خبره جوته ده یا څرګنده ده. جوت مونږ زوت = تجوید سره هم خپلي دی.

★★★

## جسم، جَثّه = جوثه:

س او ث یو تربله واوړېدل. دا هم ده چې جسم او جوثه کښې اصل تیکي اخه دې اخه باندې لړ وضاحت به دَ لباس او کمېس سره وراندې راشي. قرآن پاک راوړې دې

١ : ﴿وَزَادَهُ بَسطَةً فِي العِلمِ والجِسمِ﴾ (البقره)

اخه بدن ته وایي کلیات خوشحال کښې اخه ما چرته لېدلی نهٔ دی. مبالغه به نهٔ وي چې دَ پښتو تیکي عربی ته ورتلل یو مطلب لرلي شي چې دَ ژبو مور پښتو دَ بنیادم ورومبی ژبه وه چې دَ باختر نه کابل ته راغله دَ کابل نه مراد توله پښتونخوا ده.

کله چې آلِ اِبراهیم "وِادغَیرِ ذی زَرعٍ" ته وکوچېدل نو ځان سره ئې دَ هغه باختري (پښتو) ژبې تکې یوړل چې وروستو عربې شوه۔ دَ ابراهیم علیه السلام سفر تر مصر منلی شوی دی نو دَ ناهور اولاد تر کابله ولې نشي راتلی۔

★★★

جَذوَة : جَذوَةٍ مِنَ النَّارِ (القرآن)

جزوه : ګزوه:

سترګو ته مې ګزې مزې کېږي۔ داوړ داسې ډېر وايي۔ دَ بارې مومند هم وايي۔ جذوه معنی دَ سکروټې ښندې۔ شاېد لنبه ترې هم مراد وې۔لنبه دَ وړلو شی نۀ دی خو محاوراتې استعمال ئې ممکن دی۔

یو هسې ستوری راوخوت په داتېره زمانه
چې ګزې دَ لنبې غوندې ترخلې ځې زبانه

(خوشحال)

په دې شعر کښې کۀ مونږ ګزې په معنی د Yard وانخلو نو مطلب ئې جزوه ته نزدې کېږي۔ پخپله دَ Yard نه ې هم اختتل اسان دې۔ دا خبره حرفِ آخر نه ده چې خوشحال ګزې په هغه معنی کښې راوړې دی کوم چې نن سبااکثر خلق اخلې ګزلکه او ګزوه دَ تورې یا دَ تورې دَ خلې معنی هم لري۔

اسماعیل غوندې به دې راته تسلیم وۀ
کۀ په حلق مې دَ نظام کښېوه ګزلکه

(خوشحال)

## جس

### جست

انګرېزۍ کښې ورته Zinc وايي- ريږوېدا کښې دَ Ayas په نوم راځي- دَ Ay غږ په "ج" بدلېږي- دې کتاب کښې ئې ډېر مثالونه شته-

"کرسن جست" ماتېدونکي "جس" ته وايي-

ريږوېدا کښې اسپې ته Ashva وايي چې څرګنده پښتو ده- دغه کتاب کښې Ass ته خر وايي چې سُوچه پښتو ده- "مېښې" ته Mahisa وايي- پارسۍ کښې ورته "ميش" وايي-

دا خبره يقيني ده چې ريږوېدا پښتونخوا کښې ليکلی شوی دی- دا خبره چې اشلوکونه منزلونه ئې جوړ شوي، دلته وو او ليکنه ئې پورې لرې هِند کښې وه، معتبره خبره نه ده-

★★★

## دَرَک:

اته پته، درځني تصغير" کور، وره دروازه، علم، پوهه، خبرقرآن پاک راوړې دي

١ : ﴿وَمَاأَدرَاكَ مَايَومُ الدِّين﴾

٢: ﴿بَلِ الدَّارَكَ عِلمُهُم فِى الآخِره﴾ (النمل:٦٦)

٣ : ﴿إن أَدرِى أَقَرِيب﴾ (الجن:٢٥)

خوشحال وايي :

چـانـې هېـڅ درک را نـهٔ کړو چـې دَ چا دي
مـــونـــــارې مــــې ډېـــرې ولېـــدې ولاړې

(خوشحال)

یقېن لرم چې درک سو چه لرغونې پښتو توري دي-

★★★

هـاستېل (Latin) = هـسـتـوګه =استـوګـنـه : اوسـېـدلو سره هم ترون لري-

هـاستـېـل : اوسـتـل: اوسـېـدل (ت : د) : دَ اوسېدو ځائ هاستېل : اصطبل (فـارسـې) : اس+تـوُل) طبـل (تـول) : طـوېـلـه (فارسـې ، هندي) دَ اسپو ساتلو ځائ

★★★

وَل:

دَ یـو نېـغ شـي په نېغ والي کښې خلل راتللو ته ول وايي- دغه ول دَ غـوټـې شـکـل هم اختـیارولې شي-ول پرې کښې وې تندې کښې وې، دَ پټـکـې ول ځـانـلره وې- ول ئې ورته ورکړو- چل ول کؤل محاوره ده- ټولو کښې یوه معنٰی نغښتې ده چې دَ عربی دَ ول سره نزدې ده- قرآن پاک کښې راغلي دي

١ : ﴿اَن تُوَلُوَ وُجُوهَکُم﴾ (البقره)
چې تاسو مخونه واړوئ

٢ : ﴿لَوَ لَّیتَ مِنهُم فِرارا﴾ (الکیف:١٨)

دَ هغوئ ځنې شاتاوکرې وتښتې

۳ : ﴿إذا وَلو مُدبرين﴾ (الروم:۵۲)

۴ : ﴿وَمَن يَتَوَلَّ فَإنَّ اللّٰه هُوَالغَنِیُّ الحَمِيد (الممحنة)

"څوک چې تاوشو۔ شاته ئې ول وکړو (وتښتېد) نو اللّٰه بې نيازه دَ ستائېنې دی۔" وَل ته هندوستانې بَل وايي "بياسته وسوه خو وَل پکښې پاتې شو۔"

وخت سېزلی اېره کړی خو لا وتې ترېنه نهٔ دی
زماژوندکښې دَ جانان غم، داسې ښکارې دَ بُونِ وَل دی

۵ : يُوَلّوُنَ الدُبُر۔

چې کونه تاو کړې، شاکړې، وروستو ول کړې۔

٦ : وَلّو الٰی قَومِهِم مُنذِرين

ستون شو خپلو قامونو ته خبرونکې

خوشحال ليکي:

يو ګلزار په يوه درنګ کښې شګفته شي
چې ئې زلفې په بارخو باندې ولول شي

(خوشحال)

۷ : لَوّوُ رُؤُسِهِم:

(هغوې خپل سر واړوې)دَ لَوّوَا معنٰی داده چې خپل سرونه په ټيوبه خوزوې۔ څنو لَوُوُ په تخفيف دَ واو لويت لوستلی دې يعني سر ئې بل خوا واړولو۔ (صحيح بخاري.کتاب التفسير)

په هرحال زمونږ دَ اوربدو، تاوېدو او ول معنٰی هم دغسې ده۔

ـ هونبره دخوشحال خټک تقوې زهد پرهېز شته
ستاچې تورې زلفې په سپین مخ باندې ولول شي

(خوشحال)

۸: ﴿وَلَّوا عَلٰى اَدبَارِهِم نُفُورا﴾ (بنی اسرائیل)

۹: ﴿وَمَن يَوَلِّهِم يَومَئِذٍ دُبُرَهُ﴾ (الانفال:۱٦)

او څوک چې وکرزوې دوې ته په دغه ورځ شا خپله

ع: دَ سر وېښتهٔ ئې تور، نرۍ وږدې ولول ئې زلفې

(خوشال)

دورځو نومونه:

دا معلومه نهٔ ده چې د ټولې نړۍ خلق د اوونې په حساب ولې وختونه وېشي۔ ابنِ عباسؓ وائي چې د ۷ هندسه د الله خوښه ده۔ دَ ۷ هندسه د فلکیاتو مناسبت لري۔ اووهٔ آسمانونه، سمندرونه او سیارې۔ دَ ۷ هِندسه لکه لس خصوصیت نه لري۔ دَ ۷ هندسه څهٔ ډېر خوند نه لري۔ د سو میریانو لرغونې کلنډر د اوونۍ د اووه ورځو په بنسټ وهٔ۔ دغه بابلیانو د اوسنې ۷ میلونو هونبره یو میل لرلو۔ د هغوی د سپوږمۍ په بنیاد دولس میاشتې کال ګڼلو۔ د ستوریو پوهنه ئې هم لرله۔ هغوي نه دغه خبرې یونان، هند، مصر ، ساساني ایران، بازنطین او د اسلامي دور سره اروپا تـه لاړلې هفت اقلیم او دغسې روحاني عالمونه هم دي۔ د اسرائیلو د "سبت" نه معلومیږي چې هغوي هم

دغسې حساب کؤلو۔ قرآن پاک کښې هم د تخليق مياد ته اشارې شته۔ موسى عليه السلام د الله د غارې اووئيل "تاسو به شپږ ورځې کار کوئ خو اوومه به د درناوې او قلارې سبت وي"۔ " په دغه ورځ کار کونکى به وژلى شي"۔ " په دغه ورځ به کورونو کې اور نه بلېږي"۔
Exodus35/2.3

ښکارې چې ۷ ورځې، دېرش ورځې، مياشتې حساب د مصر نه اخستى شوى وو۔ معلومېږي چې د سبت يا خالي ورځ د چوتۍ په معنايو قسم اصلاحي قدم وؤ۔

د خالي ورځ ورته ځکه وائي چې د هر کار نه خالي وه۔ دغه د هفتې يا سبتې ورځ د اوونۍ ورومبۍ ورځ شوه او دغه د ټولنيزې چوتۍ يا د ناغې ورځ وټاکلې شوه۔ دغه د کاره خالي ورځ ته د پښتو "خالې" وائي او دا زمونږ د ژبې د لرغونتوب پوخ دليل دى۔ پښتو د هغه وخته ډېره ورانده وه کله چې يهوديان د موسى عليه السلام د قابل قيادت باوجود د دغه ورځ د منلو نه بغاوت وکړو۔ د اسرائيل اولاد دغه وخت لا د طفوليت زمانه کښې وؤ ځکه چې د يعقوب او د موسى تر منځ دا زمانه ډېره زياته نۀ ده۔ کۀ يو اځې د خوشحال خټک "نظريۀ ناهور" ومنو نو هم پښتو د عبرانۍ نه مشره ده۔ Saturday ورته د Satrun سيارې د عبادت په سبب وائي۔ Saturn د روميانو د يو بوت "د روميانو خداې" نوم وؤ۔ دخالي دغه د چوتۍ ورځ انګرېزۍ کښې Holiday شوه۔ بيا ئې مذهبي تقدس وموندلو Holy وګرځېده۔

داوونـۍ دویـمـه ورځ اتبار شوه چې څۀ ژبې ئې اتوار راخلي۔ بار او وار دواړه پښتـو ژبـه کـې هـم دغه مطلب کې ډېر راځي۔ لکه د پټو د اوبه خور وار چې څنګه وي۔ ایت د Heat سره نزدې دی او د نمر مطلب لـري۔ لــکــه مـونږ دې کتـاب کې آفتـاب څـېـړلـی دی۔ انـګرېـزان ورته Sunday یا د نـمـر ورځ وائي۔ بنګالی کښې ”روبي بار“ نومي او روبـي نـمـر ته وائي۔ بار پسوند هندي او پارسي هم لري۔ نمر پرستو به پـه اتبار د نـمـر عبادت کؤلو۔ درېمه ورځ سوموار یا سومبار شوه چې د سـوم مـعنا درېم لري۔ انګرېزان ئې Monday بـلـی په معنی سپوږمۍ ورځ چـې د عـیسائیت نه وړاندې ددغه خلکو نـیکونو به په دغه ورځ د سپوږمۍ عبادت کؤلو۔ مونږ ورته د ګُل ورځ وایو چې په دغه شپه به د ”سوما“ د ګلونو لو کېدلو۔ ریښـه ئې سومبار کښې پاتې ده۔

سپــوږمــیــه ګــرنګ وهــه راځېږه
یـار مـې دَ ګـلـو لؤ کوي ګوتې رېبینه

دا تپـه هـم د پښتـو زوروالـی ښـائي۔ دا هم چې دغه د ”سوما“ خـلـق په دې ژبه غږېدل او د پښتـونخوا غرونو کې اوسېدل۔ ”پیر“ چې ئې نـومـي نو هندوستانیانو ورته په مذهبي سترګه کتل د Day او ډِن ترمنځ غږي یو شانوالی هم زړۀ ته پرېوځي۔

څـلـورمـه ورځ د نهې ده۔ مـنګلوار، منګل بار Tuesday ده۔ څـۀ پښتانۀ ورته پنځم وائي۔ لکه د جمعې نه ئې شمېري۔ شنبه کښې

"به" د بار او وار ريښه ده.

پنځمه ورځ د شورو ده . بدهوار، بدبار، پنج شنبه نوميږي Wedensday ورته ځکه وائي چې په دغه ورځ به ودونه کوژدني کېدلې. Wed او وادهٔ سره نزدې غږونه دي.

شپږمه ورځ د زيارت دهThursday.

اوومه ورځ جومه ده. Friday عربستان کې دا د غونډو ورځ وه اسلام ورته هغسې تقدس ورکړو.

★★★

## دَ "ښ" ارتقائي لار وَهنه

مونږ يو څو مثالونه لاندې راوړو.

(۱) چرمخکی ← څرمخکی ← شرمخ (شرمښ)

Ch(Lizard) ← s ← Sh = Š

(۲) چک ← څک ← شوکه

Ch ← s ← Sh = Š

(۳) چنګ ← څنګل ← شکنجه

Ch ← s ← Sh = Š

(۴) کوچنی ← کڅه ← کوشنی

Ch ← s ← Sh = Š

(۵) کچکول ← کڅکول ← کشکول

Ch ← s ← Sh = Š

دې نــه مـعـلـومېـږي چې "Ch" او "Sh" او "S" څـنـګـه پر مختګ وکړو۔

ژبه تول خوځېدنه ده (Motor Paths)۔ څه وئیل پکار دي؟ د یو تپوس غوندې مزغو ته لاړ شي۔ دَغه تګ په جِسي لارو کېږي خو ببرته جواب ئې په Motor ways رادرُومي۔ دَ پو هانو پام دی چې د وېنا نظام په تول Cortex کښې دی۔

ولجه : اولجه:

۱ : ﴿يُولِجُ الَيلَ فِى النَهار وَيُولِجُ النَهارَ فِى الَّيل﴾

(لقمن:۲۹، الحديد:٦)

ژباړه:

"شپه په ورځ ننغاړي او ورځ په شپه کښې"

"ننباسي شپه په ورځ کښې---"

دا آیت قرآن پاک کښې بې شمېره ځایونو کښې راځي

۲ : ﴿وَلاالمُؤْمِنِينَ وَلِيجه﴾

"او سېوا دَ مومنانو نه پټ راز باز"

پټ راز باز هم دَ ولج معنی لري

۳ : ﴿حَتىٰ يَلجَ الجَمَلُ فِى سَمَ الخياط﴾

تر دې چې اوښ دَ ستنې سوم کښې ننوزې (ترجمه دَ عثمانې)

خوشحال وايي

دَ تېـراه اوبـهٔ دې وڅښـکـی خـوې دې نـور شو
اپــرېــدو غــونــدې خبـرې دَ وُلـجـو کــړې

(خوشحال)

اپريدو، شينوارو زړهٔ په وُلجه بنهٔ کړو
ايمل خان مومند په ننګ په ولجه دواړه

(خوشحال)

دهندي ژبو الجهن، الجهنا يا ولجن دغه ماده لري. شايد دَ عربی ولج د پښتو ولجه او هندي الجها دَ اوستاسره شريک توري دي.

اوښ دَ باره سره کورته دی ورغلی
په ولجه دَ اوښ دَ غاړې دجرس دي

(خوشحال)

شايدشعر کښې داخيال هم وي چې اوښ په سوم کښې بيائي.

شپږ اوهٔ زره خټک وو په داجنګ کښې
په ولجوسره خوشنودشو هرکدام

(خوشحال)

وَادِياً:

١ : ﴿بَوَادٍ غيرِذی ذَرعٍ﴾

٢ : ﴿وَلَايَقطَعُونَ وَادِياً﴾ (التوبه:١٢١)

"او نهٔ قطع کوي دوې يو ه کنده"

پښتو کښې دا واد، دَ ابواد په معنی دَ وطن راځي. وادې هم بلللی شي خو کم. انګريزی کښې VALLEY دَ پښتو دغه واد سره نـزدېکت لري. دَ، و، ل يوتربلـه بدليږي. وادې دلري وطن او دښت معنی هم لري.

څو دَ زمکې دَ آسمان په منځ کې وت دې

(خوشحال)

وتکې يوې ورې درېچې ته وايي- سورې ته هم وايي- وت، علاقه، ځائ- ښاغلي عبدالله ژبارن دُ واد معنى مېدان راوړې ده-
(ترجمه دَ قرآن)

﴿اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوى﴾ (النزعت:١٦)

★★★

وَحي:

قرآن پاک کښې دا تورې ډېر راغلى دى

١: ﴿اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ﴾

٢: ﴿وَ اَوْحٰى رَبُّكَ﴾

٣: ﴿فَاَوْحٰى اِلَيْهِمْ﴾ (مريم: ١٣)

۴: ﴿وَلَقَدْ اُوْحِىَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ (الزمر:٦٥)

په وحې کښې چې ح حذف شي لکه عام انساني عادت دى الف غږ عسومًا حذف کوي، لا چې کله ورسره ورسره وړاندې وروستو الف نزدې غږونه وې-دغسې دَ وحې نه وې جوړېږي، چې هغه سوچه پښتو تکې دى-

دا وئې زما دَ راز دى
دا بيان دور و دراز دى

(خوشحال)

د هـجـران لـه دوکـه مرم هغـه مې وژني
چې بـه مـا او تـاجدالـه غېره راز وي

(خوشحال)

چـــې دچـــا ســـره عـهـُـد وکـــا
پـــخـپـــل وئـــې وي اسـتـــوار

(خوشحال)

زړهٔ مـې راتـه وايي چې وئېږه او وئېږه
وايـه وايـه وايـه لـه وئيلو مـهٔ ډارېږه

(خوشحال)

دَ وَې سره وېنا، بيان، ويان،وئيل، وي نزدې نزدې تورې دې۔

۵ : ﴿اِذ يُوحٖى رَبُّكَ اِلَى المَلٰٓئِكَةِ اَنّى مَعَكُم﴾ (الانفال:۱۲)

★★★

## ويژن ۔ VISION ۔ ويژيون:

پښتـو وئېـنـه دَ فعل تکې لري۔ وېنه : ګوره۔ دغه په انګرېزۍ کښېVision اوVista شي جرمنې کښې Weissen شي۔وژن معنی لېد نه، دېدنه : دېدن۔

دَ عـيـسـايانو کتـاب کښې Vision ډېر راځي چې عربۍ کښې ورته رُويا يا منام وايي، لاطينۍ کښې Vaditi موجود وۀ۔ دَ Vaditi نه وېژن او وېـدن پـه اسانه اوځي۔ Vision دَ خـوب لېـدو مـعنی کښې دَ عـيـسـايانو کتابونو راخـستـی دی۔

دَ دانيال کتاب کښې Vision توری ډېر راځي۔نن سبا Vision دَ يو قابل

ذهن سرې او چت فکر ته وايي۔

★★★

وينه:

دا يو توري دی چې پښتو ژبه کښې دوه غټ مطلبونه ورکوي۔ وارۀ مطلبونه ئې هم شته۔

۱ : وينــه دَ بدن پــه رګـونـو کښــې هـغـه تور بهيدونکی شی دی چې انګريزی کښې ورته Blood وايي۔

۲ : وينه دَ کتلو، ليدلو دَ فعل نه مشتق دی۔

مثال ۱ : "تۀ وينې کۀ نه"، "شمکور په تته رڼا کښې څۀ نۀ وينې"۔

۲ : دَ هغۀ دَ پرهرنه ډيره وينه تله شوه او مړشو۔

پارسې ژبــه کښــې بيــن، بيــنــد، بيــنــې، بينم شتــه ببنيدن ئې مصدر دی۔ "ويــنــل" زمــونږ سره څۀ مصدر نشتــه۔لاطينی کښې ورته Viditi وايــي۔انګريزی کښې Vein تـکې موجود دی چې دَ تورې وينې دَ رګ دپاره راځــي۔وينــس يــوه ســيـارچه ده۔ دَ يو ديوتا نوم هم دی۔ کۀ مونږ ديدن مصدر وګڼو نو دغه ئې اسمِ صفت هم راځي۔

ليدن = ليدنه ترې وځې

وينه = پينه يو جام چې شراب پکښې څښکې شي۔

اوستـاکښې ورتـه vohuni وايي voh کـۀ "خ" شـي نو خون جوړيږي۔ "ل" او "م" چې يو ځائ راشي نو دَ "و" غږ ورکوي۔

لکه لمر : نمر: نور N,war دغسې دَ م نه دمبن بيا لمبن بيا وين جوړيږي۔

وژمکه:

اوج مخه : سپين مخه :وژمه : وژمى

سپونږمى : په دا کښې سپون معنى دَ سپين او مى ئې د مخ په ځائ راغلى دى. سپون: سپين، وژ : سپين مئې :مخ (سپين مخ مبالغه) داسې ښکارې لکه اوج : وژ معنى د سپين لري.

قرآن پاک وايي

مَوجٌ مِنۡ فَوقِهٖ مَوخ

او د موج شننه داسې ده. ماء او اوج. يعني رنې سپينې اوبۀ خو اصطلاحاً د اوبو سپينې چپې. چونکې دغه سپينې چپې اوچتې هم وي نو ځکه موج کې اوج يعني د عروج ربنه لاړه، هندي ژبو کې اوج، اجلا، اجلن په معنى د سپين راځي. اجالا، اجيالا دا کې وژپښتو دي.

دَ وژ نه اوج وتې دى. وژلرغوني پښتو اصل لري چې څۀ برخه ترې هند ته لاړه او اجلن، اجالا وغېره شو او څۀ ترې عربستان ته لاړه اوج شو. وژمکه کښې دوېم توکې مکه دَ هندي ژبو مُکهه : مُکهړا وګرځېدل او پښتو کښې مخ پاتې شو. مونږ دلته دَ سپونږمى، وژمئې، وژمکه، تروږمى، تېره غونې او نورتکې راوړل او ښۀ پرانستې مو عربې او هندوستانې سره دَ هغې ترون ځرګند کړو دا ډېر لوې انکشاف دى او زمونږ دَ مقصد لورې ته لاره ښائې.

تروږمى--- دا تورې داسې دى :- تور+ وژ + مى

= تور سپين مخ

يعني داسې حالت چې د تور سپين کېدون لري۔ نۀ ډېره رڼا وي نۀ ډېره تيارۀ۔ مونږ وژ او whiteنزدې نزدې ګڼو۔

Waj = white = wite وائټ

يوسفزې ورته تېره غونې وايي۔ غونې به ګونې يعني 'لکه' وي۔ ترورږمی هم وئيلې شي۔ ترګ : د تېرګونې او مخ : مې سپونږمی : سپين سپين مخ۔ داسې ښکارې چې اولنې تورې هم سپونږمی وه چې يو خوئې مطلب مبالغه يعني ډېر زيات سپين راځې بله داچې د ژبې ارتقائي سفر کښې ورومبی جُز پرېوتلو او وږمی پاتې شو۔ سپون او سپين اوس هم مختلفې قبيلې دغسې وايي لکه داوړ۔ د پښتو وژ د انګرېزی د white سره داسې يو کېږي:۔

سفېد = سپېته

ف = پ

د = ت

کله چې سپين په معنی د وژ شو نو وژتا = وائټ
j=s white = wajta

سپين ته سپېته وايي چې فارسی کښې سفېد دی۔ هېر دې نۀ شي چې لکه په سفېد باندې زور، زېر دې دغسې په سپېته هم دې۔ زرتشت ئې سپين تومان يا سپېتما بالۀ ۔ داسې سړی چې جوهر ئې سپين سپېڅلی وۀ۔

کوهِ سفېد = سفېد سنګ = سفنج = سپين غر

## سپین کانی:

سپین غر ته سپېته ګوناګري یا سپین ګونی غر وئیلی شوي دي۔




چې کمال لري زوال ورسره تل وي
اوږمکی کله پوره کله نیمګړی

(خوشحال)

دَ کابل نه هند لاهور ته دَ ورغلو باچایانو نومونو کښې دَ سپېده دم او سپېده هورا راځي۔ دا ئې لقبونه دي۔ زما تر پامه سپېده دم داسې راځي لکه نوېد سحر او سپېده هورا داسې راځي لکه دَ بنادی زېري۔ ما سپېده په سپین ګڼلې دی هر کله چې نورو دغه تکی په اسپه ګڼلې دي۔ او دَ موج شننه داسې ده :ماء او اوج

یعني رڼې سپینې اوبۀ خو اصطلاحاً دَ اوبو سپینې چینې

چونکې دغه سپينې چپې پزاوچتې هم وې نو ځکه موجِ کښې د اوج يعنې عروج ريښه لاړه ـ هندوستانې ژبو کښې اوج ـ اُجلا ، اجلن په نزدې معنى دَ سپين راځي ـ اجالا : اُجيالا دا توريو کښې اجلا دَ پښتو ژبې وژ دى ښکاره شوه چې دا ټکې لرغونې پښتون اصل لري ـ ځۀ ترې هند ته لاړل او اُجلا وغيره شو او ځۀ حصه ترې عربستان ته لاړه اوج ترې جوړ شو ـ

وژمکه کښې دوېم توري خالص هندي آرياؤ سره لاړلو او دَ مخ نه ئې مُکهـ او مُکهړا جوړ کړل ـ دولت خان اجيالا هغه پې مخي زلمى وۀ چې شهنشاه هندوستان اسلام شاه سورې پرې عاشق وۀ ـ دَ اسلام شاه سورې په حقله دَ خوشحال خټک دا شعر دَ ډېرغور وړ دى ـ

بيـالـه پسـه سـليم شاه وۀ دَ دۀ زويـه
چې لـه پـلاره نـه هم زيات دَ دۀ هيبت وۀ

يعنې دَ اسلام شاه هيبت دَ شېرشاه نه زيات وۀ ـ اسلام شاه ته سليم شاه او اسليم شاه هم وايي چې پښتانۀ دغسې وئيل کوي ـ

(والله اعلم)

★★★

## وقود:

## وَقُوْدُ النَّارُ:

دَ سوزېدو مواد چې عربې ئې وقود بولي هغې ته کولېغه وايي (زړه پانګه دوست شينوارى)کوده يا قوده دَ غنمو يا شوتل دومره

برخې ته وايي چې يو لاس کښې راځې.

ق = ښ، خ، ث

وقود = وښوت= واښهٔ، خاشي پاشي، چخې پخې، تېلې مېلې، توتنکې. خاشي پاشي، د اور بلولو، تازه کؤلو لره پرې وارهٔ وارهٔ اوچ شوې ډکې تېلې وراچول. معنئ ئې شوه خشاک، انګرېزی کښې ورته WEED وئيلې شي. مونږ د برق، قنديل، قبيله، قعر، تخرق، بقعه، ثاقب توري هم په دغه اصول شنلې دي.

وقود ——→ واښهٔ ——→ Weed

(عربي) (پښتو) (انګرېزي)

★★★

وقت = وخت

★★★

وطن:

لَقَد نَصَرَكُمُ اللّٰه فِی مَوَاطِنَ كَثِیرة (توبه ۲۵)

وطن ته تون هم وايي

ښــې دي تــر مېــکـو د وطـن خاوري
تـــودې اوبـــهٔ دې د وطـــن واوري

(خوشحال)

وطـن د زمکې يو جغرافيائې، تولنيز، نسلي، ژبه ايز، معاشي، تاريخي وحدت وي. قام د وطن وي. وطن د قام وي. د يو قام تاتوبې د

هغوې وطن بللی شي۔ دَ اوسنۍ اروپا نه علاوه مزکه باندې سم وېش هم دغه بنياد لري۔يو بنيادم چې دَ مزکې کومه برخه کښې پېدا شي هلته دَ مور وپلار، وروڼو خوېندو، ترونو، ماماګانو، سره يو ځائ تر شل کلن عمر ورسي نو دغه علاقه دَ هغه وطن شي کۀ نۀ وي نو بيا نه۔

وطـن ښـۀ دی کـۀ غـمخور وي ښۀ ياران دې لور په لور وې
ځو چې شته کۀ هونبره نور وې، لا غرېب يم په وطن کښې
(خوشحال)

وطن دَ غم ښادۍ دَ تولنې سره تړلې دې۔
ما دشل کلن عمر حد وليکلو تولنه دغه مېعاد کښې خصوصًا وروستې دور کښې تصرف کوُلی شي۔دَ وطن سره مينه دَ جبلې اړخ نه علاوه ډېر کلک شعورې بنياد هم لري چې ترې انکار دَ يو سم بنيادم سره نۀ ښائې۔

داوطـن لاسـرتـرپـايـه کـفرسـتـان دی
يامې ځـائ کړې غاړې غرونه يا غزاوې

وطن دَ خپـل او پردې نه علاوه دَ مزکې يوې ټوټې ته هم وايي چرته چې ګڼ قامونه بېل يا سره وسېږي۔
اقبال ليکي۔

**سرودبرسرِمنبرکه ملت از وطن است**
**چه بي خبر زمقام محمدؐ عربی ست**

دَ اقبال خپل خيال دی زمونږ خپل خيال دی۔ دَ دېن خبره ده نو

زۀ پرې څۀ بحث نۀ کوم. خلق سیاسي ضرورت او نظریاتي ضرورت هم جائز ګڼي. هرکله چې مونږ مطلق قدرونه دَ اهمیت وړګڼو.

په اسلامي تاریخ کښې مونږ ته ګڼ او بېل وطنونه په نظر راځي دَ معاویه وطن دحکومت لاندې اهلِ شام بېل او دَ شېرعلي صېب اهلِ عراق بېل وو. بیا دَ سپین او عباسیه وطنونه بېل وو. دَ مصر بغداد، سپین وطنونه بېل وو او عملاً خو دعباسیانو آخري وخت کښې ټولو ولایتونو دَ وطن درجه لرله.

آخري وخت کښې دَ ترکانِ عثمانیه، ایران، هندوستاني مغل او تېموري ملکونه بېل بېل وو. خپل ذاتي فکر لرم چې قام دَ ژبې، نسل، ګډه مزکه، سره ګډ سود زیان سره وجود لري او دقام مزکه دَ قام وطن وي. کۀ دَ خلکو دَ ژوند نظریه هم یوه وي نو لا ښۀ، ګنې یوه دېن سره ګڼ ملکونه په قامي بنسټ څۀ بد نۀ لري. دا خرابه خبره نۀ ده چې دَ مسلمان قومونو دې ګڼ وطنونه وي خو دَ ګڼو قامونو یو وطن چې په استحصال ولاړ وي هېڅ جواز نۀ لري. استحصال کۀ دَ دېن په نوم کېږي نو بد ترینه غندنه غواړي.

وړمه:

تریقینه قیاس دی چې وړمه هم وژمه ده لکه وړاندې تېر شو. دلته مه په ځای دَ مخ دې او وړ لکه وژ یا اوج دی. دا توري محاوره شوی دی او اهلِ زبان پکښې تصرف کړی دی.

وږم = وګم = وجم

= بزم

= دَ خوشحالئ غونډه

وږ= بوز = پوزه کښې دَ وږمه رعايات دې۔

معنی دخوښ بوئې يا ښکلی محسوسېدونکې بوئې لري۔

کلـه دَ خراب بوئې دَ پاره هم راځې قياس دی چې وږمه هم

وژمه ده (مه = مخ)

سپينږمه : دَ پوزې سُوری هم لکه دَ سپين مخ ښننه لري۔

★★★

زمزم:

داتکې دَ مزکې يا زمکې رېښه لري او ورسره دَ نوژنې، سېبژنې

مزکې مطلب هم لري۔

زم زم = زيم زيم

يا

زيم= جائ نم،لوند ځائ،= ځائ نم

★★★

زمکه:

زم + مخه




زم په معنی دسبم، سبب، نو، نم، نمي راځي،زم په معنی دتللو هم راځي،Geo هم مزکه ده۔زمېن توري دغه ريښه لري يعني زم + اېن۔ Zemstvof د کروندګرو غونډه وه۔ لکه واورېن، لونګېن، غمګېن وغېره۔

Landtag: Zemlia: Russain

German

روس کې مزکې ته زملیه وائي۔ سنسکرت کې ي جماکه بولي۔

★★★

ژمي = زمهرېر:

دَ زمهرېر وروستی برخه حذف شوه او ژمي پاتې شو يعني زم نه زمي او بيا ژمي شو۔فارسي کښې زمستان شو۔اوستاکښې Zim شو۔قرآن پاک وايي:

﴿لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيرًا﴾

دَ موج، فوج، وژمکه، زمکه، ژمي تول ټکي دا ښائي چې پښتون قام دخپلې پښتو ژبې سره په اوسنۍ پښتونخوا کښې دَ ډېر لرغون نه موجود وۀ۔ دا وطن زمونږ پخواني اصلي ټاټوبې دی۔ دلته د شمس ټکي داسې مطلب کښې راځي لکه پښتو کښې وئيلې شي چې نمر کښې مۀ ګرځه۔ غالبه دغه ده۔

کۀ چرې واقعي ترې نمر مراد وي نو هم ممکنه ده خو بیاد زمهرير مطلب به په جمله کښې سره ترلی نه، بېل وي۔

★★★

زبان:




= ژبه (پښتو)
= ازوان (پهلوي)
= هُزوا (اوستا)
= جبوا (سنسکرت)

JIBWA

بهاشا دَ سنسکرت دَ JIBWA نه وتې دې ۔ ال ترې حذف شوه او "بُوا" پاتې شوه۔ دغه بوواشه او بهاشا شوه

بها = به = بوا (غالبًا بوا ۔ به دَ "وا" وئيلو نه وتې دې۔

بهاشا = ژبه بهاشا اوسني بهارت و بنګال کښې د ژبې په معنی ارت ببرت خپور وور استعمال لري.

د لاطيني DINJWA= LINGUA چې دېن ترې حذف شي نو JWA پاتې شي jwa په اسانه ژبه شوه. یعني جوه = جبه = ژبه بهاشا یا بادشلګي یوه وړه ژبه چې دپښتونخوا دقطبي غرونو ترمېنځه یوه ډېره وړه تبوته کښې نن هم وئیلي شي (چترال نه بره) دَ کالام خواوشا کښې درنګ ساعت لره په شتو شته دا تکي هم دَ باشا دَ برني تحلبل سره ژبې ته نږدې دي. پښتو کښې "بې ژبانه" هم راځي چې "ژ" ساکته لري.

پښتو کې ژبې ته Jeba وائي. ژواکۀ انګريزی کې ليکو نو Gue راځي. د نړی هره ژبه دغه Gue ريښه لري.

(i) Pushto ⟶ Jwa ⟶ ژبه ⟶ Gue
(ii) Pehlavi ⟶ ازوان ⟶ Uzwa ⟶ Gue
(iii) سنسکرت ⟶ Jibwa ⟶ بوا = ب ج = ژ
(iv) اوستا ⟶ Uzwa ⟶ Gue
(v) هندي Bhhasha: "sha" is accessory: bha = gua
(vi) لاطيني ⟶ Lingua ⟶ Gue
(vii) انګریزي ⟶ Tongue ⟶ Gue
↘
(viii) انګریزي ⟶ Language ⟶ Gue
(ix) فارسي ⟶ Zuban ⟶ Gue (Z=G)
(x) باشلګي ⟶ Bhashalgai ⟶ Gue
(xi) یونان Glossa ⟶ glo: throat

→ Ossa = oza → Awaz (Voice)

γλϖssα Oja = gue

(xii) کوجري → Gue + jri

(xiii) آئرش → Tongue → Ge = gue

(xiv) البانيه → gjuha → gue

(xv) کاتک → Tongo → gue

★★★

## وَرَاءِ:

(۱) ﴿مِن وَّرَآءِ جُدُر﴾ (حشر:١٤)

(۲) ﴿قِيلَ ارجِعُوا وَرَآءَ كُم﴾ (الحديد:١٢)

پــه مـعنیٰ د هورې: ورې، ورته ببرته ، ويرې، اورې، وريا، ورايه۔ مبراء توری د ماورئ نه جوړ دی۔

نـهٔ پـه بـاغ وي نـهٔ پـه راغ نـهٔ پـه بل لورې

د خـوشـحال خاطر چې يار هورې هورې وي

(خوشحال)

دلاندې معنې هم غور غواړي۔

(۱) اورې: هورې: وريا په معنیٰ د هلته، لري۔

(۲) اورې: کډورې

(۳) اوری: په معنیٰ Gingiva

(۴) اورا: په معنیٰ د وريځ ، باران، ورېدنه، ورېدل

Wriz = Rid = Rida

(۵) اورا: په معنی د جنج

(٦) اورا: په معنی د اوراورکی

دا لاندې ټکي هم فکر غواړي۔

(i) Ora: Oral Cavity: Oral canal خلهٔ

(ii) Ore: چپو

(iii) Oar: درنګ : mine

(iv) Oracal: کتاب، ژبنی وینا

(v) Ora Serrata سترګو کې یو ځائې

*****

## زِدتُ۔ زِدنَا ۔ زِيَادَةٌ:

۱ : ﴿رَبِّ زِدنِی عِلمًا﴾ (القرآن)

۲ : ﴿اِنَّمَا النَّسِیٓءُ زِیادَةٌ فِی الکُفرِ﴾ (القرآن)

دَ پښتو تورې زیات ډېر عام دی۔

مونږ په اوستا کښې دا تورې وینو۔ یقینًا دا دَ زردشت دَ بلخ نه او د ویدونو دَ سندرو په لار دَ پښتونخوا ځخه تللې دې۔ عربی ته تلل ئې دَ کابل، زابل، اردَ آل ابراهیم سره شوې دې

کابل = بل کلې

زابل = بل ځای

بابل = بل باب

پښتون د زمکې په مخ جغرافیه کښې یو ډېر مهم ځایٔ لرلو او

دَ بنیادمو دَ هر اړخیز خوزون اثر زمونږ نه بغیر نۀ شو کېدی۔

★★★

زَېغ:

۱ : فِی قُلُوبِهِم زَیغٌ

۲ : اَزَاغَ قُلُوبُهُم (۲۸ سیپاره)

۳ : مَا کَادَ یَزِیغُ قُلُوبُ فَرِیق مِنهُمْ (توبه ۱۸۷)

ذېغ شک ته وایي (بخارې)

زېغ = زېګ، هغه چې نېغ، مهېن، اوار نۀ وي

سینې ډکې شوې همه له مکره زېغه
مهر، مېنه، محبت له زړونو لاړ شو

(خوشحال)

هېڅ مذکور ورسره نۀ بویه نۀ ښۀ دي
په نادان دې دَ دانش خبرې زوږ

(خوشحال)

وېښتۀ ئې دَ سر ځږه، دَ تن هم ځږه ګرلنډ بدرنګې۔

(خوشحال)

★★★

زَوت:

دا دَ پښتو ټکې دی زَوتوُل یا زَوتول عربي. کښې دا ټکې دَ جَودُ= تجوید دی ج = ز او دَ = ت علم تجوید ځانله دَ یوې څانګې حېث نیولې دی۔

## زَبُور:

دَ قرآن توري دی۔ دا په پيغمبر داوود عليه السلام نازل شوی کتاب وۀ۔ په زبور کښې بنې اسرائيل ډېرې ګوتې وهلې دې، لکه چې ئې تورات کښې وهلې دې۔ دَ کتاب اصلي نسخه ورکه ده۔ دَ عيسايانو غټ کتاب کښې ئې څۀ اړولې برخې راوړې دې چې په Psalms of David بللی شي۔

١ : ﴿وَاِنّهٗ لَفِی زُبُرِ الْاَوَّلين﴾ (الشعرا:١٩٦)

٢ : ﴿وَ آتَينَاداوود زبورا﴾ (بنى اسرائيل:٥٥)

٣ : ﴿وَلَقَد كَتَبنَا فِي الزَّبور﴾ (انبياء:٧)

زَب وُر دَ پښتو ټکي ژب ور = ژبه ور نه ماخوذ دی او دا سوچه پښتو ټکي دې۔

★★★

## زنګون:




★★★

﴿حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْن﴾

چې ئې تۀ په ګېډه وخورې حبطه شي
دمجلس سره چې خورې شي خوان هغه

(خوشحال)

حبطه ته په پښتو کښې ابته وايي. دَ حبطه نه ابته جوړېدل دَ غربي قانون مطابق ده. پښتو چرې هم غته بالادسته ژبه نۀ ده پاتې شوې چې اثر ئې په اسانه په ډېره بالادسته ژبه پرېوزې. دَ عربي په مونږ بالادستې ډېره زياته وه خو دپښتنو په زرګونو کلونو بې سوادې او دهغوې تولنې دَ بلې ژبې تيکو ته په اسانه ځائ نۀ شو ورکولی. نېغ په نېغه نتيجه دا وځې چې دا تورې دَ لرغونې پښتو ځنې دغه ژبو سره تللې دې لکه څنګه چې دَ انګرېزی سره تللې دې.

★★★

زړۀ Zrh :

انګرېزی کې زړۀ ته Heartوائي. مونږ چې h په س بدل کړو نو دا به په sirt ارمني بدل شي. مونږ چې S په Z واړوو لکه جمع واحد کې S = Z نو = sirt ، zirt او بيا دغه zirt = zrh شو. دغسې zirde = بلوچي Zareta = اوستا، Zar = کردی. "زاره" ځيګرينې ته وائي لاطيني ئې Hepar دي چې په دې ډول بدلون مومي.

Hepar ⟶ Separ ⟶ Zepar ⟶ Zigar

"جي" د هندوستان داحترام او لغت تکی دی چې د سنسکرت نه ورپاتې دی سنسکرت کې جو معنی د بادار لري. د

ملاکنډ رانیزي هره خبره کې جو وائي دغه جې د Zigar اور Zrh رینبه ده۔ Zi او Zr، J=Z ځیګر او زړۀ۔ Cardium یونانی کې زړۀ ته وائي S=C نو کارډیئم = سارتیم، کله چې Z=S شي نو Zartium = Sartium لکه بره دارمني ژبې زړۀ شو۔

په لاطیني کښې Cor زړۀ ته وائي C = S او S = Z نو "کور = زور" یعني "زړۀ" ترې جوړ شو۔ "زرتشت" هم اصل کې "زړۀ تش = کامل زړۀ" دی۔

★★★

زیارت

Ziggurats د سومیریانو ۴۰۰۰ ق م زیارتونه دي۔

★★★★★

حافیه :

حافې : د پښتو بناپې : خاپ ۔ خاپې

﴿فِی الحافِرَة﴾ (النزعت:۱۰)

ژامه:

ژامنه، ږمومرد : Gnatha

د ژبې ژمنې سره زمونږ وراندې ژامه توری راځي۔ انګرېزی کښې ورته "Jaw" وایي، هندوستاني ئې "جبړا" بولي۔ "وازه خلۀ" هم واژه وي۔ وازول، واژول ئې مصدر دی۔ "ژا" ځانلره خصوصي

ريښه ده. يو څو توري کښل به بد نه وي.

ژامه، ژامنه، ژمنه، ژاؤره، ژاجوره، ژؤره (Leech)، ژاغ (غړ)، ژؤره (Depth)، واژه، روژه، ژاؤلـه، ژاله، ژاړه، ژړا، ژؤل، ژبې کېدنه، ژی، ژرنده، ورسره که مونږ "اړه" لرونکي توري راؤړو نو بې ځايه به نۀ وي. داړه، ژاړه، چـاړه، خـاړه، بـاړه، داړه (Imbush)، زاړه، لاړه، نـاړه. دا ټول توري په څۀ نه څۀ ډؤل خلې سره تړون لري.

١. ژؤره (Leech) چې خلۀ ئې د وينو ډکه وي.

٢. ژؤر کوهی، ژؤر ډنډ، د پښتونخوا ډېر کلي ژؤر ريښه لري.

٣. روژه: د خلې تړل

۴. واژه: دري کښې غږ ته وايي.

۵. Gnatha کښې د "ژ" ريښه ژامې ته ګوته نيسي.

٦. ژو او Chew نژدې غږونه دي.

## طَبَقًا عَنْ طَبَق:

﴿لَتَرْكَبُنَّ طَبقًا عَن طَبَق﴾ (الشقاق:١٩)

درجه په درجه،ټپک نه ټپک، د يو حال نه بل حال کښې توپ د پښتـو ژبې ډېر خپور وور تکې دی-توپی، توپ، غونډی، په توپونو تلل، توپونه وهل.

- دروغـژن تـرتـوپـه ورشي
د کـابـل کـاندې مذکور

(خوشحال)

د دنـيـا ګـنـو ژبـو کښې تـوپ د ځای معنٰی لري-توپی، توپ،

توپکه، توپکې: تاپه، تپه۔

Topography,Utopia,Ectopia,Top,Topology

کۀ چرې مونږ دَ توپ لرونکې تکې راغونډ کړو نو دَ شپیتو نه زیاتېږي۔

Ectopic beats, Ectopia lentis, Ectopic pupils, Ecotpic gestation (Oxford)۔

Suptopis : نیم ښار نیم کلی دَ دې نه پته لګي چې دَ توپیۍ کلی د اباسین په غاړه نیم ښار دی۔ دجوارو توقه هم توښه : کچه وږي یا غېرموزون وږي ته هم توکه یا توښه وايي۔ توکه کوَل یا توښه کوَل هم دغسې معنی ورکوي چې وږي څاروو ته توکه کړي او دَ توکه کوَلو آله ئې "توکا" بللی شي۔ دلته مونږ طب = تو او ق = ک کړو خو کۀ ق = ښ = Ksh نو دغه هم یو مطلب ورکوي۔ توکا کوَل یو فعل دی او توکا اسم دی۔ نن سبا دغه کار په لویو مشینونو کېږي۔

★★★

## طُوبٰی:

شاید طوبې معنی دَ خوښې ځائ لري۔ ښکلی ځائ۔

ع: حریم سِدره بُود جا درخت طوبې را

(جامي)

طوبې، طُوې دَ یو ځائ یا سیمې نوم دی چرته چې موسې عَلیہِ السلام بېرته راتللو کښې دَ اور راوړلو دَ پاره پېښ شوې وو (د

شعیبٔ نه بېرته راتللو کښې)قرآن پاک راوړې دې:

﴿اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾ (النزعت:١٦)

هم دغه ځائ ته تیه وئیلې شي. د بنو اسرائیل تیه هغه ځنګل دی چرته چې هغوې د موسٰی علیه السلام قیادت کښې بېرته د مصر نه څلوېښت کلونه ډُلوپا ګرځېدل. دغلته به هغوې ته مَن و سَلوٰې راتلل. تیه چې مونږ پښتو کښې ګورو نو "دیه" ترې جوړېږي او دا د "دېهـه" یا "کلي" مطلب ورکوي. دېهه بهادر یا بهادر کلی پېښور سره نزدې مشهور کلی دی چې د ستر شاعر عبدالرحمٰن بابا زېږون ځائ یادېږي. "نوتیه" یا "نودیهه" پېښور صدر سره یوه علاقه ده. نوې کلی هم د پېښور هوایي اډې سره خوا کښې یو لوې کلی دی او تر ډېره وخته ورته "نودیهه" وئیلی کېدل. د نوې کلي نوم باندې پښتونخوا کښې بې شمېره کلي دي. تېه د بني اسرائیل هغه ځنګل دی چې د علي هجویري د کشف المحجوب مطابق دغلته د ټولې نړۍ د اولیاء الله خصوصي غونډې کېږي او دوې د دنیا د هر ګوټ نه په هوا د خپل کرامت په زور د سترګې رپ کښې ځې راځي او ځان سره بل تن هم بوتللی شي او غونډو مذاکرو کښې برخه اخلي.

احمد شاه بابا د توبې یا طوبې غرونو کښې آخري عمر کښې ګوشه نشین شوی وه. د کېرو د "دي پټهانز" مطابق هغوې ته Basal Cell Carcinoma یعني په مخ د ناسُور ننکۍ راختلې وه.

- سرګشتـه د ضلالت تيـه کې ګرځي
چې دښـنـه ئې د سخـرانو يا د زوم دي
(خوشحال)

★★★

يون:
اَلَم يَأنِ لِلَّذِينَ آمَنُو اَن تَخشَعَ قُلُوبُهُم (الحديد ١٦)

- د مېـرېـو غـونـدې يـون دی ودانـو تـه
چې وه مـاوتـه عـالـم کـړه تـلـۀ راتـلـۀ
(خوشحال)

-زۀ ئې درسـت لـه هـره حـالـه نـه خبر کړم
چې دَ هـنـد پـه لار مې يون شه بنه چې شه
(خوشحال)

ع: تـريـانـه ئې دَ ختـن هـوسۍ خـجـلې
(خوشحال)

اِوستا کښې ورته يانه وايي، تګ رادار ورته هم وايي-

★★★

يم

| Old English | Gothic | Latin | Greek | Sanskrit | Pushtu | Persian |
|---|---|---|---|---|---|---|
| eom | im | sum | eimi | Asmi | im | Am |

AM ې، ایم:

پښتو کښې زۀ یم وایي او زۀ ایم هم راځي دا توري د انګریزی د AM سره ښځې یو شان دی۔ عربی کښې د قرآن پاک ژبه کښې چې کومه 'ې' راځي لکه لِيّ، عَبدي، ارضي، جنتي دغه ي د پښتو "ما" او "يم" سره نږدې رشته لري وُوم د پارسی او عربی هم دې وَهُمْ ظلمُون۔ د "ته" عربی تکو کښې "تا" ډیر واضح راځي۔

لکه انتَ، انتم، انتما، قلتَ، قلتم، قلتما

پـه دې تکو کښې "تـا" دَ پښتو ریښه ده۔ دغسې = Joo = You تـو = تۀ هم دې۔ جغ = یوک (Yoke) لکه یروشلم = جبرالسلام = دارالسلام ۔ هُوَ او هُو دَ هغه، هغه او ابغ سره نږدې تړون لري ۔یو بل تکې To دی لکه Peshawar to mardan دغه پښتو کښې "ته" راځي پېښور نه مردان ته = ته =To۔ هندوستاني ئې تک وايي

ګز = Yard = Jard:

ګ = ج او Y= ج لکه یروشلم = جبروسلم، جغ = یوک دلته

RD = ز = یمه = جمشېد

یرغ = جرګه

***

## یَرغ=جَرَغ= جرګه:

ې په ج بدله شوه اوغ په ګ بدل شو۔ یروشلم= جبروسلم لکه

(جغ = Yoke او یوگا، جوگي)د یرغ معنی مصلحت، مشوره ده هم دغه جرگه ده۔یرغمال ور سره تړلی دی۔

- په یرغ، په مصلحت، په پرېن نهٔ ده
آسماني بلا پرېوزي ناگهانه

(خوشحال)

د ج او ي یو تربله بدلون موږ په وړاندې وروستو پانو کښې
ښهٔ پوره څېړلی دی لوستونکي ئې د خپل ضرورت د پاره راغونډولې شي۔

- په یرغ په مصلحت نهٔ ده ځائي.ده
د خوشحال چې سریکار شو له اشعاره

(خوشحال خان ختک)

د ایران یو بادشاه جم یا جمشېد یادېږي دغه جم ته اوستا کې "یمه "وائي۔اهور مزدا چې وو هغهٔ یمه ته حکم ورکړو چې "وارد" جوړه کړه۔ دغه د بلخ آتش کده وه۔ پښتو اولسي.کیسو کې د یو باچا جُمجُمه منظوم بیان شوی دی غالباً دغه جمشېد یادوي۔

جُمجُمه زما نامه وه
په هر لوري علامه وه

★★★

Go : جا : ځه (Old English)

جانا۔ اِذَا جَآءَ نَصرُاللّٰهِ

دلته کښې د جا معنی د "راشي" ده چې تللو راتللو سره مناسبت لري۔

★★★

ځه: پښتو

Go: انګرېزي۔ "ګو" او "ځه" کښې ځ=G

جا: هندي ژبې د بنګالی سره

کوتابې جابون = (چرته ځې)

عربي: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰه﴾

"کله چې راشي ګټه د خدایٔ" يعني جَاء د راشي معنی لري۔

راشه، درشه، ورشه، په هرحال د تللو سره تړلې دي

ځ = ج = G = J

ج = ګ

★★★

## کال= سال:

Calendar = کلن ډر: يو کلن، لس کلن

★★★

Gauge

جاج (پښتو) Judge (انګرېزي) معنی ئې ده منصف، اندازه

(French) Gauger (gague)

★★★

کتان= Cotton

= کتن = کته (پښتو)

کتـان فـارسـي او عـربـې ده. کاټن انګرېزي ده. سنسکرت کې ورته Tula وائـي دغـه ته مونږ تولائي وايو. کتن او کته پښـتو دي. کته دَ جامو دَ پاره هم راځي اوکته په ښاروو هم اچوي.




دغه وروستی انځور لیک ډېرې خبرې څرګندوي.

دَ کـربـاس کـلـمـه پښـتـو کښـې دَ نورو ژبو نـه زیـاتـه ژوره ده.

T.Burrow دَ کـربـاس توری هم دره وړ پور ګڼي. هغه پنبـې هم دره وړ ګڼي.

- چې نري نري پنبـې غرم دَ شعر
په بیاض باندې ئې ږدم اتې اتې

(خوشحال خټک)

کرباس او پنبـې دَ پښتو ډېر بنیادي تکي دي. پورل ئې څۀ ډېر ګران دي.

★★★

کبر:

۱ : كَبُرَمَاهُم بِبَالِغِيهِ

۲ : كَبُرَ مَقتًا عِندَ اللّٰهِ

پښتو کښې کبرژن راځي۔ کبر = ګبرو ،غټ کافر، تور کافر (یا) شان لرونکې ځوان ۔دَ باجوړ یو غېر پښتون قبیله چې دَ علي حېدر ګبرې مشرۍ کښې بابر سره جنګېدلې وو ګبرې نومېږي۔ خوشحال خان ختک "بچې دَ ګبر" غوندې اصطلاحات راوړې دې۔ ک او ګ دَ لیک تر حده بدلېدی شي۔

مابه مرکاندي بچې دَ ګبر

(خوشحال)

★★★

کِسِي = سترګې:

وکسه : وګوره کسل ئې فعل دی = کتل،کسه = ګوره رَبِّ اَكسِنِي مِن نُورِكَ۔

★★★

کَساة:

جامو ته وایي چې خلق ئې اغوندې،سکښتې = سکستې = کستې، شاېد کَساة دَ کسوره = کخوره یا کسو ریښه لري۔ ړ دَ تصغیر دَ پاره ده دَ س = خ بدلون داسې دی لکه وژ چې وُج کښې بدل شو۔

## کرښه : کُرَاسه:

Karsa اوستا۔ کِش: پارسي۔ Magna Carta کښې Karta

هم دغه ريښه لري۔ کش پارسي ،کرښه پښتو، کښ نخښه، خاپ، کُراسه عربي، کرسه اوستا۔

کښ يا کش يو خصوصي غږ ته وايي۔ تورکښ کښې دَ کهشترې په باب مخکښې ليکلې شوې دي۔ کښ په خط چرخې راکښلو ته هم وايي۔دَ غني خان مشهوره مصرعه "کښ کښ دَ پرتوګ" هم دغه معنی لري۔ کښ کښ، کښ کرپ، شرپ، خرپ، درز، شغ، برک، پرک وغېره غږونو لره رائي۔




★★★

## کَرت:

۱ : ﴿ثُمَّ ارجِعِ البَصَرَ كَرَّتَينِ﴾ (الملک:۲)

بيا سترګې وګرځوئ څو واره

۲ : ﴿لَو اَنّا لِیَ کَرّةً﴾ (الزمر:۵۸)

کهٔ ماته بيا يو وار راکړی شي

۳ : ﴿فَلَو اَنّ لَنَا کَرّةً﴾ (الشعرا:۱۰۲)

۴ : ﴿ثُمّ رَدَدنَا لَکُمُ الکَرّة عَلَيهِمْ﴾ (بني اسرائيل:۵)

يوه ځله هم نه خطا خطا کرت کرت

"وارو مشرانو اشرف خان، بهرام، سعادت"(خوشحال)۔ په کرات مرات محاوره ده۔ مرات هم عرب کښې راځي۔

۱ : ﴿کَمَا خَلَقنٰکُمْ اَوّلَ مَرّةٍ﴾ (الانعام:۹۴)

﴿ثَلٰثَ مَرّٰت﴾ (النور:۵۸)

کرات مرات هم پښتو ده۔

★★★

## کُچ Caseus (Latin):

Ch=K Cheese دکِ C او Ch بدلون هم جوتوي۔

★★★

## ښکته:

= Cata لکه Catabolism چې ځهٔ خلق ئې Ketabolism ليکي۔ د Cavus (لاطيني) معنىٰ کوتې Cavity راځي۔ C = K د مردکو د پاره جوړ کوډ ته هم کوټې وائي۔ د چاپېريال نه ښکته وي۔ کته جامو ته هم وائي۔ اولسي وېنا کې د ښکته ښ وغورزېږي۔ کته

په څاروي د اسباب د پاسه اچوي- پیاړمه راښکلو سره ئې کلکه کړي- د زنې په سر کوتې ته پارسیوان چاه زنخ وائي-

زنخ = = Chin ch = z، که چرې چاه داسې ولیکو لکه Chah او ch = k راولو نو چاه = کوتې ډیروژبو کې ه = ة لیکلی کیږي- لکه تورات= توراة یا توره-

سنسکرت کې ورته هم Cevata وائي- مونږ ئې کینبوتی هم ګڼلی شو-

ګرام :

ګرام یوتېکي دی- دَ پښتو دَ ډیرو کلیو نومو کښې راځي لکه (۱) نوګرام (۲) بټه ګرام (۳) جولا ګرام (۴) کاني ګرام (۵) کابل ګرام (٦) شنګرام (۷) باګرام (۸) اوډي ګرام (۹) سوني ګرام (بونېر) (۱۰) تېلې ګرام (سوات) (۱۱) بټه ګرام هزاره او چارسده کښې:

ع : دکانګړي په تس کښې لاړي بټه ګرامه

دوي کښې باګرام دَ پېښور دَ یو زوړ نوم په حبث او اوسني افغانستان کښې یوه لویه پوځې هوائي ډګر په حبث جوت دې-

دَ هند ډېرې سیمې او ښارونه دغه ریښه لري- مونږ ته وئیلې شي چې دا دَ هندوانو دَ سنسکرت یا څۀ بل مشرقې توري دی او پښتونخوا کښې ئې باقیات الصالحات دي- داسې نه ده دَ عربستان نوم ګټلې قبیله بنوجر هم یادېږي یعني جر هم لرونکې یا دَ کلې خاوندان-ګرام دَ تول یا تللو یوه اندازه یا دَ کچ مېچ په اټکل بنیاد دی لکه کلوګرام وغیره-

## ګرام:

استوګن ځای، کلی، سیمه یا پاک مقدس ښار ته وایي. د پېښور دغه نوم هغه فضیلت ته ګوته نیسي چې چرې دې ښار لرلو.

بغ + ګرام = لوې کلی، خدائې کلی. لوې ښار د تول یعنې درونډ ښار. بغ د انګلیسي Big او د عربي بغ سره نزدې والې لري. د ترکو بیګ هم دغه اصل لري.

لکه چې عشریوه پیمانه ده چې په ډیکاګرام، ډیسې ګرام، ډیسي میټر کښې راځي دغسې ډیسې لیټر، ډیکا لیټر هم راځي. دا توري تول یوناني او لاطینې دي. دغه ډیسې د "دس" یا "لس" نه وتې دي. لس ګون، شل ګون، سل ګون، غبرګون، څوګونه دا ښائي چې چې د دې تولو سرچینه پښتو ده. اوستا کښې دسه او پهلوی کښې Deca بللی شي. د Tri, dia, mono توري په سائنس خصوصاً کیمسټری کښې ډېر زیات راځي. د لس بنیاد د لاسونو د ګوتو شمېر دی.

پښتو کښې د ډېرو کلیو نومونو سره وام یا ووم راځي چې هغه د دې کتاب بل مخ کښې راغلي دي. Gramma یوناني کښې خط یا نخښې ته واني. ګرامه درونډ او عزتمن ته هم واني.

★★★

ګرنډ = Grind = چورې کول، مېده کړل

= ژرنده

دلته د "ژا" ریښه مهمه ده لکه ژامه، ژاوره

Grinder کښې er د فاعل نخښه ده لکه پښتو کښې

سترګور، زړۀ ور، کچر، اخه ور، لکیور، شپیور۔

"ژا" ریښه پکښې د ژامې ده او "رنده" معنی د لرونکي: ژامه

لرونکي، لکه چرنده، کرنده، خرنده، پرنده، لرونکي یا لرنده۔

"که ژرنده دې د پلار ده خو په وار ده۔"

★★★

**LUNA (Greek)** سپوږمۍ

LUNA = دوانه = دیوانه = لېونی = لېوانی

LUNATIC چې سپوږمۍ ته ګوري

Luna د رڼا او رڼو سره نژدې رشته لري۔

Light ⟵ لیت ⟵ دیت ⟵ ډیوه ⟵ دیا

(Lantern) لالټین لېزت لېګت اورلګیت

Lunar Calndar Laser لغت

د نوستلو په حواله د رڼا نوستل په لونه هم وائي۔

★★★

﴿لَن تخرق الاَرضَ﴾ (بني اسرائيل)

نۀ شې څیرلې مزکه

تخرق = تخرګ = ترخ

تخرق = تخرېښ = خرېښ = ریښ = ریښه

خرقه هم دغه اصل لري

خـرقــه څېـرې دَ زاهـد شـوه
رنګ ئـې نــهٔ وینم دَ نواړې

(خوشحال)

تـخرګ هغـه برخهٔ دَ کمیس وې چې هلته لستونې دَ لمن نه بـلکې دَ سینې نه بېلېږي۔ تخرګ (Armpit) دَ بـدن هغه برخه ده چرته چې لاسـونه داسې ښکارې لکه دنور بدن نه بېل شوې یا څېرلې وې۔ دَ ریښـه مـصـدر ریښل دې۔ تخرګ ته انګریزی کښې Axilla وایي Axis مـحـور تـه وایـي۔ (دمـلا دَ تیر (شامزې) دوېم هډوکې ته Axis وایي)۔ Axilla هـغـه کـوتې ته وایي چې د Axis سره پېښ وې Axilla کښې دَ تـخرګ نـخښـې لېدل ګران نهٔ دې۔ لکه دَ لاس او ختې تر مېنځ Axilla وې ۔ دغـسـې دَ پښـې او ختې تـر مېـنـځـه ځائ تـه Groin وایـې چـې INGUINE ورته هم وایي INGUINE تـه پښـتو کښې امغانې وایي (یا مغانې)۔

په تخرق کښې چې مونږ دتخرګ او نورو ټکو سره مخامخ شو نو مونږ ته دَ ک او دَ ښ غږ الهٔ ماخذ vocal card او sound system څېرنه او دَ پښـتـون = پـختـون یـا پشـتـون) پـورې رارسېـدل جوت څـرګند شـي۔ ښـاغـلـې ظـفـر کاکاخېل دَ پښـتون، انګرېزې PUKSHTOON ښودلې ده هـغوې سمه وایي۔ ولې کهٔ داسې وشي چې مونږ پښـتـون =PUQTOON اولیکو نو ډېره به صـفا شي۔ بیا به ق =kh او ښ =sh راشي۔

تـخـرګ تورې کلیات خوشحال کښې راځي۔ تلفظ ئې تخرَګ

کېږي چې مونږ ورته ترخ وايو۔ ډېر امکان سره اوږېجنل توري "ترخ" دی۔ تراخ مانا د درز چاودلری۔

★★★

لب:

لپه = Lip = Labia

Labiumداسې ښکارې چې خلو کېنې و په ب بدل شي۔يعني ښه + لب = خلو، خلب = خلو: Cheilo (يوناني) کېنې

"خ = CH"، KH = SH = CH

لَعِبَاوَ وَلَهُو:

لهو لعب: لوبې۔

عمر په لهو لعب تېرېږي

مونږ د هوس يو هوس زمونږه

(خوشحال ختک)

۱ : ﴿وَمَاهٰذِهِ الحيٰوٰةُ الدُّنيَا اِلاّ لَهُووَلَعِب﴾ (عنکبوت:٦٤)

★★★

لنبه:

Flame → Flamma → Lamma → لنبه

(English) (Latin) (italian) (pukhtu)

↓

لمع (عربي)

لېو = ديو (فارسي) Lupu = Lobo = Lupus

(Pushtu) (Italian) (Spanish) (Latin)

لِيِ، لنا، لکم، لکما، لَهُ، لَهُم، لهما، په دې کېنې چې کوم ل

راځي هغه د پښتو د ل پشان دی، لکه مونږ له (لنا) (تاله (لک)، تاسو له (لکم)، هغهٔ له (لهٔ)، هغوي له (لهم)، هغوې له (لهما) دغسې په انت، انتم، انتما، کښې "ته" د پښتو ژبې دی یا کنتُ، کنتم، کنتما هم پښتو ریښه لري- په لې کښې ي د پښتو د یم ریښه لري-

***

لارغه:

لارغه =لرغون= نرغون دریغه اوستا دیرګه سنسکرت، دیر په معنی د وخت، ځنډ، دیرګه= درجه لار= لرد ډیرې هورته فاصلې معنی لري- لیارې هم وایي- کله چې ل په د بدل شي نو لري او لر په "دور" بدل شي، دور هندوستانی ده-




ع: لکه عمر لارغه رائشي زر درومي

(خوشحال خان ختک)

ـ خلق او بنیار دي زۀ لېونی یم
نۀ او سنې یم لا نرغونی یم

(خوشحال خان خټک)

لارغون د مستقبل او ماضي دواړو د ډېرې مودې د پاره راځي۔

★★★

لباسُ:

۱ : ﴿ولباسُهُم فِيهاحرِيرٌ۝﴾ (فاطر:۳۳)

(اولباس د دوی به په هغې کښې ريښم وي۔)

۲ : ﴿لِباسَ الجُوعِ وَالْخَوفِ﴾ (النحل:۱۱۲)

(جامه د ولوږې او وېرې)

۳ : ﴿لَبُوسٍ لَكُم لِتُحصِنَكُم﴾ (الانبیاء:۸۷)

ژباړنه: جامې تاسو لره چې تاسو پرې وساتې۔

ـ د اصیل جامه خپل اصل نه لباس دی
په زربافتو کښې یا ډم وي یا مریونه

(خوشحال)

د لباس مطلب نمرې، کالي، جامه، کتې ده۔ د بنیادمو اولنی جامه د ونو پاڼې، پټ او د ښاروو څرمن وه۔ پښتو ژبه کښې لوخ یو تېکی دی چې د بربنډ یا لغړ معنی ورکوي۔ لباس دوه جزونه لري یو لب او بل اخه۔ یعني د اخه سره لیو شوې یو څېز۔ مونږ "با" په "و" او ترې وړاندې غږ د زېر پځای "یا" کړو نو "لېواخۀ" ترې جوړ شو دا د ژبو د

ګريم قانون Gramm,s law مطابق دې۔ اخه بدن ، تنه تن ته وايي۔

(دوست شينواری زړه پنګه ۷)

دَ دې ټکې نه يواځه يعني يواځې وتې دی ببلځې ته بې اځې وايي۔دا لاندې اقتباس ما دَ ستر محقق دوست شينواري دَ زړه پانګه نه راخستی دی۔ "يوازې، يواځې، ببلځې، دغه دَ پښتو يوه کلمه ده چې کله دَ صفت په توګه استعمالېږي (لکه زلمې يواځې دې) او کله دَ قېد په توګه راځې (لکه زلمې ډوډی يواځې خورې)۔ دَ دغې کلمې په لېک دود (يوازې، يواځې) کښې او هم دا رنګه دَ الفاظو په اصالت کښې زياتې ګډوډې لېدل کېږي۔ پښتو قاموسونو يوازې او يواځې اخستې خو ببلځې ئې نهٔ دې ثبت کړې۔ دَ غزنې په زياتو سيمو شلګرو، قره باغ، مقر او هم دارنګه دَ کټوازو دَ سيمو پښتانهٔ (ببلځې) وايي چې کله کله دَ (و) غږ ورسره هم زياتوې لکه (داکارمابېلځې وکړو، زهٔ دَ ببلځې کار کوم)۔

دغه وئېز او دلېک دود او دَ هغو دَ استعمال دساحې پراختيا څېړونکې خاص پام ځان ته اړوې او له څهٔ غور سره وروستو دې نتيجې ته رسېږي چې دغه کلمه له دوو توکو جوړه ده۔

الف :۔ په يوازې، يواځې کښې لومړی توکی (يو) دی چې په پښتو کښې دَ شمېر ورومبی رقم دی۔

ب :۔ په ببازې کښې لومړی توکی (بې) دی چې دَ نفې ادات دی او دَ کلمې دوېم يعني مُغېره حالت غوښتنه کوي )لکه ببهوښه، بې

سده... کښې دلته دَ کلمې دوېم توکی دَ خاص پام لرنې وړ دی چې هغه اصلاً (اخه) دی چې معنی ئې دَ تنه، تن، بدن) ده. پښتو قاموسونو اخه دَ ورانه دَ هډوکې په معنی اخستې ده. ماته دا نهٔ ده معلومه چې دغه کلمه به دَ پښتو دَ پراخه سیمو په کومو برخو کښې په دغه معنی مروجه وې خو فکر کوم چې کهٔ داواقعیت ولري نو په هغه صورت کښې به دَ کل په نامه دَ جزاً مجازې تسمیه وې.

په دې باب دَ قاموس لټونکیو لټون هم کافي نهٔ دی. په وړدګو کښې (اخه= دَ 'خ' په زور کښې دَ اوږدوالي دیوې اندازې نوم دی چې په عربۍ کښې ورته ذرع وایي او دلاس له څنګلې څخه دَ ګوتو ترڅوکو پورې رسېږي خو کله کله ئې دَ هډپه معنی هم استعمالوې. مثلاً وایي چې (زلمې ښې اخې لري، زلمې اخور سړې دې) یعني ښهٔ هډونه لري او هډ ور دې په دغه معنی پښتو قاموسونو نهٔ دې اخستې. زما په نظر دَ (اخه) لومړی معنی(تنه، تن، بدن) ده او دخپلې دعوا په برخه کښې دَ استشهاد له پاره دَ لوستونکیو توجهٔ دَ ملاَ ارزانې په اشعارو کښې دَ (اخه) کلمې ته وراړوم.

هلته دَ اندامونو یعنې سر، لاس، پښو په مقابل کښې دَ (اخه) راوړل دَ تقابل معنی لري یعني هغه ځایونه چې له دغو جوارحو یا اندامونو څخه پرته دې. البته په پښتو کښې (خ،څ) دغږونو دَ یوله بله بدلون له پاره مثالو ډېر دي لکه دَ تلل څخه ځې، ځي.(په یوازې، یواځې کښې) دَ دغه کلمې معنی په ښهٔ سره داسې ده (په یوه تن،

تنها، پرته له بل تن څخه) چې په تنهاکښې هم د تن توکی لېدل کېږي. هم دارنګ د (بېلځې) شننه هم داسې ده (بې له کومه تنه، پرته له بل بدنه، منفرداً).

کۀ په پورتنې اساس د دغې کلمې اېتومولوژېک اساس په نظرکښې ونېسو نو کۀ څۀ هم د (ز) او د ځ د غږونو ترمېنځه کوم تاکلی حد نشته خو د يوازې په نسبت ئې د (يوائې) لېک دود ته مرجع ښکارې. البته بېلځې څۀ تاوېل ته اړتيالري.

د ملاّ ارزانې شعرونه داسې دي.

- لاس، پښې اخه څۀ وايي
  په حد حدبې حده ستائې
  لکه بند وې، وو په ډوره
  کاغذې تشه هوايي

★★★

- ستا صفت به بنده څۀ کا
  دا به بند صفت په څۀ کا
  چې دا بند دَ مور په نس کښې
  سر، لاس، پښې اخه کا

(د سرمحقق دوست شينواري اقتباس دلته ختم شو) زۀ د اخه په بره تائېد کښې څو ټکې راوړم.

(۱) جوثه: جثه = ج + اخه = جسم

(۲) غوځه: چې اخه تې منتشر شي. غاو شي.

(۳) پڅه: چې پرېکړول نهٔ کوي

(۴) لوځه: لخه: بربنډه: "سترګې لوځې کړه" يعني سترګې وغړوه، ښکاره کړه.

(۵) کوځه: کاوځه، کوسا کاوځه ته انګريزی کښې Gender bender وايي (Oxford) خونځه هم ورته وايي. چې نهٔ نر وي نهٔ ښځه. خونسا مشکل بې بلې. مردم خونسا هم ورته وايي.

(٦) نځا: نځه: ګډا، رقص چې اخه پکښې حرکتونه کوي.

(۷) کونځې: کونځه (دبدن دَ شاتنی برخې په سبب)

(۸) غرځه: غرځنې (چې بدن يې غرکښې وي)

(۹) ښځه: ښځه (ښهٔ اخه لرونکې: ښکلی بدن)

(۱۰) پرځچه: پرځځه (په معنی دتوتې توتې.
پرځ + اځه = پرځ + اچه).

(۱۱) بېلوځه: په معنی دخالص يابې لباسه چې ځهٔ تيتال نهٔ لري.

(۱۲) پېراهن: پېرسن: پېراځن کهٔ د پارسی، هندی دغسې شي نو د اځه ريښه لري. د صوابې پېپنائې به يې پنهائې وي - پې + پنائې چې ترپښو اوږد کمېس وي.

(۱۳) پېنځه: پېن + اځه: دَ بدن هغه برخه چې پښې بللې شي: ښکته بدن. پائېن اځه.

(۱۴) لمځې: لمُ او اځه

هغه اسباب چې په ښاروې، غوښې، سنډا، خر تې اچوې او داسې چې بدن د لم (لکۍ) سره تړلى وې. خلق ورته اسباب وايي. ممکنه ده دَ "اښه باب" سره تړون ولري.

(۱۵) ديوث : دَوُوس : هغه بنيادم چې خپل بدن ئې په داو ايښى وې. خپل بدن ورکوي، کونه ورکوي، دغسې دې کښې د "يو اښه" ريښه څرګنده ده چې اښه ورکوي ديو يا دُوو په معنى دورکؤلو راځي.

(۱٦) يـواځرې : دا ټکى دَ مردان په سيمه عام وئيلى شي. تجزيه ئې داسې ده "يوَ اښه" معنى ئې يواځې، په يوتن، واحده هستې چې نورخپلوان، شريک کار نۀ لري. زۀ يواځرې يم، څۀ وکړم.

(۱۷) نيمځه : نيم + اښه هم دغسې ده.

(۱۸) ملوث : مل + اښه :- په يو څۀ کښې بوخت، شامل.

(۱۹) يونک: Eunuch = يونچ = يون + اښه : چې بدن ئې يو شان وي. د هلک جينۍ توپير نۀ لرى. د يوناني او پښتو څۀ تړون هم ښائي. Eu دغه معنى لري لکه Eugene ، Euglena، Eukaryote

(۲۰) کُوځه : کو په معنى دښکلې او اښه = بدن. کوځه هغه ځائ چې چرته ښکلې تن موجود وې.

قـذ قـمِـيـصُـهُ : کوتاه ئې کړو کميس دَ هغۀ، څيرې ئې کړو کميس دَ هغۀ. قـذ هم دکټ کړې، څيرلې مطلب لري. کم اښه دَ

کچنی، تنه معنی لري۔

(۲۱) لباس : لب + اخه = لوې اخه چې تول بدن پټوي، لوی اختر، لوی شلمان۔

(۲۲) قمیص : کمېس = کم + اخه چې نیم پورته بدن پټوي، کم اختر، کم شلمان۔

د بره تول لیک نه جوته شوه چې کمبس اولباس د واړه بنیادي لحاظ سره د لرغوني پښتو توري دي چې لرغوني عربستان تللي دي او ډېره ممکنه ده چې د سومېريانو په خوزون کښې د هغوي په ذريعه دا توري عربو ته تللي وي خو اصل پښتو د ځان سره وړاندي پښتونخوا کښې خوندي کړي وو۔ د سومير اکادي خوزون هسې زما اټکل دی۔ خبره وړاندې هم تلی شي۔

– دا سرلوځي چې په نوم روښن فکران دي
دا د هېڅا زامن نۀ دي تش په ځان دي

(سلېمان لائق)

ع: د لانبو دپاره لوځه شو بلا شوه

(سلېمان لائق)

★★★

## لیک نخښې:

د پښتو سره د نورو ژبو د لیک نخښې هم نزدې خپلوي لري۔
غږي يو شانوالی او د لیک رابنکلی يو شانوالی دواړه ډېر جوت دي۔

ا، زموږ د "الف" یا "ا" نخښه ده. فینیشیانو د "الف" نخښه د عربو نه واخستله. عربیانو به د غوټي سر داسې جوړولو "A" شاید په دې خیال چې مزکه د غوټي په سر ولاړه ده. عربو دغه ته د الف غږ ورکړو او داسې ئې کړو "ا". لاطیني دغه نخښه د عربو نه واخسته او " α " الفا ئې کړه. انګرېزانو ترې A جوړه کړه او اې ئې ورته اووې.

"ב" فینیشیانو د مصر نه پۀ پور دا نخښه کورته ورکړه او بیت ئې ورته اووې عربیانو دغه اړولې کړه "ב" او "با" ئې ورته اووې. بیا چې کوم غږ په "با" شروع کېدو نو دغه نخښه به ئې سر کښې وه. لاطیني کې دغه نخښه اړولې شوه او "β" بیتا شو. فېرنګیانو هم اړولې کړه "B" ئې کړه. هندي او بنګالي کې دَ "ب" نخښه "ব" ده. پښتو کې هم " ب" د کور پشان ده. د انګرېزي P او بنګله "প" دَ یو بل اړولي شکلونه دي. هندي او بنګالي کې "ট" یعني په "ط" ئې بره نخښه جوړه کړه.

"ج" دا د الفابیټ دریمه نخښه جیم په لاطیني کې "ګاما" وئیلی شي او نخښه ئې "γ" دَ "ج" وران شکل دی. هندي او بنګالي دغه نخښې نه نقطه لرکړه او "জ" ئې کړه.

د: دا نخښه "ٮ" ډي هم اړولې شوه. سنسکرت کې "ٮ" شوه موږ دَ "ک" نخښه اخلو. هندي او بنګالي کې دا داسې "क" شوه. تاسو ورته خیال وکړئ "ک = क" بیخي تحریف دی.

په شمېر نخښو کې "۱" دَیو نخښه لکه دَ کوتې ده. غږي یو

شانوالی ئې یو، یک ,Uni، اِک دی۔

"۲" 2 دوه پېښې لري۔ وېنا ئې دوه، دو، ثاني = ث = th = داني = Two نـږدې دي۔ "۳" 3 درې، تهـري، ثـلـثـ۔ث = th یـو شـان دي۔ "۴" 4 څلور، چار، چهار، فور نژدې دي۔ "۵" 5 پينځ = Five ف = پ نـږدې غـړونــه لـري۔ "٦" سـدس، شپږ، شـش Six یـو شان دي۔ هـفـت، اووهٔ، سپتا، سبع ۷، ۷، 7 یـو شـان دي۔ "۸" اتهٔ او Eight یو غږ دی هشت هم ورسره نژدې دی۔ رګ وید "اشت کا" یا اتهٔ منزلونه لري۔ "۹" نههٔ نه، نو، نائن یو شان دي۔ "۱۰" لس، دس، ډيسي، ډيکا، دسه یـو شان دي عشر په دې کتاب کې پوره بیان شوی دی۔ دَ رګ وید ډېرش نسخې لاس تـه راغـلـي دي چې په شاردا او دیوانګري لیکدود کې دي۔ پينځهٔ پکې پوره ګڼلی شي چې زړه شارده کښې دي۔

★★★

## مذهبي کتابونه

(۱) القُرآن: هغه څه چې ډېر وئیلی شي، ډېر قرأت ئې کېږي۔

(۲) بائبل: بيب + ايل = وَي دَ الله

ب = و، بيب، وَيو = وېنا

(۳) اِنجيل: اِنج + ايل = اينج = خبره: خبرې دَ الله، کلام دَ الله

(۴) زبور: ژب + ور = خوږه ژبه

(۵) تورات: شریعت، قانون، توره

(٦) ريژويدا: ريژ = پوخ (Authentic)

ویدا = وې + دا = دا پخه وینا

This statement: the authentic

(۷) اوستا: اووې + ستا = words : yours

(۸) ژند: پی + ژند = پېژندل Cognition : معرفت

ژند = ژند ←—— Gnosia

G=ش ↙

جاننا ←—— شناخت

سند، پسندل هم دغسې دي۔ ش = ج

سرمحقق دوست شینواری لیکي چې "پېژندل" کښې "ژند" مختاري دی۔ د ژند منونکی زندیق پښتو کښې ډېر غټ ښکنځل ګڼلی شي۔

## مَتلې:

مَتلِې تلاوت کونکې ته وایي۔

- هر آیت چې به راتللو پاس له عرشه
لا په عرش به ئې علېّ وۀ متلې

پښتو ژبې کښې دغه ته نزدې معنی متل ورکوي۔ متلونه پښتو کښې ډېرزیات دي۔ دا ټکی مونږ ته دخپلې ژبې سوچه ټکی ښکارې نو دعربۍ د تلاوت سره ئې یوشان والې ډېرارزښت لري۔ متل Quotation یا ضربُ الامثال وي۔

وحې متلو اوغېرمتلو هم متلې سره تړون لري۔ "تلوتهٔ"

پښتو کښې تلوُل فعل څخه تلوه امر راځي. معنی ئې ده څهٔ شی د بره نه ښکته شیندلو کښې راغونډول. د "تل" توری مونږ وړاندې څېړلی دی.

★ ★ ★

محمدزئي ، مومن زئي:

موسی خېل، محمدّ خېل او دغسې بې شمېره نور ډېر یوسفزئي، داوود زئي، سلېمان خېل، ابراهیم زئي وغېره دا د پښتون څو نوم ګټلي قبیلي دي. دامفروضه به د خلله خالي نهٔ وي چې زمونږ قبائیلي نومونه تپول یانیم د اسلام نه پس ایښودی شوې دي. هرکله چې زمونږ اولسي نومونو کښې تردې دمه سوچه پښتونومونه ډېرزیات دي او څنې نومونه په ښکاره غېر عربي دي.

ماهویه سورې هم دغسې یو نوم دی (معاویه). اتمان خېل، اتمان زئي او د اباسین په غاړه اتمان هم دغسې نومونه دي. اتمان Otoman هم سره ورته دي. پښتو کښې اتمان او عثمان دواړه تورې شته البته د ث غږ لکه س ورکوي.

زمونږ په ژبني، اولسي، غرږي علمونوپوره یقین دی چې داتېکي او نومونه پښتو ژبه کښې د لرغون نه موجود وو. د عربی سره ورته والې ئې څرګندوي چې دا زمونږدهېوادنه عربستان ته تللي دي. دعالم انسانیت په موجوده اوسني حالت کښې چې مونږ د څهٔ لږ ډېر دلیلونو وړاندې کړلوجوګه شونودا هم ډېر زیات دي. هېڅوک دي

ورته سپک نهٔ ګوري.

اېپ، اېپ خان، ايوب خان، اېپي اودغسې نور ممکن غږونه دَ يو توري "اېوب" شکلونه دي، فقير اېپي هرڅوک پېژني. دامام ابو حنيفة دپلارنوم ثابت اودهغهٔ دپلارنوم زوتې زوې دتاؤس (طاؤس) په مستند حوالو راځي. په داکښې زوتې دَ ضابطه خان = زابته خان = زبته خان = زوته خان = زوتې ډېر ښکاره دي. زوتې دَ ضابطه خان وران شکل دی وراندې مونږ توریاس ډېر څېړلی دی.

افتالې، هياتله، اياتلې، اېتليان او ابدالې داسې توري دي چې لرغوني تاريخ زمونږ داسلام نه وراندې خوندي کړې دي اونن سبا هم هغسې دي. دغسې دَ اېرېدې، شيتک، پکت او نور بې شمېره توري چې دهند دَ وېدونو وغېره او ژند اوُستا او نورو ذريعو مونږ ته راکوز شوې دي.

"خېل" په فارسی کښې معنی دَ ډېر لرې يعني ګڼ شمېر او "خېل" په عربی کښې معنی دَ "اسپو" لري. چرته چې دَ اسپو ګڼ شمېرجوړ شو هغه يو خېل شو.

دَ ګڼو بنيادمو سره دَ اسپو موازنه لکه دَ فوجي يونټيونو وشوه. اسونه ساتل اولرل زمونږ دَ پښتون قام مجبوري هم وه اولسې ژوند ئې داسې وهٔ چې دَ اسونونه بغېرنهٔ تېرېدلو. دَ "خېل" دغه توری چې اېران ته ورسېدونو هغوې دډېر معنٰی کښې واخستلو او عربيانو د اسپو معنٰی ترې واخستله.

پرګنه او جوپه هم دغسې ريښې لري چې پخپل ځای دې
کتاب کښې مونږ څېړلې دي۔ يوسفزي چې اولس ئې اېسپ زې
بولي، هم دغسې يو توری دی۔ زمونږ ډېرو قبيلو سره چې زې لاحقه
راځي زيات امکان سره د "زوي" توري څخه ده۔ لکه دَ اېسپ نومې يو
سړي اولاد ته اېسپ زوي ووئيلې شو چې څۀ موده پس تري و حذف
شو۔ دغسې اوس زمونږ زمانه کښې زمونږ کلي کښې هم په
نامعلومه اولسي طريقه باندې نومونه بدلېږي رابدلېږي او دغه زې او
خېل لاحقې لري۔

خوشحال خان ختک د امام ابو حنيفهؒ صېب باره کښې ليکي:

پلار نيکۀ ئې دَ کابل وو
بيا په بلخ کښې مقابل وو

دَ بايزېد بسطاميؒ نسب نامه داسې ده :۔ طيفور بن عيسې بن سروشان
طيفور مونږ دَ پښتو عام نوم سيفور اخستی شو او سروشان لکه د
سروې خو سو چه پښتون نوم دی۔ بسطاميؒ هم اتش پرست زرتشتي
وو او دَ امام صېب مشران هم دَ بلخ زرتشتي وو۔ دَ خوشحال شعربنائې
چې بلخ کښې دَ اسلامي عسکرو سره ئې جنګ کړی وۀ۔

دوارو د خپل وخت قامي مشرانو کښې وو او غالبًا ابداليان وو۔
دَ باجوړ ګبري اولس هم يقينًا زرتشتي عقيده باندې وو چاباندې چې
مغليه بابر بې حده ظلم کړی وۀ (تزک بابري)

ع: مابه مړ کا ندې بچې د ګبر

(خوشحال)

نن سبا پښتو کښې ګبر توری بېخي د کافر معنی ښندي۔ داسي ښکاري چي د اخون سالاک ډوما قبیله هم دغسي زرتشتي پښتانهٔ وو۔ د اسلام راوړلو نه وروستو دغه خلق پښتنو کښي جذب شو۔ کۀ ژبه ئي یوه نۀ وه نو جذب به ګران وۀ۔ سواتي سلطانان هم پښتانۀ وو۔

کـالام = کـلـي + وام ( وام پـه مـعـنـی د کلي وزیرستان کښې ډېرزیـات دي) وزیرسـتـان کښـي سـپـین وام، زیړوم، وچ وام، احمدوم، کړیوم، سدوام، اشوام، کرکنیوم، کنوام کلي دي۔

بشام = بش + وام

کېدام = کېدوم = کېد + وام

مالم جبه = مل ووم

پښتونخوا د کي اتمانخېل، اتمان، اتمانزئی، چارسده، اتمانزی وزیر په دې ډول اهم دی چې مونږ ته دا څرګندوي لکه پښتو ژبه کي ارتقائي لحاظ سره ت د ث نه زیاته لرغوني ده۔ هر کله چي "ث" د غرږي رویه نور تېکي لکه س هم لري۔ په بنیادي توګه "ث" د پښتو خپله نخښه نۀ ده۔ اتمانزئی د فخر افغان باچا خان کلی دی۔ اتمان د اباسین په غاړه یوسفزي دي۔ اتماتخېل څانلره خو یوسفزي سره ملګرې یوه درنه قبیله ده چي خوشحال ئې دارنګ برنګ په حواله ډېره ستاينه کوي۔ د ت د لر غونتوب نه زمونږ مقصد د پښتو ژبې او اروپائي ژبو تر منځ تړون په نخښه کول دي۔

ماَت:

عربی کښې مرګ ته وایي

۱ :۔ افاِن مِتَ او قُتِل۔۔۔۔

۲ :۔ ومَن ماَت۔۔۔۔

۳ :۔ فی یومِ الّذی مات فیه۔۔۔۔

۴ :۔ من مَاتَ لهٔ ولدٌ فاحتسب۔۔

پښتو کښې مات ماتېدلو، توتې کېدلو ته وایي چې نېغ پاتې نۀ شي۔ "خان علېن مکان وې چې اول ځل ببرې ماته شود ببخود سرد ولاړ وم۔" "بیاپه جلبی هم مات شۀ"۔ "حق تعالي کافران مات کړل"۔

د پښتو نومونو کښې اورک زئی د URUK ریښه لري۔ په دغه نوم سومیریا کښې یو لوی کلی وو۔ "دلازاک = دل + زاک = دل + ساک = دساکانو ډله = پوځ، لښکر"۔ اورمړ هم د UR ریښه لري۔ ابدالي نوم د هیاتله وران شکل دی۔ سړبن د ساوان شکل ښکاري۔ سربند یو لوی کلی دی چې د باړې په غاړه د خلیلو اپریدو په پوله پروت دی او د سړبن سره د یو شان والي چغې وهي۔ "ژند" د "پېژندل" ریښه ده، د اوستا شرحه ده۔

ژند پاژند ← پېژندل ← Gnosia ← شناخت ← جاننا

دَ اوِستا شننه داسې ده۔ اوِستا = اوې ستا

words your

دَ ريږويدا شننه داسې ده۔ ريږ = پوخ

وې = ويېنا

This = دا

Your Sayings = ريږويدا
the authentic

"مومند" په اوستا کښې "مهمند" او پانيني Madhumant راوړی دی۔ ګنداره نۀ دَ پښتون قبيله وه، نه دَ بل چا۔ دا نوم هغه چا باندې ايخښولی شوی دی چې دَ دارای اعظم ګوندی وو۔ ګوند + دارا۔ هيرو ډوټ چې ئې ځنګه بيان کوي، ترې بريښي چې دا دَ هغه دَ عام لښکر نه بدل وو۔ ګوند، ډله، مرستيال، او کله نا کله دَ پوځ په معنی راځي۔ دا دَ يوې سيمې نوم وو چې ډېر ځله ئې چارسده پلازمينه وه۔ "دلازاک په حادثه په هِند تفرقه شو"۔ دغه حتمي فيصله ده۔

(تاريخ مرصع)

- دَ ښېو لاشــه دې مــاتــه شــه پـه مـاکښې
غم مې دادی پس له ما به ېرې بل مرِ کړې

(خوشحال)

- دَ بـنـګـښ پـه توره مـات نـۀ يم باور کړه
دَ کـمبـت پـه جنګ مې ماتې آسمانې وه

(خوشحال)

★★★

مُدت:

مـدت = مـوده (پـه سـوره انـفـال اوتـوبه کښې راغلي دي۔ الي مُـدتِهم) پښترِ کښې موده وئيلي شي۔ دا دَ عربي دَ گرائمر مطابق بدله شوه۔ لکه مُدتهُ = هغه موده، مياد، مبعاد۔

★★★

مَل :

مل : مَلاَ ہُ ، مَلاِالاَعلٰی

۱ : ﴿اِلٰی فِرعُونَ ومَلاَئِه﴾ (المومنون:۴۶)

۲ : ﴿قَالَ لِلمَلاِ حَولَهُ﴾ (الشعرا:۳۴)

۳ : ﴿اَلَم تَرَ اِلَی المَلاِ مِن بَنِی اِسرَائيل﴾ (البقره:۲۴۶)

۴ : ﴿قَالَ المَلاُ الّذِينَ استَکبَرُو﴾ (الاعراف:۸۸)

۱۔ چې تـرتـا نـه وړانـدې وروستـو ځې ملهٔ نهٔ دې
چې پـه لار درسـره سـم ځـې مـلـهٔ هـغـه

(خوشحال)

۲۔ چې مـې مـلـهٔ کـېـل پـه دواړو جهـانـونـو
هـم هـغـه لـه مـاپـه داجهـان وېـزار وو

(خوشحال)

۳۔ عـاقبـت بـه مـلـگـرې درځـځـه پـرې کـړه
چې تـرتـانـه وړانـدې وروستـو ځـې ستاملونه

(خوشحال)

کـﮥ څـوک وايـي چـې دا تـوري نـورې هـنـدي ژبـې هـم لـري نـوجـواب ئـې دا دی چـې د دې ځـايـه پښتـنـو دځـان سره هندتـه وړي دي۔ مـل پښتـو کې وخت، درنګ سات ته وائي۔ لکه "هلکه ته به څﮥ مال راځې" "زﮥ نمازيګر مال د پټو نه کور ته راغلم"۔ دا لاندې وختونه د حبيبي صـيب او دوست شينواري نه ليکمه۔

۱: بريځر: سحر، سهار، سار

۲: غـرمل: غرمه، داسې درنګ چې ګرمي/غرمی ډېره زياته وي۔ سره غرمه، تکنه غرمه۔

۳: برمل: نماسپښين۔

۴: لرمل: نمازيګر۔

۵: ترمل: نمابنام۔

"غـرمـه" کـې د مـل يـا مـال ريښـه ليدې شـي۔ مـال د څاروو ګـوواړې يـا څـاروو تـه هـم وائي۔ "مال شرلو وخت کې دا کار وشو" "د شـاباز ګـرهـي تـه مـال راووتـلـو" "هلکه لاړ شه مال د پټو نه راوله"۔ مـعـلـومـېـږي چـې دڅـاروونـه د چـا د مـالـداری درک لګېدو لکـه Gonadoد سپين د برد ليک نه برڅېرد شود چې مال وخت ته او څاروو او دولـت تـه وائـي۔ تېر مال، اوس مال، وستر مال د ماضي او حال د پاره ډاکټـر مـجاور، احمد زيار راوړی دی۔ هغوي مال د Tense معنی کې اخلي۔ مهال = مال مطلب د زماني لري۔ تاريخ مرصع کې مهال توری لکه مهال ترې بولاق ډېر راځي۔ لکه مطلب ئې انتظامي سيمه وي۔

## مَسجِد:

دپه ت بدلېږي لکه قصد = کست، بد = یت = ات = هات تجوید، جود = زوت، زیاد = زیات، صده = ست، جلاد = جلات، مزگت = مسکیت : حبیبي صبب، مسجیت = مجیت = ماجیت. د ماجیت معنی ده د ماجې یا ماګې (مجوسې) ځای۔

په انګرېزی ژبه کښې د MAGI په ځای د MAGIC او Magician تېکې دې۔ یعني هغه کسان چې دم درود، جادو مادو سره ئې تړون وۀ، یعني مذهبي خلک، قوي ېقېن سره چې انګرېزی دغه توري د مجوسې دتورې نه اخستی دې۔ دغسې پښتو سره د نورو ژبو تړون څرګندېږي۔

هرکله چې نن ئې تړون د Magi او مجوسیت سره ښکاره شۀ نو د زرتشت د اوستاپه لار ئې ریښه لرغوني پښتو ژبې ته رسي۔ د Magi معنی Oxford کښې Persain Priest لیکلې ده نو د magi د اوسېدو ځائ Magit ماجیت شو دغه ماجیت دَ عربی مسجد ته بدل شو۔قرآن پاک کښې مسجد تکی ډېر راغلی دی۔

۱ : ﴿مَسجِدِالحَرَامَ بَعدَ عَامِهِم هٰذَا﴾

۲ : ﴿لَمَسجِداُسّسَ عَلیَ التَقوٰی﴾

MAJUS ⟶ MAGI ⟶ MAJEET ⟶ MASJID
↓
MOSQUE

د باړې مومند ئې اوس هم ماجیت وایي۔

- تـبې پـه لاس کښې پـه نظام پور کښې
ناسـت پـه مسـجد کښـې جمدر ترځنګه

(خوشحال)

★ ★ ★

مَوج:

﴿مَـوُجُ مَن فَوقِهِ مَوج﴾ (الـقرآن)۔مَاءَ + اوج،اوبه + سپينې (اوچتې) دَ سپينې مـعنى کښې اوچتې يعني چپې داخل دي،د اوج مـعنى سپـين خېژې اوچپې يا اوچتې ئې په معنى کښې دننه شامل دي۔اوج اصل کښې دَ پښتو وژ دى لکه وژمکه کښې۔

قرآن پاک کښې راځي ﴿مَوُج مَن فَوقِهِ مَوج﴾۔

- زړهٔ تـا خـنـى دَلـوى دريـاب کـرم
اوس بـه پـه کـومو موجـونومـا ورې

اوج دَ سپين پـه معنى هـندي ژبو کښې اُجلن وغېره کښې راځي، اُجـلا، اُجـلـن، اجالا، وُجيالا کښې دغه دَ پښتو ژبې وژ دى چې دَ سپين معنى لري۔ جلا هم دغه رېښه لري۔

وژمـکه معنى لري سپين مخې۔ مکه = مُکهـ يا مکهړا چې دَ سنسکرت تورى دى ګـل مـکى. هم دغـسې شننه ورکوي۔په موج کښې وج دَ پښتو ژبې دى۔سپونږمى = سپون وژمى. اوس هم ځنې قبيلې سپين تـه سپون وايي او دلته دوه سپينه په مطلب دَ مبالغې راځي يا دَ يو تورې ژبنې ارتقائي سبب دى۔

دولت خان اُجیالا د اسلام شاه سوري شهنشاه هند د وخت یو کردار دی وایي چې د هندوستان په خاوره داسې ښکلې شکل لرونکی ځوان چرې پیدانهٔ وهٔ اُجیالا ورته ځکه وایي. سپینړمي هم لکه دَ سپ-نړمی. شننه ورکوي۔




★★★

"Morgue" دَ پښتو دځنو قبیلوپه وېناکښې مرګ = مورګ راځي دغسې په انګرېزۍ کښې په معنی دمرده ګاه راځي۔ مَیّت (عربی) کښې "ي" په "ګ" یا "ج" بدلېږي۔

go: ګ، Gel: ج

یعني ی = ج

دغسې Morgue = مرژوه = مُرجا = مرده ګاه

مګګا یا مګجا لکه یروشلم = Jerusalem، په هسپتال کښې دَ پوسټ مارټم ځائ ته وایي مرده خانه بللې شي۔ موت = موګ دَ پښتو توری مرګ morgue دیوبل پوره متبادل دي۔ وزیرستان کښې

مرګ ته مورګ وايي. سنسکرت کښې مرګ ته مرکه Marka وايي اوستاکښې ورته Mahrka وايي. قرآن پاک کې " وَماهُوَ بمَيِّت" "اِنَّكَ مَيِّتُ وَ اَنهُ مَيِّتُون".

★★★

مېچن:

دا د پښتو توری دی دغه تکی په انګرېزی کښې مشين Machine شي. په لاطينی کښې Machina شي په اطالوي ژبه کښې Macina شي.

Machine مشين مېسنا مېچن

↓ ↓ ↓ ↓

ک ⟶ ش ⟵ س ⟵ Ch

(ارتقا)

منجنيق:

Magazine (انګرېزي)، مېغنيخ (پښتو)، مچوغنه (پښتو).

★★★

مور (پښتو :More) Mere (French) Mother (English)

Matror ⟵ (Latin) ⟵ Madar (Persian) ⟵ Umma (Arabic)

↓

Mamta (Hindi)

↓

Mann (Bihari)

MARY ⟵ ماريه ⟵ مريم

تاسو پام وکړئ هره ژبه دمور دپاره لرونکې تکوکښې میم سره
ګډ لري دغسې mamma او mammary gland هم دغه ریښه لري۔

★★★

نب : نَبَا :اَنبَاءُ (پښتو نوی زړې۔ نوی، نوا)نوی (دعربۍ ب دَ پښتو و
نه لاړلو)News

﴿ذَالِكَ مِن اَنبَاءِ الغَیب﴾ (القرآن)

﴿نَبِیَّ عِبَادِی﴾ (القرآن)

News(English)→Nab(Arabic)→Naway(Pushtu)→Niya(Hindi)

↓

Nehj (Bangla), Now (Persian)

داتکې دَ سنسکرت نه وتې دي۔ سنسکرت پخپله پښتونه
هند ته تلوکښې دغه ځان سره یوړلو۔

★★★

نقش : نخښه (ق = خ ، ښ)

نښه = نښان = نشان

نواې غیب، بې نوا، بې غږه

سِجّیل:

﴿تَرمِیهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّیلٍ﴾ (القرآن)

سِجّیل ته کوتکانی وایي۔ پښتو کې ورته شینګل هم وایي۔
کوتکانی غالبًا کوتلې شوې وړوکې او تېرهٔ کانې ته وایي۔شینګل دَ
کوتکانې نه غټ وې۔ کانی چې توټې توټې شي او په لاروئې دَ پخولو

دپاره خپور کړې نو شینګل ورته وایي۔ (کوټکانې د ګاګرې نه جوړ وي، ګاګره هغه کاڼی وي چې د خړواوبو په یو ځای د ټکراوېدونه جوړېږي دا په خوره (سبم) زمکه کښې هم وي او جبو کښې هم وي کاڼی چې ټوټې ټوټې شي هغې ته مونږ پښتو کښې روړه وایو۔ شینګل د سمندر یا دسین قدرتي کاڼې غونډې کاڼې وي او لکه د شګې په اوبو کښې وي فرق دادی چې شګه مېده وي او شینګل لږ غټ وي۔

دَ ابنِ عباسؓ روایت دی چې داټکې فارسي نه مغرب شوي دي او معنی ئې داکوي چې۔ بَعْضَهُ حَجَر وَ بَعْضَهُ طِیْن (څهٔ ګټه او څهٔ خټه) دا توری هغوې د سنګ او کل نه مرکب ګڼې(عربې) سنک = سنګ (پارسي)۔

= = ګِل = کِل = =

سنک ګِل= سنک کِل=

سج+ جیل= سجیل۔ کاڼې + خټه۔ ګ په ج بدل شو۔

دپارسي نه سنګ کل عربي کښې سنګ ګل شو۔ بیا سنګل شو بیا ګ په س بدل شو او سنجل شو بیان حذف شو او سجېل شو۔ د وخت بدلېدوسره شد او زَور زېر بدل شو۔

وَقَال ابن عباس مِن سجّیل هِیَ سَنك وَ كِل

(صحیح بخاري کتاب التفسیر

جلاالدین سیوطي هم سجېل معرب ګڼلی دی۔شینګل نن هم پښتو کښې دغه معنی ورکوي اوعربي سره ترون ئې واضحه

دی۔ کۀ څوک ګنې چې شينګل پښتو توری نۀ دی نو دابه وايو چې دا تېکې مونږ کتابتونونو کښې زده کړې نۀ دې دامونږ خپلو لاروکو څو کښې اورېدلې دې۔دوېمه خبره داده چې شګه، شګلن، شګلوړه، شګنه تيکې زمونږ دَ ژبې عام تورې دې۔شګل دَ شينګل اورېجن دی۔ شګې ګل هغه ځلېدونکې يو چې ته وايې چې مونږ به خپلوکوتوته ورکؤله۔دغسې کهګل هم۔ که + ګل يعنې دَ بوسو ډکه اخلې ختېه۔

- اووم دېوال به په کهګل سره پوخ نۀ کړې
کـۀ هـرڅـوبـانـدې هـنـر کـوي اسـتـاده

(خوشحال)

- چـنـد کهـګـل مـې نـمـائې بے بقاديوار را
ګرتولنګرکوټ خواهې قلعه کن دمغار را

(خوشحال)

داهغه شعر دی چې دَلنګرکوټ دَ جوړولوپه وخت مهابت خان صوبه دارِ کابل ته خوشحال وئيلې وۀ۔

"غـوښې لـه غـېـبـه پـه شـګلين کانې ولګېدې" (تاريخ مرصع افضل خان صفحه ۵۸٦)

تـاسـو وګـورئ "شـګلن" توری افضل خان څنګه راوړې دی او ورسـره دَ "شـګـل" تـلـفـظ هـم مـخې ته کړی۔پښتو کښې يوبل توری "سـنـګـلاخ" هـم شته۔سنګ له شګې څخه وتې دی اولاخ لخه يالهه يـالايـه ۔هـغـه مهېنه خاوره وې چې دَ سېلابه وروستو پاتې شي۔ دَ کال

۲۰۱۰ء دَ جولائي اګست سيلاب ټول اشنغراونوښارپه لخه ډک پرېښودل۔ دسجېل په حقله بله غټه خبره هم شته۔ لکه "تَرْمِيهِمْ" او "مَارَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ"

يعني شګه نوستل : دَ شګې نوستلو سره زمونږ دَ شګل تائيد ډېر وزن مومې۔ ترمې ترمې، ذرې ذرې معنیٰ لري، لکه شګه۔ ترمې ترمې دپښتو محاوره هم ده۔

﴿تَرْمِيهِمْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ﴾ (القرآن) المرسلات

- لکه مست هاتهې زنځېر کړه ترمې ترمې
چې په خوب کښې وربښکاره شي هندوستان

(خوشحال)

څوک چې اوس هم داټکې دَ پښتونه اخستلې شوې نۀ ګڼې نوکۀ مونږ ئې غندنه ونۀ کړو په لوړ آوازئې ترديد خامخاکوو۔ صحيح بخاري دَ ابوعبدالله محمدّ بن اسماعيل البخاري (۱۹۴ هـ ۔ ۲۵٦ هـ) راغونډکړې دَ احاديث مبارکه ګنه ده۔ دغه کتاب ژباړنې سره مولانامحمدّ داوود دَ راز دهلوي دَ المکتبه السلفيه۔ زاهدبشيرپرنټرز لاهورپه ستمبر ۲۰۰۴ء کښې په وړومبې ځل چاپ کړو۔ دَ دغه کتاب دويم جلد کښې دمختلفوبابونو وېش په کتاب الوصايا، کتاب الجهاد، کتاب الفرض الخمس، کتاب الجزيه ولموادعه۔۔۔۔۔۔ الخ شوی دی کتاب التفسير دَ صفحه ۳۳۹ نه ترصفحه ۱۳۱٦ رسې۔ زمونږ محوله دَ سجېل تفسير په صفحه ۱۳۰۸ دَ دغه کتاب راغلې ده

صلصال هم په ختېه کښې شګه ته وايي۔

★★★

سُل Centem Cental sal :

سو = صد

کوم سد چې دَ دېوال معنی لري، هغه په س لیکلی شي۔

سل تنه = سُلطان

سُود سَلَم = سلمه برخه

پښتوکښې بې سُده بې هوښه ته وايي یعني بې فایدې۔

سل = سنډل = Sandral =HUNDRED

دَ سل غړ دَ سنتیم، سېتم بنیاد دی۔

پښتو په سېتم تېر کې راځي خو لکه چې ښکاري دوارو تېرونو سره خپلوي لري۔

★★★

سوال:

"دچانه څۀ غوښتل" سوال ګڼلی شي۔تپوس کۊل، پُښتنه کۊل

۱ : ﴿سَل بنی اِسرائیلَ﴾

(د بنې اسرائیل نه تپوس وکړه، سوال پرې وکړه)

۲ : ﴿وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِى عَنِّى﴾ (البقره:۱۸٦)

(اوکله چې تانه پُښتنه وکړي بندګان زما په حقله)

۳ : ﴿كَمَاسُئِلَ﴾ (لکه چې سوال کړې وۀ)

۴: ﴿لاَ یَسئَلُ عَن ذَنبِهٖ﴾　　(الرحمٰن:۳۹)

(سوال تپوس به نهٔ کېږي دَ هغهٔ دَ ګناه)

- نــهٔ دَ ســوال پــه هـنـرپـوه یـم
نـــهٔ طـــالــع لــرم دَ پــور

(خوشحال)

- نـن مـې وکـړل دَ استــاذه نـه څـوسـوالـه
سـرفـرازئـي پـه جـواب کـړم دهـرسـوال

(خوشحال)

ع: خـولـهٔ په ولوړه چینګه ښه ده نهٔ په سوال

(خوشحال)

★★★

سِراج:

چراغ = څراغ

= څر + آګ　　　غ = ګ = ج

= سُوراګ

= سورج

څر = بڅرې

= چره : توته : ځلېدونکې توته

څر = څرک

سِراج = سُورج

= سُور + اَج = سُور+ آک = سُور اور

ـ نن به څراغ په کورکښې نهٔ ږدم چې هېڅوک ګمان ونهٔ کړه
دانـزدې دَ چـم وګـړې، چـې نـن ښـهٔ مېـلـمـه زمـادی

(خوشحال)

ـ ساقـې هـرکـلـه دې وېـنـم
مـه جبېـنـه، مـخ سـراجـه

کامل صبب ورته معنی چراغ، شمع لیکلې ده۔ هرکله چې دوېمه مصرعه کښې "مه" یا میاشت راغله نو وریسې سراج یانمر راوستی شو۔ دهند سوُرج هم دغه اصل لري۔ سورج بنسې خاندان دغه پس منظر لري۔

سُور Red ته او "اج" آک ته وایي

دوست شینواری لیکي چې دعربی سراج دَ پښتود سرغ نه معَرب شوې دی۔ (زړه پانګه دوست شینواری)

★★★

## سَرِیعُ :

سراېستې، سرغنه : سرغه او سرغنه دَ دوست شینواري مطابق مشرته وایي چې دَ تولوسرکښې وي۔ دَ پښتو ټکی سو چه دی اوعربی ته اوړېدلی دی۔

۱ : ﴿وَاللّٰه سَرِیعُ الحِسَاب﴾

سُواَت:

څنې خلق ورته نن سبا هم سَوَات Sawat وايي او ليکې۔سَوَاد : سَواَد څنې خلق اوس هم دَ 'ت' په ځاۍ 'د' ليکې او وايي "سَ واَد"۔"سَوَادُالّيل : اَسوَد"

| اسود | ابيض | احمر | اصغر | اکبد | اخضر |
|---|---|---|---|---|---|
| Black | White | Red | Yellow | Blue | Green |

سوتوپوتا = سوتو په توې = سوات توې دَ توې تکې نن سبا هم دغه دَ سيندپه معنی کښې مختلفې قبيلې استعمالوې۔ توې او توئېدل هسې هم دلته موزون تکې دې۔وزېرستان کښې دارا توې، دوه توې، امان توې مستوې، تانګې توې او پخپله تو چې = توې چې مشهور دې۔ جېندې = جېن توې دې۔

"سل اوبنان ئې د سارۀ تويه راوستل " (تاريخ مرصع)۔

سوات دَ پښتونخوا هغه سيمه ده چې دقطبې غرونو مېنځ کښې پېښه ده ممکنه ده دَ غرونو دَ توروالې په سبب ئې نوم سواد شوې وې چې دَ بيا په ت بدل شو۔کۀ س پکښې سبوائې وګڼو نو دَ "واد" Valley رېښه لري۔ هم دغه دَ انګرېزی وېلې ورسره دَ يو والې رېښه لري۔ څۀ خلق په س باندې پېښ (سُ) وايي او سُواد ئې بلې۔ سُواد په معنی دَ اړخ، طرف لري۔ لکه سوادِ عجم، سوادِ عراق، سوئ عراق او سوئ عرب هم وئيلې شي۔

.هیون سانګ په ۲۳ هـ کښې دَ (ظهور اسلام سره نزدې دَ حضرت عمرؓ زمانه کښې) په دې سیمه ګرځېدلو هغوې دَ سواستو نوم راوړېې دی۔ سواستو هم دغه سوات توې یعني دریائ سوات دی۔ چینې سېلانې فاهیان ورته سو هوتو SUHUTU لیکلې دې۔ فکر وکړئ سو هوتو هم سوات توې دی۔ فاهیان دَ خپلې ژبې مطابق لیکلې دې۔

فاهیان په ۳۹ هـ کښې راغلی وۀ۔

یوبل چینې سیاح "سوېنګ ېن" په ۵۱۸ء کښې دلته راپېښ وۀ۔ هغه زمونږ په اوسنی پښتونخواباندې دګولاس هفتلې دَ بادشاهی ذکرکوي۔ ګولا GULAS او دغه ګُل اَس دی ۔ ګول اس یقیناً "مهراګل" Mehragulla دی چې دَ توره بان زوې وۀ (توره بان نن سبا هم په یوسفزیو دمردان کښې دَ یولوئ تورزن دپاره وئیلې شي) مېرګل او توره بان دواړه دَ پښتوتورې اونومونه دې او دوې ابدالې قبیلې سره تعلق لرلو۔ دغه سپین هن White Huns یا Euphthalite یا هیاتله یاابدالې قبیله ده۔

سوېنګ ېن په خپله سفرنامه کښې دَ "اودېآنه" زمونږ دَ مردان "ادېنه" یاده کړې ده۔ دغه دَ اودیانه نوم دَ سکندریونانې په برغل کښې دَ دې سیمې دپاره راغلی دی۔ دَ هیونګ سانګ نه ۱۲۰ کلونه وړاندې دا سیمه دَ اېتالې قبیلې په لاس دَ بودائې نخښونه پاکه شوې وه۔ بیا وربېسې آباده شوه۔

ولې د هیونګ سانګ نه دېرش ځلو پښت کلونه وروستو اسلامي لښکرې دلته رارسېدلې وې.۔ ورسره بودائي نخښې اومذهب د پښتونخوانه ترتله رخصت شو۔ سالمه پښتونخوا کښې ئې هرځائ پرېمانه نخښې موندلې شي۔ شاباز ګړهه، تخت بهائي اوسوات کښې دغه نخښې ډېرې زیاتې دي د چیني سیلانیانو څخه معلومېږي چې په دې سیمه درې مذهبونه په یو وخت چلېدل۔ بودیان، هندوان او زرتشتي مجوسیان۔ چیني اولس او باچایان په بودائي دین ډېر مئین وو۔ هغوی ته پښتونخوا د خپل دین مرکز ښکارېدلو۔ مېنه ئې وه ورسره۔د چینیانو سیلانیانو نه یو دااندازه هم لګي چې دلته هغه زمانه کښې هم د مذهبي علمونو پراختیا، مذهبي رواداري، اود امن او ورورولۍ فضا وه چې د بهر ملکونو خلق هغه وخت هم دلته سېل له راتلل۔

توره بان اومهرګل زرتشتي مجوسیان وواوځکه د نورو په ضد وو۔ کله چې مونږ د "زړۀ" ټکی د غېرنه اورُو نو "زره" به ئې وایي۔ دغسې د "زړۀ تش" نوم په Zarthustra بدل شو۔د "زړۀ تش را" د یو زوې نوم اورتت نرا Urutatnara دی۔

تت نرا = تته رڼا ده د "زړۀ تش را" په کتاب اوستا کښې دوندېداد برخه کښې د "روه" وطن ذکر راغلی دی چې د اهورمزدا په حکم ئې جوړ کړې وۀ۔ اهور مزدا = اور + موژ + ده۔

هیون سانګ په (٦٢٩ ء نه تر ٦٤٣ء) کښې زمونږ

پښتونخواته راغلی وۀ او دغه دورِ فاروقي کښې احنف بن قیس په ۱۸
هـ کښې په خراسان په برغل لاس پورې کړې وۀ. حبیبي صیب په
جغرافیائي تاریخ افغانستان کښې دَ مغرب شوې بې شمېره
علاقونو مونه ورکړې دې لوستونکي ئې هلته کتلې شي.
کله چې مونږ ګنړو چې "اودیانه" سوات دی نو مونږ خامخا نو چې
پښتانۀ دغه وخت په دغه سیمو کښې مېشته وو. دَ پښتو ژبې توري
(لکه دَ دې کتاب څرګندېږي) په دې سیمه موجود وو او دا دلېل دی
چې دا وطن دَ پښتنو وۀ. مونږ دَ هېچرته نه راغلي نۀ یو. مونږ هم
دلته وو.

میانګل اورنګزیب وایي چې دَ یوسفزیونه وړاندې دلته
سواتي پُښتانۀ وسېدل چاچې به تورې جامې اغوستلې نو ځکه ورته
سُوادیان وئیلې شو. تاریخ مرصع کښې دخوشحال خان خټک په
سوات نامه کښې څو ځله "سُواد" ثبت شوې دی.

په رِګ وید کې د سوات سین په "سویتی" یاد دی. میګا
ستینز او تالمي ورته "سواتس" او "سواسترس" وائي. پانیني ورته
"سواستو" لیکي او هیون سانګ ورته "سو، پا، فا، سو، تو" وائي.

فاهیان ورته "سو هو تو" وائي. مهابهارت کې ورته
"بهشیمه" وائي. بهـ د اوبو ریښه ده او دا به "اویۀ بنۀ یمه" وي. د
بیشام په سبب هم کېدی شي بلکې بیشام هم دغه ژب شننه لري.

مونږ څو ځله دَ "توې" معنی "سین" وښودله لکه سوات

توی، جیندی، ګومتی او دَ پنجکوړه = پینځ خوړه بیان مو وکړو. دَ دیر دَ دغه ګاؤرې" په غاړه تېمرګره یو وړوکی ښار دی. تېمرګره مونږ "توې مل ګره" هم وئیلی شو. "توې ملګره" مطلب دَ مرستیال سیند (Tributary) لري.

★★★

Scandel = سکونډل = سکونډ

پوتې پوتې نقشه راکښل Scaning او Scan
سکښل =

★★★

سِدره Cidar :

سروه : سبره
سِدرَة المُنتهٰی (عربي)

★★★

سین:

اوقیانو = Seen=Seend=Obu-seend= Ocean داتورې ښاغلي حسین بخش کوثرغوریاخېل ډېر څېړلی دی. مونږ ورسره دَ اوقیانوس اضافه وکړه. دَ غوریاخېل کار دَ ډېر ارزښت وړ دی. هغه دَ پښتو ژبې ډېر لرغونتوب ته واضحه اشاره کوي. لیکې چې پښتنو په خپل وطن ترټولو لوئ سین یواباسین لېدلی وۀ. کله چې دَ هغوې

یوه ډله د دې ځایه لوېدېز پله لاړه نو د اوب سین نه اوسین = اوشن جوړ شو۔

cean = seend = seen

★★★

## سئې کؤل Sight , See:

ست : سده : سده مونږ په تفصېل وړاندې څېړلې ده۔

★★★

## سَمِّ الخَیاط:

خیاط ته د رب ښو وائي۔

پښتو کښې دګنډ دستنې سُورې ته سُوم یا سُم وایي۔ څوک ورته دستن سترګه وایي۔ دغه سُورې کښې تار ورتېر کړې اوبیاپرې ګنډون کېږي۔

اوستاکښې ورته سُوره وایي۔سوره هم په دغه ماناکښې ژوندی تکی دی۔سُوره اکثرکنج ته وایي چې بل اړخ ئې بند وې او طوالت لري۔سُوری اوسوراخ هم پښتو کښې شته۔کهٔ دواړه اړخونه ئې سپړدي وي نو هم سوره نومي۔




ستن ← ستونه ← سوئي ← سم ← Seive
(Avesta) (Hindi) (Arabic) (English)
سم (پښتو) ↑ ↓ Shuka
↓
سوره (پښتو) سونبه (سنسکرت)

سُونب = سُونبه هم سُوم لري۔ سُونبه دَ ستن نه لږه ډېره غټه وي او دَ غونډې ستن ورته هم وايي۔ سُونبه باندې دَ تماکو، ګوړې او نور غټې غونډې ګنډلې کېږي۔ سمسته = سمسه = سُمَت = خُمَخ په معنی دغارهم دَ سَمَ ريښه لري۔ اوستاکښې ستن ته stuna وايي۔

سُوم دَ اس يابل څناور نعل ته وايي۔ يعني دَ کپې هغه برخه چې نعل ورته لګېدې شي۔ يعني دَ دغه ځارو دَ پښو دَ نُوک برخه۔ نُوک تېرهٔ ته وايي۔

۔ نوې مياشت به دې په مخ ګورې وګړې
کهٔ په مخ باندې دې جوړ سُوم دسمندکړم

(خوشحال)

قرآن پاک راوړي دي۔

﴿حَتّٰی یَلِجَ الجَمَلُ فِی سَمِّ الخِیَاط﴾ (الاعراف:۴۰)

(تر دې چې ننوځي اوښ په سُوري دَ ستن کښې)

مطلب ئې دادی چې دَ ستنې په سُوم دَ اوښ ورتېرېدل ناممکنه دي نو دغسې دَ کافرانو بخښنه ناممکنه ده۔ هو بهو دغسې لفظونه په زوړ کتاب دَ عیسایانو کښې راغلي دي۔ وایي چې دا توري دَ دره وړ Dravidian نه پورشوي دي۔ ډېر په ځای متل دی "غلبېل کُوزې ته وایي، تا کښې څو سُوري دي"۔ مطلب مې دا دی چې "Seive" هم دَ "سم" سره خپلوي څرګندوي۔

سَبتُ:

سبته = سپسته = سفته = هفته = دَ خالي ورځ

اپته = اووۀ (ا + پ = اوو، ته = ه = د چوتې ورځ

= هغه ورځ چې دکارنه خالي وي

دخالي ورځ هم هغه ده چې قرآن پاک کښې په سبت یاده ده۔روبې بار۔۔۔ Sunday دَ اېتوار ورځ دَ اېت یا نمر ده۔دَ سپوږمۍ ورځ Monday سومبار، دَ ګُل ورځ چې دَ شپې نه به ئې دَ سُما دَ ګل لو کؤلو۔Tuesday منګل بار۔ نهې۔

Wedensday بدھ بار۔ دَ شورو ورځ ۔ دَ کوژدنو، ودونو ورځ۔

Thurday ۔ دَ زیارت ورځ۔ Friday جمعه ۔ دَ جرګې ورځ۔Saturday ۔ هفته ۔ دَ خالي یا سبت ورځ۔دسبت داتکی بې شمېره

څېړونکيو څېړلی دی۔ سپتاسيندو، ډ اوو دريابونو وطن چې آرياو
هندوستان کړو۔ لکه ډ ژبو ډ اړېدلو دستور دی، سيند نه هند جوړ شو۔

۱ : ﴿فَخلّوُ سَبِيلَهُم﴾
(نو خالي کړئ لار ډ دوې)

۲ : ﴿تِلكَ اُمَةٌ قَدخَلَ﴾
(دايوه ډله وه چې بې مثله تېره شوه، خالي شوه)

"خَلوَت" او "خَلاً" هم ډ بېل، ګبنې، ځانلره، ګوټ يعني دخالي ځائ په مناسبت معنیٰ لري۔

کښېنې په خِلوت کښې سُود ئې څۀ دی راته وايه
ولې پخپل ځان دا دومره ارت جهان تنګ کړې

(خوشحال)

مونږ دخالي په مناسبت خَاوِيَةٌ هم اخلو
وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُروشِهَا

صحيح بخاري کتاب التفسير کښې د"خاوي" معنیٰ ده "خالي" چرته چې ملګرې نۀ وې۔ ډ پښتو "خالي" او ډ عربی۔ "خل" يوه معنیٰ لري۔ کۀ شجره ليکونکی ډ سبت او خالي تاويل کوي نو عربي خو نبغ په نبغه "خالي" توري لري۔ خالي ته يقين هم وايي۔

ستوری :

۱ : ﴿وَالنَّجمِ اِذَا هَوٰى﴾

۲ : ﴿وَنَظَرَ نَظرَةً فِى النَّجُومِ﴾

۳ : ﴿وَ بِالنَّجمِ هُم یَهتَدُونَ﴾

دَ نجم ارتقا شاېد داسې وي Astrology ← Aster ← STAR (انګلش)

Astronauts ↓    ستوری (پښتو) ↑

اوستا star ستاره (پارسي)

تاره (هندي)

magiam په معنی د مجوسیان

magiam مېجیم

magam مېجم (په لنډېز)

mag (لنډېز)

مغ جمع مُغان:

عربۍ کښې ډېرو تکو سره داسې کېږي نُجِیّ، نُنَزِّلُ، نَعبُدُ، نُلقي، نُوَلّي دغسې دَ مغ او مغکم نه نمَجَم جوړ شو. دغسې عجم او نجم جوړ شو. ښکاره ده چې دَ زرتشت په حواله ستوری اونجم دواړه سوچه پښتو تکي دي. دغه دبا چاخان په وېنا پښتون وړومبی پېغمبر یادېږي. مولانا ابوالکلام آزاد دَ سورة کهف تفسیر کښې زرتشت پېغمبر ګڼي او ورسره علیه السلام او حضرت لیکي. داخبرې زمونږ دَ دربځ کلکوالی راولي.

★★★

عَسٰی (عربي) هسې (پښتو) ایسی، ایسا (Hindostani)
هسې نه چې Thus (انګرېزي)

عَسٰی اَن تَکرَهُوشَیا

ع: یو هسې ستوری وخوت په دا تېره زمانه

(خوشحال خان)

★★★

عصا:

امسا: دَ موسٰی علیه السلام امسا پښتو کښې په شان شان مشهوره ده. دَ کلک لرګي نه جوړه یوه آله چې زاړهٔ بوډاګان ئې دَ مدد او اسرې دَ پاره ګرځېدو کښې استعمالوي. دَ لوړوالي او بزرګۍ نخښه هم ده. بره سر ئې داسې کوندهٔ وي چې لاس پرې کلک وي. لاندې سُوکه ئې تېرهٔ وي چې په مزکه سمه نخښلې. نقش ونګار اوېترې پرې هم لګؤلې شي.

★★★

فُټ Foot

= پښه = پ ښه = پخه = Pksha

F=P او d=t




**Foot = Put**

= Peda لاطيني

= Foot Put (انګريزي)

= Paw = پُټ

= پا (پارسي) = پائ

= Pous

↓

پا

↓

پاؤ

(يوناني)

(فارسي)

(هندوستاني)

(English)

Paw

پښهPada ⟶ Pous ⟶ Peda

(پښتو) (يوناني (سنسکرت) (لاطيني)

Bipedدوه بولي بنيادم او Quardroped څلور بولي ځناورو ته وائي۔ رګ ويد کې د شعر مصرعو ته Pada وائي چې مانا ئې پښه ده ۔ پښتو کې پياده او پاده توري شته۔

"پاده بان"توري خوشحال خټک په يوه قصيده کې راوړی دی چې د خپلې سخر ګنی بيان کوی۔سفيهان وو پاده بان۔

= پټ

= پُ

= پا (پارسي) = پائے۔

پاؤں (هندی) (انګريزي) Paw په معنا د پنجې پښتو پا

پی۔ Foot يوه پيمانه ده چې د پښې هونبره وي۔ د فاصلې کچ کؤلو د پاره پښه پېمانه وګرځېده او دوارو ته يو ټکی ورکړې شو۔ لوښت او څنګل هم د پېمانې په ځای راځي۔ پښتانۀ تر ننه د زمکې کچ په ګامونو کوي۔ پائې اختتام ته وائي ځکه چې پښه د بدن تر ټولو لاندې حصه ده۔ پائين ښکته يا زېرين ته وائي۔

پايه: پايې درجې ته هم وائي۔ پايه اريکې ته وائي خواه کۀ يو وي هم۔ پايه اندر پايې ته وائي۔ يو شی چې ختل پرې کيږي۔

پايه: پهيّه هغه څۀ ته وائي چې مشين يا بل څۀ پرې ګرځي۔ ګرګاډې، پايې د څاروي پښو خصوصاً کپو کې دننه برخې ته وائي، داس د نعلونو ځائې هم کپی وي۔ کپی پخپله د پ برخه لري، کاپ يا کپی هم بللې شي۔ شايد calf (سپينې) هم ورسره تړون لري۔

فوج

پوځ

= په اوج

هٰذافرجُ مُقتحِمُ مَعَکُم

= په وړ، يعني په ښکاره ځرګنده، په سپينه،دَ اوج، وړ معنی وړاندې پوره څېړلې شوې ده۔

★★★

<u>فرج:</u>

دا دعربی يوتوری قرآن کښې څوځايه راځې۔ جمع ئې فروج ده۔

۱: ﴿مَالَهَامِن فُرُوج﴾

۲:۲ ﴿فُرُوجَهُنَ﴾

کهٔ مونږ ف په پ او ج په ګ بدل کړو نو پرګ او فرج یو لفظ دی۔ مختلف توري چې دیوې ژبې نه بلې ته راوړې، ځایونه زمانې هم واوړې نو مطلبونه ئې لږ څهٔ بدلون اختیارکړي۔ ولې دَ ماخذسره تړون ئې ببخي نهٔ شلېږي۔ دَ فا په پا بدلون پښتوکښې ډېر دی بلکې اصلاً پښتو فا نهٔ لري۔

فارس = پارس، فراز = پراز، فراخ = پراخ، فضل = پدل، فتح = پته، افغان = اپګان، جُناح = ګناه، زمهریر = ژمی، جسبش = ګوابش، ګېښ، مسجد = ماجېت، جُند = ګوند، جدون = ګدون، جلوه = Glow، جهلم = ګِل یم۔ کهٔ فرج دَ پرتوګ سره موازنه شي نو داسې به شي۔ پرتوګ ته پرداګ هم وایي (داوړ) او پرګې دَ پرداګ نه وتلې ښکاري۔ پرداګ = پرتوګ

Parthag ← Pardag

Th=D

پرتوګ

۔ نهٔ یو زر نجونه ښکلې ښې باکې

نهٔ یوه ښکلې د پاکې پرګې

(خوشحال)

پرګه کلمه پکتیا ځائي مېدان کې ژوندۍ ده۔ کورنۍ خاندان (دوست شینواري)

فَهَم:

پام : فَم عربی کښې خلې ته وايي

ګل فمه = ګلپامه

پام خيال اوفکرته وايي۔ د پښتو پوه، پوهنه، پوهه، پوی ددې ددې منبع ده۔

★★★

فَکُبۡکِبُوۡا فِيۡهَاهُم وَالغَاون : (نونسکوريه وغورزولې شي هغه ځائ کښې دوې ګمراهان)۔دَ اوبښ په شاپرسېدلې ځائ ته کوب وايي۔ دسخوندرکوب دَ څټ او دملاترمېنځه وې۔ کوب ته اوستاکښې Kaofa اوپارسی کښې کوهان وئې۔ حقېقت کښې کوب دملادتېر (Vertebral column) يوې زياتې خمدارې برخې ته وايي دملاتېر کښې خپل روغ Normal خمونه هم وې۔

پښتوکښې اصطلاحًا هغه سړې ته کوباوايي چې دملاتېر ئې کوږ وې۔ (Kyphosis) يعني لکه دڅاروې دَ کوب پشان ښکارې ۔ کوباسړی چې تلل کوي نوداسې ښکارې لکه نسکورتلل کوي۔ پښتوکښې بُوکه هم نسکور يااړولې ته وايي لکه دَ سجدې شان حالت ته بوکه پرېوتل وايي يا وايي بُوک شه۔ غاو په معنٰی دشور، انتشارګډول هم راځي۔ غاوُن چې داسې اووئيلې شي لکه غَنُوُنو په معنٰی دآواز خصوصًا دَ سپی د آواز راځي۔ څوک چې داسې خبرې کوي چې څوک پرې نهٔ پوهېږي اوهسې دَ مرې نه غون غړونه

اوباسې چې ورانې ترې جوړ شي هغې ته غاون وئیلې شي۔ غوغا= غوغا، الغاوتلغاویوشان تکي دي او دخوشحال په شعرونوکې دعربی په نزدې معنی راځي۔ کۀ خیال وشي نو Kypho هم دَ کوبه تول خاصیتونه لري۔ حال دا چې داتوری لاطیني دی۔ دَ اوستا Kaofa دپښتو کوب، دعربی کُبکِب او دلاطینی Kypho یوشان توري دي۔

فَكُبَّتُ وُجُوهُهُم فِي النّار (نونسکوربه شي مخونه دَ دوې په اور کښې۔ (النمل ۹۰)

کوب(pushtu) Kypho(Greek/Latin) Kohan(Persain

Kaophe (Avista)→Gup(Sonskirt) Kubkib(Arbic)

ځنې خلق کُپ هم کوب ګڼې لکه چندره ګپتا

= چندرګپ = دَ اشوک باچا پلار = سخوندرکوب

★★★

فَلَایُسرِف فِي الْقَتْل (بنې اسرائیل) (نو مۀ کوئ سرپه (ې) په وژلو)

۔ چې سرپه کاندي په سر

چې سرپه کاندي په زر

نۀ به خان نۀ سلطان شي

نۀ به خپل کاندي کشور

"سرپه پرې مۀ کو، داسې هم راځي سرپښه ئې مۀ کوره۔

مهلت مۀ ورکوه (خوشحال)

ابله پرې مۀ کړه۔ دلته مونږ دصرفه بل اصل "سرپه"

راونيولو چې ښهٔ موزون دی۔ "سرپه" يعنی سر پښه ئی مهٔ ګوره۔




★★★

(۱) ﴿فَنَسِيتَهَا وَكَذَالِكَ اَلْيَوم تنسىٰ﴾ (طٰه)

(۲) ﴿فَاِنِّي نُسِيتُ الحُوت﴾ (کهف ٦٤)

پښتو کښې نسيه په مطلب دپور ډېر راځی۔ يو توری چې دَ يوې ژبې نه بلې ته واوړي نو مطلب ئې څهٔ بدل شي شاېدنسيه دامعنی ولري چې لاس کښې دي نهٔ وې۔ يو شی دَ لاسه ورکول، هېرول وې۔

- نسيه جنت صبادې دَ زاهد دې دَ ملا دې
په لاس جنت نيولې نن خوشحال دې ستالِقا

(خوشحال)

- نن به ګلرنګه معشوقه ګورم
زماتوبه ده له نسيه سُوده

(خوشحال)

فِردَوس:

دَ انګرېزی ژبې Far هـم دپښتـو دَ پار، پاردې اوپردې سره نزدې معنی لري۔

دانـګـرېزی ژبې Paradise اوفـردوس دَ يـوتـکـې غړونه دې۔ دَ پښتو نخوا دَ خواوشا "پردېس" دَ فردوس ادلون بدلون دی۔

دښـاغـلـې حـسـېن بخش کوثرغورياخېل "ژبوپښـنه" کښې په پار، پاردې، اوپردې، اوپورې دې زړۀ پورې بحث شوی دی۔

مـونـږ دَ "پورې دې سې" څېړنه په هغه سيمه کۆلی شو چرته چې سپوره نۀ وې پورې وې۔

هندمونږ لره د پخوا نه دَ "پوره" "غوړه" يا "سالن" سره هېواد حېثيت لرلو۔

د يس پشان نور تکې داسې دې۔

(۱) ګردېس = غردېس = ګرديز (۲) باد غېس

(۳) ترمذ هُم تَرَم دېس دی (۴) تبرېز (ايران)

(۵) منديش

عـربی کښـې اوقرآن پاک کښې دَ فردوس تکی پښتـوسره ژور اړيکې لـري۔ بـنـيادمويوه ډېره پخوانی شرېکه ژبه لرله۔ پښتو دهغې شرېکې لرغونې ژبې ډېرې نخښې لري۔

جـلال الـديـن سـيـوطـې فـردوس مـعـرب ګـڼي۔ يعني دختېز دغاړې عـربی تـه وردنـنـه تـکـی ئې ګڼي۔ هغوې دپښتوسره بلد نۀ ووځـکـه ئې هرڅۀ دَ فارس په کهاته کښې واچول۔ ګرديز د هارون زمانه

کښې حمزه خارجی جوړ کړې وو چی کرلانی ي زيراثر وو يعقوب ليث غزنی جوړ کړو۔ غلزی پښتانه ورسره ولاړ وو۔




اُترپرديش او هماچل پرديش هم دغسې توری دی۔ بنګله ديش هم داسې دې۔

## فَشَارِبُونَ شُربَ اَلهِيم

نو څښونکې به وې پشان دڅښکلو داوښ ترې (الواقعه ۵۵)

پښتو کښې شاربل يو مصدرراځي۔ يقين دی چې شاربل ځان لره لرغونې پښتنې روايات لري۔

دوست شينواری ليکي چې په اېتمولوجک شننه دَ مُل کلمه پښتو ده۔ليکي چې دَ آريائي ژبو دال يواځې پښتو کښې په لام بدلېږي۔شوملې شاربل، شلوښې شاربل، ماسته شاربل، شودۀ شاربل، پئې شاربل، خبره شاربل۔شلومې په شړومبې هم بللې شي۔شنوښې اوبۀ، شنوښې هم ورته وايي۔ چرګه چې په تو کری کښې په اَکوبچو لره ناسته وې نوشاربل بللی شي۔غالبًا چې هيم توری دَ هُوماياسُوماسره ترون لري۔سنسکرت کښې سُوما، اوستاکښې هيوما اوپهلوی کښې هيوم يااوم دې۔

(۱) فَمَن شَرِبَ مِنهُ فَلَيسَ مِنَّا (البقرة)

اوسنی پښتو ژبه کښې اُوم یوژوندی تکی دی۔ لکه آوم پوخ دغه اوم دَ هوم په معنٰی د اپیمو دَ اُوم حالت دَ پاره راځي۔ اُوم دَ کچه مطلب لري۔ اُومه خلۀ۔

دَ اپرېدو اوسنی باړه کښې دَ اُوم تکي ډېر اوربدی شي۔

- پښتنو سره زړۀ تور دی دَ مغلو
  خبردار یم دهر چا په مشربونو

(خوشحال)

- چې اوګره دَ بتیوشته په شلونبو سپینه
  دَ مغلو پولاو پاتې ډېر پر ډک یم

(خوشحال)

★★★

## فالمُوریٰتِ:

**فَالمُورِیٰتِ قَدحًا** (سورۀ عادیات) "قسم دی په وېستونکوداورپه وهلو دَ نوکونو سره"

دې آیت کښې دَ اور ربنه دَ سیاق وسباق سره ډېره څرګنده ده۔

دَ تنور لاندې برخه کښې یوه سوړه وي چې "موری" ورته وایي "موری" باندې اورکمېږي زیاتېږي۔ مورېت ډېر په ښکاره دَ اورڅخه اخستلې شوې دې او اور سو چه پښتو توری دی۔

★★★

**اَفَرَاَیتُمُ النَّارَالَّتِی تُورُون** (سورة واقعه)

ژبارنه : ای تالېدلی دی اور چې کله اورېږي۔ (اورېږي په ځائ دمصدر) دَ تورُون معنی صحيح بخارې "اور راښتل" ليکلي ده دَ اُوريت معنی "ماترې اور راوېښتلو" (صحيح بُخارې کتاب التفسير ۱۲۴۲)

فکر لرم چې زمونږ د پښتو ريښه پکښې څۀ شک نۀ لري۔

★★★

## قَومًا بُورَا:

وَكُنتُم قَومًابُورًا (القرآن)

(اوتاسو تباه شوې قام ئې) بُور دَ اونو بوټو ګل نيولو ته هم وايي بور مېده څېز ته وايي۔ دَ ګورې بوجۍ کښې لاندې بُور پاتې شي

بُوره : مور دربانديې بوره شه۔ چې د چاښځې بچی مړشي وايي مور ئې بوره شوه۔ بوره توری دَ بنيادم اوڅاروې دوارو دپاره شي۔ لکه وايي ګوجر له بوره ښه ده۔ دځوې مرګ دَ مور دپاره تباهي وي۔

چې بادشاهانو ته واخلي توري
دَ دوي خبرې شي په ملک مشهورې
که بيا اتبارکه په بادشاهانو
په ځان به خپله مياندې که بُورې

(خوشحال)

مور دې نۀ شي باندې بُوره
چې مړونه دَ کار زار دي

(خوشحال)

دارالبوار (ابراهيم ۱۸):

د تباهۍ کور ته وايي

ډاکټرنجيبُ الله چې په بېدردۍ سره پاکستاني پوځې جرنېلانو په فريب شهيد کړونو بُوره مورئي پښتورکښې بې اسرې بې کوره ژړېدله۔ دلته دَ سرِيتوب، دَاِسلام، دَ وطن، دَ پښتو هر اړخ او اقدار دَ پنجابې پوځ دَ پښتون دښمنۍ څرګندولو دپاره په اباسين لاهوکړې شو۔ دَ پنجابې بدمذهبه سره څۀ پښتانۀ هم په پېسو ملګرې شوې وو۔ يوائې هغوې دا کارنۀ شو کؤلی۔

وايي چې هم په دغه ورځ اسلم بېګ سره دحمېدګل دکابل په لار لېدلې شوې وو۔ داهم خلق وايي چې افراسياب ختټک دغه وخت دَ نجيبُ الله دځوړندولو ځائ سره نزدې په تماشه لېدلى شوى وۀ۔

- په بل غشي توپک هېڅ وېشتلى نۀ يم
کۀ وېشتلى يم خوبياپه خپل توپک يم

(خوشحال)

★★★

قصد:

وَعَلَي اللهِ قصدُالسَبِيل

کست = اراده = نيت = خامخا = په ضد = بې سببه

- ماپه ورېيوسترګوډېرياران خوړلې
په څېرڅېر دې مخ ته نۀ ګورم دَ کسته

(خوشحال)

د = ت بدلون مونږ په زوتول، زیاده، ایدکښې کتلې دې۔

★★★

## قعر:

دپښتـو دَ دې ټـکي شجرنسب دلچسپ دی۔قعریوې کندې ته وایي، قَعرِمُذَلت، قَعرِگمنامې۔ مونږ ئې دبدلون اصول ته وړاندې کوو ق = خ ق + ع = خ + و، ق او ع دواړه زمـونـږ پـورلـی نخښـې دي۔ خپلواک دی او پرېوزي۔ر = ړ نو قعر = خوړ

۱ : لـوانـدۀ خـوړ هـم دغـه ریښـه لري۔ لوندۀ قعر۔ لوندخوړ کښې واقعې دغسې کندې ډېرې دې۔

۲ : پـنـج قـعـره = پېنـځ خـوړه دا دَ ډېرمشـهـور دریاب دی چـې پنجکوړه نومېږي۔ دَ کال ۲۰۱۰ء / ۱۴۳۱ ھ دَ شعبان رمضان سېلاب عظیم کښې ئې ډېره برخه لرله۔ مهابهارت په "گاورې" یاد کړی دی۔

۳ : بـد کـوړ = بـد قـعـر دَ امازئې په سیمه یوخوړ دی چې دَ آدېنه "اودیـانـه" سـره راتېـرشـوی دی۔ سـکـنـدر رومـې پـه اودیانه هم تباهې راوستې وه۔ نـن سبا بـد کـوړ دَ یـوسـفـزیـو دَ درنو درنو مېرو یوه برخـه ده۔لـکـه چـې ښـنـگه ودیانه ډېره ستائیلې شي، دلته حالت هغسې نۀ دی۔د کـمال خبره ده چې اولس دغـه کندې ته "دارا" وایي۔کلکه وېنا ده چې دارا شاه ایران سره ئې نسبت دی۔

۴ : سبحان خوړ : مومندو کښې دغسې خوړ دی۔

خوړونه پښتونخواکښې ډېر دې اولکه پورته شنل ئې اسان دې۔خوړ د

رود معنـې هم لـري. مهابهارت کښې ګاورې = ګورې = خوړه هم پنجکوړه ده. کۀ ګاوړې = ګوړ یا خوړ د سنسکرت نه راروان وګڼو او قعر د اکادې عربی نه نو د دې تورې تړون سو میریانو ته رسیږی. نورو ټکو کښې د دې تورې عمر لس زره کلونو ته رسی.

★★★

## قَتل، قَتَل :

Kill دَ تَ دَ حذف کېدوسره کَتَل ل دَ مصدر نخښه ده.




کوتر: Coedere:خیرل Coe = k; d = t

قَت = کَت = ښت cut ښتې ښتې = تېوتې تېوتې دفارسی.
کشتن مصدرپښتو کښې کشتل شو چې ش ترې حذف شو نو کتل او کَتَل شو. ک = ق چې عربی تـه لاړو نوقتل شو. دَ کتل نـه Kill په

اسانه وځي- کوتل د حلالول پرېکؤل په معنې قاموسونو اخستی-
زخمی کؤل معنې هم لری- دوست شینواری هم دغسې لیکی-
Coedere یونانی توری دې

★★★

## قباله:

کېباله : یو اخلاقي دستاوېز (Oxford)

پښتو کښې ورته هم کېباله وايي- کېواله یا کښېوالا (ښکېواله) یو لیکلې شي ته وايي- "وکښه اوباېزېده"، کښل زړه پښتو کښې لیکلوته وايي اوس هم ځائ په ځائ استعمالېږي نو قباله توری اصل کښې "کېښواله" دی-

خوشحال د کښل توری ډېر راوړی-

اشرف خان دی راته کښلی
زهٔ خو خوښ په خط د دهٔ یم

(خوشحال)

★★★

صدف (فارسی): سیپۍ (پښتو)
Sepia (انګرېزی) Cuttlefish (یونانی)

★★★

## قُرٰی:

کلی : قلعه : قُرَی مُحَصَنَةِ

۱: ﴿لِتُنذِرَ أُمَّ القُرٰی وَمَن حَولَهَا﴾

۲: ﴿هٰذِهِ القَريَةِ : قريه :﴾

ښاريه

ـ ماوې کـلـی مېشت دی چې په کلي باندې راغلم
درسـت وطن وېران وو خالي مېنه وه اوجاړه

(خوشـحال)

قُرا = قُری قلعه کلے Castle کوټه Cella

کور عربي فارسی پښتو انګریزی (لاطینی)

(Pushtu) کوټ Chateau (Latin) = Castle

Chastel = تر ځۀ وختـه داسې لیکلی شو۔ C = K

مـونږ کۀ ښار تېکی ق ته اړول وغواړو نو قُر او قُرې ترې په اسانه جـوړېږي۔دغـسې پېښـور = ښې قـرئ پـه مـعـنـی د لوی کلي راځي۔ نـوښار دغـسې نوقرې دې یعني ښ = ق ۔کوټه او کوټ دا ښائی چی دا تـوري دره وړنـه دي۔ دا هـم ښائی چی خلک د کوچیتوب نه دېشینی ته راغلل۔

★★★

قـندېل : Candal : انـګلش،ق = kh ، sh دَ = ت (لـکه برق = بـرېښ، قعر= خوړ)،نو ښنتېل ترې جوړ شو ، Shanteel دَ ښنتېل نه ل حذف شو نو Shante یـعنـي شونتې ترې جوړه شوه Candal(Latin)

دَ رنایوه پېمانه هم ده۔ شونتې یاموم باتی، ته هم وایي۔

تاسووکتل چې دپښتو شونتې په کوم ډول انګرېزی او عربی ته ورسېده۔ د کوند اوکوندنا معنی هم دغسې دي۔ بجلۍ کوندي۔ دغه هندوستانی ژبه ده۔

★★★

قِرَأت :

١: ﴿فَقَراهُ عَلَیهِم مَاکَانُو بِهِ مُؤمِنین﴾ (الشعرا ۱۹۹)

﴿فَاِذَا قَرَأتَ القُرآنَ فَاستَعِذُ بِااللّٰه﴾ (النحل ۹۸)

داتېکی په ښکاره پښتوسره تړون لري۔ پښتونخواکښې پراکرت اوسنسکرت ژبویوه زمانه تېره کړېْ ده دغه ژبو دکرت لاحقه دَ عربی قِرأت سره نزدېوالې څرګندوي۔ دَ کرت په ځائ پښتوکښې کرتې اوس هم شته چې دَ خبرومعنی ښندي۔ کَرَت دَ بیا بیا وئیلو معنی لري۔ داسې ښکارې چې پرا اوسنس دَ پردې اوخپل معنی لري۔ (سان دَ لور، رمبې دَ تېرولو یوه آله ده)

★★★

قبیله:

(خپله) والمَلٰئِکَةُ قَبِیلَه (بني اسرائیل ۹۲) ق = kh ، sh نو خبېله ترې جوړه شوه۔ب + ي = پ نو خپله ترې جوړه شوه۔دقبائل غړیه خپائل = خپېل = خپل شي۔

★★★

**Reap**

لو کؤل،رېبل (ل پکښې دَ مصدر نخښه ده)ب = P

للون = Raud (او ستا، تاجکي)

جارو کؤل =روفتن (فارسي)

لو کؤل = Raud( یعنوبي)

رېبل= Raudal (پښتو)

شوتل رېبل، ګیا رودل توپیر نه لري۔

★★★

رَسُول:

رَسُول۔ رساول، رسېدل : عربي کښې اصطلاحًا پیغمبرٓ استاذي، رېبار۔

**مَایأتِیهِم مِن رَسُول (الحجر ۱۱)**

رسا : شیش، بې خطا، رسول تکی قرآن پاک کښې ډېر راځي۔

**(۱) وَمَا اَرسَلنَامِن رَسُول الاّ بِلِسَانِ قَومِهٖ**

۔ زمادوه سترګې ولاړې ته څلورشوې
کۀ ښکاره دیاردلورې خداې رسول کا

(خوشحال)

۔ څارترتارسوله تامې یارلېدوېه سترګو
راشه راشه چې دې دواړه کسې چومم

(خوشحال)

## راد:

په معنی د مېړنې پیاوړه

قوت = Arat (اوستا)

جګړن= Rat (زړه سلاویانی)

جنګیالې = Ratis (سنسکرت)

راد اینډو اروپائي ریښه لري۔

- خواست دُعا په اسانۍ کله قبلېږي
دَ تقوٰی په کار څو راد نهٔ شي سړی

(خوشحال)

روژه: رمضان

﴿شَهرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ اُنزِلَ فِیهِ القُرآن﴾ (البقره)

روژه غږ رمضان سره نزدې دې۔ که د رَمضان 'م' په 'و' او ض په 'ژ' واړی نو روژه به شي۔ روژه مونږ د "ژا" په حواله هم څیړلی ده۔ پارسی وان ورته روزه وائی هندوستانی هم ورته روزه وائی۔ هندی کښې "بهرتا" وائی۔ پښتو نړیوال په آریه کښی ګڼی او عربی په سامی کښی۔ د روژه او رمضان نزدیوالی د اسلام د څرګندیدو نه مخکښی ښکاری۔ د اسلام نه وړاندې که د پښتو عربی خپلوی کیدی شی نو د سومیریا اکادی زرغون شاه (King Sargon) نه علاوه ایکی یو ځای کښی کیدې شی دغه ځای د بنیادمو د وړومبی ژبی ټاټوبې یعنی پښتونخواه ده۔

که د "بهرتا" نه بهـ پریوزی نو "رتا" پاتی کیږی چی په اسانه تری روژه جوړیږی۔

روژه ← رمضان ← روزه ← بهرتا (رتا)

د ژبو ویش په یو کلک سوچه پو هنیز بنسټ پکار دی۔ آریائی او سامی نسلی بوی لری۔ پو هنه د نسلونو تابع نه وی۔ تول خلک وائی چې پښتو آریائی ژبه ده او عربی سامی ده۔ زمونږ دا لیک عربی سره د پښتو دومره تړون څرګندوی لکه څومره چه سنسکرت او ستا او انګریزی ژبې سره ې ښکاره کوی۔ داسې بریښی لکه دغه ژبې د پښتو نه وتی وی دا نه چې پښتو د هغوی یو یا بل تبر کښی ده۔ دا زما ذاتی اخذ (derivation) نه دې۔ د لوستونکو وړاندې پروت سپړ دی کتاب دی۔ که څوک وائی چې مزکنی حقیقتونه دغسی دی نو زه وائم چې یو څه هم د پو هنې نه بهر کیدی نه شی۔

۔ ما قرآن منلی چی نازل دی له آسمانه
نور و ته بخښلی چې خبری یونانی ده

(خوشحال)

★★★★

## شَتّٰی :

وَقُلُوبُهُم شَتّٰی (الحشر ۱۴)

"اوزړونه دَ دوې تاربه تاردې"

۔ مکر زړهٔ ئې دَ هاتهې دی چې زغمې ئې
داشېتی چې دخوشحال په زړهٔ شولکه

(خوشحال)

دخوشحال دَ شعرنه څرګنديږي لکه شيتې څۀ خطرناکه لکه دَ غشي څـۀ شی دی۔ شتی۔ نن سبادجوارو وږي نه دَ لري شوو دانونه وروستوپاتې برخې تـه وايي چې دخشاک پـه ځائ استعمالېږي۔ مېښواوغواګانويو خوراک هم دی نور څاروي ئې هم خوري۔

★★★

شَفَتَين:

(الشمس۹) شفتٌ = Shafath

شود (th=d) Shawad

شوند (n=extra) Shawand

شونډې (final step) Shonde

دپښتوژبې شخوند هم دغسې نږدې نږدې مطلب ورکوي۔
داسې ښکارې چې خلو کښې و په ب بدل شي يعني ښه لب لپه : لب Lip = دعربی۔ دَ بَد، بَت، هت او لاس څېرنه وړاندې شوې ده۔
Cheilo يونانی کښی خلې ته وائی۔

★★★

شَمس:

اِذَالشَمسُ کُوِّرت (القرآن)

دعربی شمس دَ شموس نه وتې دی، شمود شمعې نه وتې دی۔ شمه لکه دسراج معنٰی لري۔داخبره چې شمع پښتو ده، مونږ دشونتی۔ تېکی وړاندې کوو۔ داکښې تې تصغير دی او اصل تکی

شون یا شوښنې دی۔ شوئښن او شعاع یو شی دی۔ دَ شونتی غړ په شومئې هم کېږي۔ شومئي نه شمس جوړ شو۔شومه دم یوه محاوره ده۔ دَ شونښئې بل شکل شواڼ دشعاپشان دی۔شونتی یا شونې ته لیت اولیتکې هم وایي لیت دَ انګلیسې light سره نژدې دی لیت نه دیت، دیا، ډیوټ، ډیوه اوځې۔ قرآن پاک کښې "شُوَاظٌ" راغلي دی۔
شُواڼ دَ انګلیسې shown او shine سره نژدې والې لري۔
سُورج=سور+آج=سُور آک=سُور اور
سورج هور+آک:د دې وروستی حصه هندته لاړه هلته ترې آګن، اګنې جوړ شو۔اورمخې : سُورمخې : سُورسپین

★★★

## تَعَیُن:

= تښن : تاکلی

- په رضائې خپل خاطرورکړو و یارته
په خوشحال محصِل نهٔ وود چاتښن

(خوشحال)

- چې تعښنه دَ اهارکرمه سبلی شي په چمن کښې
ګلونه د لاله لکه بادشاه پرېوزي له تخته

(خوشحال)

په چاڅهٔ ورتښن کوُل محاوره ده۔ تښن کوُل به غالبًادرې ګواهانو سره اثبات کلکوُلونه وتې وې لکه مونږ وایو درېم ځل حق : دَ

خداې حق۔

★★★

## تُمنٰی :

(۱) مِن نُطفَةٍفَاِذَا تُمنٰی (الواقعه)

چې په درست تومن اوخاره
نن هغه ده زمایاره

(خوشحال)

تومن : تبر: قبیله۔ قام، ډېرې، طائفه، عشیره،علاقه، مېنه، سیمه، بوزغلې۔

(۲) اَفَرَأیتُم مَّاتُمنُون (الواقعه)




تومنه دَ yeast وهلې هغه کوټ ته وايي چې هغې سره پئې مستوکېږې بدلېږي۔ ذخېره هم بللې شي۔ تروه، مائع هم ورته وايي۔

تومان یوه سېکه هم ده۔ اوستاکښې ورته تومان Taoximan وايي لرغونې پارسې ورته Toama وايي، تخم، تومه اوتومنه ته اوستاکښې توښمان وايي۔ داتورې اوستا هم دَ پښتونه اخستی دی او داوستانه دپارسی۔ په لار عربی ته لاړو۔

۔ کهٔ دَ کلي، دَ اولس، دَ تومن بزرګ وې
ومېلمه وته ئې کړمکرر چرګ وې

(خوشحال)

زرتشت ې سپین تُمان یا سپیتما بالهٔ: داسې سړی چې جوهر ئې سپین سپېځلی وو۔ تومنې ته خمبیره هم وائي۔

۔ په درست کلي کې مې یار دی هغه کس
چې په درست تومن او خار دی هغه کس

(خوشحال)

﴿وَشَروهُ بِثَمَنٍ بَخسٍ دَرَاهِمَ﴾ (سورة یوسف)

ثُمن = Thaman ث =th لکه ثاقب، حرث، ثاني، ابن هیثم مونږ کړي دي۔ دغهThaman = تومن، تومن د قیمت نرخ معنی داسې ورکوي لکه مونږه بره وکښل۔

★★★

## تَنُور:

تنور دپښتو توری دی۔ تنارهٔ هم وئیلې شي۔ جوالیقي اوثعلبې وايي چې دامعرّب شوی دی۔ جلال الدین سیوطې ئې هم معرّب ګڼي

تنور دتن + اور مرکب توری دی، تن اور : دَ اورتنه

- پـخپـل آه مـې بـاورشتـه اثـریـه وکـا
رقیبـان بـه ورلـړونـې دَ تـنـورکـړم

(خوشحال)

وَفَارَ التَنَورُ (القرآن)

هندوستان کې ئې تندور بولي۔

★★★

## تَعدِی:

تادي : بېره، جلتیا، زر، زیاتې، زور، ظلم

۱: ﴿وَلاَتَعد،وفِی السَّبتِ﴾

په خالي کښې زیاتي مهٔ کوئ

۲: ﴿وَلاَتَعَاوَنُوعَلَی الاِثمِ وَالعُدوان﴾

په گناه اوزیاتې کښې مددمهٔ کوئ

۳: ﴿وَمَن یَتَعَدحُدُودَاللّٰه﴾

چاچې مات کړهٔ بربدونه دَ الله

★★★

## تابیا

تـا بیـا دیو پیبنې څهٔ بند بنا ترل۔ فکر او تدبیر، مخنیوي سره نزدې معنیٰ لري۔ ممکنه ده تابع ریښه لري۔ معنیٰ ئې ده ورپسې۔

★★★

**تباه:تَبّ:**

۱: ﴿تَبت يَدَا اَبِی لَهَبِ وَتَبّ﴾

تبا سُو چه پښتو ټکی دی۔تبئ تبځې ته وايي چې په نغرې پروت وي، تېغنه ورته هم وايي۔

★★★

**تورهَ Taura:**

کامل صيب ليکي چې "توره په تُرکې کښې قاعدې او رسم ته وايي۔ حکمِ سلطاني۔ پښتو کښې هم تورهَ دَ ځنې خاصو رسمونو نوم دی"۔

پارسی او هندی کښې"طور" شته چې طريقه معنی لري لکه بطور تحفه، بطورِ مثال،بطورِ تبرک وغيره۔

تورات دَ عبرانی ډېرمشهور کتاب دی چې مطلب ئې شريعت يا قاعده ده۔ شريعتِ موسوي ته تورات وئيلې شي۔

دَ قرآن پاک مطابق په موسٰې عليه السلام نازل شوې کتاب ته تورات وايي۔

(۱) ﴿فَأْتُوبِاالتَورَاةِ اِن کُنتُم صٰدِقِين﴾

(۲) ﴿مِن قَبلِ اَن تُنزَلَ التَورَاة﴾ (آل عمران:۹۳)

پښتو کښې توره هغه ښځه نو مېږي چې قانون پرې نافِذ شي۔ لکه وايي فلانی دَ فلاني سره توره شوه۔ هسې هم چې په چاالزام اولګې نو وايي تور پرې ورېورې شو۔

﴿وَكَيفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَوراة ط فِيهَاحُكم اللّٰه﴾

(مائده: ۴۳)

توره هسې هم يو ليکلې شي ته وايي۔ ګوته ئې توره کړه۔ پټې ئې خرڅ کړو۔ دَ انګرېزۍ Black and white کښې دغه معنی پټه ده۔

- چې خورول، ګټل، بخښل کړه څوان هغه
چې توره لري دَ تورې خان هغه

(خوشحال)

- نورپښتانهٔ ډېر دې خويوزهٔ پکښې توره يم
واخلم، ورکړم، بندکړم، پرېږدم، ووژنم تردمه

(خوشحال)

داسې ښکارې لکه دخوشحال تروخته داټکې عام وو۔ نن صبانشته۔توره پېسې ياسېکې ته هم وايي چې ډېره کم ارزه وې۔

- منت دچامهٔ ورهٔ دَ يوې تورې
شونډې کښې مهٔ ږده په غورې سپورې

- کله کله پکښې هسې ارزانې شي
چې په دوه توره دَ سلو مهمانې شي

- داکبر بادشاه په دور
شو دخپل اولس تورخان

دَ تورخان مطلب دَ دستور آئېن نافذونکې دی۔ تور خان،

سپين خان، کپوت خان نومونه پښتنو کښې ډېر دي۔ تورخان د دوست شينواري مطابق ممتازته وايي او هغه هم چې کلنګ ماليه ورته معاف وي۔ توريتې يا ترويتې دعلمِ نجوم ماهرته وايي۔ کله چې مجوسيان دَ تورات موسٰی نه خبر شو نو هغوي دَ تورات نه توريتې ياترويتې جوړ کړو۔




تاريخ کښې دَ توره بان يا توره من، مهر ګل او سلم تور نومونه راځي۔ توره مان اومهرګل دَ هغه قام شخه دي چې په سپينو هونانو white huns ياد دي۔ دا پښتانهٔ وو بل څوک نهٔ وو۔ معلومېږي چې دا دَ اپتاليانو يا ابداليانو معلومه قبيله ده۔ دوي دَ بده مذهب مخالف وو او دهندو مذهب هم مخالف وو۔ دپښتوژبې الفبات ته هم توري وايي۔ خوشحال خان خټک دَ يونه زياتو شعرونو کښې دسلم تور حواله ورکوي۔

- لاهم هغه دي چې په کښې ورکې
هونبره لښکري دسلم تور دې
- سلم تور غوندي فلک هسې پرې نښول
ډېر نا اهله د کردار د لاسه خوار وو

کامل صېب لیکي چې سلم تور دایران دبا چافرېدون د دووځامنونامې دې زمابه خیال سلم په سلوکښې چونې او تورې د قبیلې نوم دی۔ دَ تور دَ ټکې نه برېښې چې دا ئې قبائیلي نوم وۀ او دَ تورو هونانو Black huns سره ئې تعلق وۀ۔

تورې په اوسنو پښتنو کښې یوه درنه قبیله ده چې شیعه مذهب لري۔ طوری هم لکه د بنګښو د روښانی خوزون مرستیال وو۔ پښتنو کښې تورترین اوسپین ترین هم څرګندې قبیلې دې۔ دتوراوسپین دټکونه علاوه پخپله ترین دَ تورې سره غږي موزونیت لري۔

تاریخ طبري کښې دَ اپتالیانو(ابدالیانو) یوه پېښه راغلې ده چې دوې دَ "اورسې" غونډۍ نه ښکته بُون وکړو۔ دَ دغه قبیلې مشر اخشنوار وۀ چې دَ هغه یو زوې تورمان یادېږي۔ Turmana دغه تورمن، تورمانه یاتورمېنه هندي تاریخ کښې دَ تورابان په نوم یادېږي۔ توراباب کښې دَ "تورې" ریښه موجوده ده۔ دۀ په هند قبضه وکړه۔ دَ دۀ زوې مهرګل، مهرګله یامهراکله په کشمیر قبضه وکړه۔ دوې دَ اور ستائیوال وو۔ داپېښې دَ ۵۰۰ میلادي خواوشا دې۔ دَ کُشان او

تــــوره مـانـه سـیـکـې اوخـزانـې ترننه پرېمانه موندلې کېږي۔ کوشان غـلزیان وو۔اېټالیـان هیـون سانګـ هم یادکړې دې۔ یعني په دې سیمه د ورود اسـلام سـره نـزدې وخـت وۀ۔ تـورهـن، سپـین هن لکه دَ تورترین، سپـیـن تـریـن په غلزئي اودراني منطبق کېږي۔په هرحال هنان پښتانۀ وو۔ هنانوپه اروپاهم برغـل کړی وۀ۔

ابـدالـي یـادرانـي یـوه داسـې قبیله ده چې داسلام نه وړاندې او داسـلام نـه وروسـتـودواړو وختـونو کښې ئې په ګاونډې ملکونوتسلط مـونـدلـی وۀ۔ پښـتـونـخوا کښې به داسې کلې ډېرکم وې چرته چې یو دوه درانـې خـاـان نۀ وې۔ هندوستان کښې ئې هم نسلې اولاد ډېر دی۔ په افغانسـتـان ئې تراوسه بالادستې قائمه ده۔

- چــارې د دهــر پـــه خپــل دستــور دي
لـکــه پــه تـورو پــه سپـیـن مـسـطـور دي

دوئـمـې مـصـرعـې تورو پـه سپین تـه Black & Whiteوائي ورسـره دستـور راوړل زمـونـږ مـرسته کوي۔ د هندوستان د آخري راجا نـوم پـه کتـابـونـو کـې "پـرتهوي راج" راځي۔ ددوي نوم غږ کله داسې کېږي لکه "پ" زوَر لري۔ کله د "ر" لاندې زېر وي۔ خوشحال بابا ئې داسې یادوي۔

- چـې دهـلـي ئـې رانـیـوۀ لـه پتـورایـه
پـه دا کـار کې ئې ډېر کـړی مشـقـت وو
- چـې ئـې سـر د پتـورا پـرې کـړو لـه تنـه

شپږ سوه دولس کاله کم سن د هجرت وۀ

په شعرونو کې "را" د راجا لنډیز دی او نوم ئې پتورا دی. دا په "توره" دی. یعني په آئین، په قانون، په دستور، په شریعت یا جائز او مستحق پاچا. باچایان دغسې نومونه په ځان ږدي. د هغه سر لښکر کانړې راو نومیږي. راو هم د راجا، راې په ځائ دی. کانړي یا کنړې هغسې معنی لري لکه مونږ دې کتاب کې د ملاکنړ سره لیکلي دي. د کنړي مطلب یو بهادر، تورزن، تللی راځي. په کنړه، په تله (میزان) ته وائي. اوریدلي مې دي چې دغه جنګ کې له هر اړخه سپایانو یو بل مقابلې لره په پښتو ژبه بلل. ډېر امکان دی چې دغه باچا د هنړ د جیپال او انند پال نسل کې وي. دواړه خوا وشا دوه سوه کلونه تر منځه لري. پنډت نهرو پخپل کتاب کې پرتهوي راج خپل اتل یا هیرو ګڼي. راې= راجا، ی، =ج. ګورنر کبرو ورته Rai Pithora نوم لیکي. Prithviد مزکې معنی لري. وطن، مادرِ وطن Prithvi : Mother earth. د پرتهوي راج معنی شوه شاهِ عالم. مونږ چې د توره کومه شننه کوو ورسره سمه ده.

دجیپال نمسي او دننګ پال زوي "تروجن پال" بنۀ په څرګنده "تورزن پال" دی.

توان او زور ،مې واړۀ تۀ ئې
بې تا نۀ پیرم په توره

(خوشحال)

پېرو پلور معنىٰ د اخستلو او خرڅولو لري۔ نۀ پېرم= نۀ اخلم، توره يو کم قيمته سپکه پېسه يا سيکه۔ زما تول همت او قدر ستا په سبب دى چې تۀ راسره نۀ يې نو باقي پاتې ځان په يوه پېسه هم نۀ اخلم۔ زۀ کۀ ګران يم نو ستا د مخه ګنه د يو د مړي هم نۀ يم۔

د توره دومره څېړنې سره کۀ مونږ د طورو کلى او د تورو غر ياد نۀ کړو نو کمي به وي۔ طورو معيار دوه بيل بيل کلي د مردان نه په نيم ساعت پياده مزل پراتۀ دي۔ د پوهنې د يو مرکز په حېث طورو ته وړه بخارا وائي۔

دا د يوسف مندنړ په خاوره تر ټولو ژور ځائي دى د سيکانو باچا ګردى کې طورو د يوسفزو څۀ عارضي مرکز وۀ۔ هر کله چې سيکان او د بريلى شېخان دواړه د فېرنګي آلۀ کار وو۔ لکه د شاه ايران دربار کې انګرېز سفير د شاه زمان سدوزئى د مخ نيوي يا شاګوذار لره ناست وۀ۔ د فېرنګي راتللو سره د طورو سرداري هوتي ته لاړله۔ دواړو په پښتون اولس بې حده ظلمونه کړي دي۔ طورو معيار د کلپانى په غاړه پراتۀ دي۔ د خوشحاليانو سره ژور تړون لري۔ دا خلک د باچا خان مرستيال وو۔ تورو غر د خوشحال د ښکار سره نوم ګټلى دى۔ ددې غر لمن کې د خوشحال خلى دى۔

- تور غرئې د هوډي دى تر تيراه پورې سم تللى
نيلاب او لنډي دواړو عجب سر يښى په پاې

د کابل شاهانو په وروستنيو باچايانو کې يو "لړه تورمن "

یادېږي۔ پښتو کې به دا راجا تورمن وي۔ د وزیر اعظم نوم ئې قلار وۀ۔ هغهٔ د خپل بادار نه واک و تروړلو او پخپله بادشاه شو۔ دا پېښه د ۸۷۰ء نه وروستو وه او دوي هندي ته راغلي وو۔ د قلار اولاد کې کمالو او جېپال راځي۔ دا مهمه ده چې "دستار نامه" کې یعقوب لېث ډېر ښهٔ ستائیلی شوی دی۔ "لړه تورمن" زمونږ د توره سره تړلی دی۔ دوي پښتو ژبه وئیله۔ او د نسله پښتانهٔ وو۔ مونږ د توران او توراني توري هم داسې خپرلي شو۔ توراني، ترکو پخپله د ترکي غږ (تورکي) هم دغه شان دي۔ ترکان عثمانیه هم دغه دي۔

توري خېل د اتمانزئي وزیرو یوه څانګه ده۔ توره د شمشېر معنی په هر حال لري۔ تورنګ زئي یا تورمزي د اشنغر یو غټ کلی دی۔ توروسک یو کلی بونېر کې د کړاکړ نه ښکته پروت دی۔ توروسک وزیرستان کې یو کلی دی۔ "توریزونه" د طوري قبیلې دستور ته وائي۔

★★★

## تَلّ:

داپښتوژبې سُوچه اوښځې خپل تکی دی۔ ډېرومعنوکښې راځې۔لکه غوښې تلې شوې، وښه تله شوه، اوبهٔ تلې شوې۔

په مېدان کې تلې ښې دې دَ سر وینې
هونبره نهٔ وې خربې غوښې ورته تلې

(خوشحال)

تَل په معنی دفرش، په معنی د انګڼ، غولې، کور راځي.
باچایان ئې په تل رغړې، خانان ئې په تل پراته دي. جَوس هم ورته وایي .دتل غوندې توری تل هم دی. دمزکې یوتل، یود تیوته، دَ ګنو تل، چاسره تل کېدل ورسره ملېدلو ته وایي. پرتل یوبل توری دی.
معنی ئې ده دَ کو چیانو هغه سامان چې له کو چېدلو ترمخه بل ځائ ته لېږل کېږي . (دوست شینواری)
**پرتلی :** پرتل ورونکې ښاروې، په خر، سنډاباندې پرتل اچول یالمسې ترل ته وایي.
**تلیتی:** دامن کوه، وېخ، خواوشا (کامل صیب، ضمیمه تاریخ مرصع) تل مزکې ته وایي. دمزکې بېخ ته هم تل وایي. دکو هې ژورځائ تل بللې شي. دکوتې دننه برخي ته تل وایي. تل دَ چت اُپوته دی. تلول په غورو یاتېلو کښې سرۀ کؤلو ته هم وایي. تله کړه معنی توې کړه، ښکته وغورزوه. دیوشي تل ته رسېدل ډېرې ژورې معنی ته رسېدل وې. یاډېرې ژورې پوهنې ته ورپرېوتل وې. ترټولو ښکته نقطې ته تل وایي. غالبًا چې دتل سم اپوته توری هسک دی. هسک اوچت وې .اودغه دَ چهت ریښه ده. چهت ورته ځکه وایي چې دتل نه وچت وې. تل مزکه اوچت هسک یا اسمان وې. قرآن پاک کښې دَ اسماعیل علیه السلام دقربانی په حقله راځي.
**فَلَمَّا اَسلَمَا وَتَلَّهُ لِلۡجَبِيۡنِ (الصّٰفّٰت ١٠٣)**




ژبارنه: "نو هرکله چې غاړه کېښوده دواړو، او وايي چولودې په اړخ" يا نوکله چې سلامې شو اوټنډه ئې تاو کړه۔ ياکله چې هغهٔ تندی په مزکه کېښودو۔ معنٰی دتل شوه "وايي چولو"۔ تاسووکتل چې دلته دَ قرآن تل دَ پښتو دتل معنٰی کښې راغلی دی۔ تله کښې "ه" حرفِ اسمِ اشاره ده۔ اَسلَمَا هم پښتو ريښه لري۔ پښتو کښې سلامې کۆل داسې وې لکه چې دَ پټې څهٔ حصه په غاښور داسې سمه کړې چې څهٔ حصه بره وې او څهٔ ښکته اويهٔ دَ سلامې ځائ ته بهېږي۔ دبره نه ښکته راښکلوته دَ هغې ځائ سلامې کۆل وايي۔ دلاسونو ورغوې ته تلې وايي۔ دپښولاندې برخه تلې بللی شي۔ ازغې ئې تل کښې ښخ شو۔ تلې مې پولې شو۔ تَل، تَله، تلَه، تَلَه کچ کۆلو اوبرابرولو ته وايي۔

تَلّهُٔ لِلجَبِين: داسې به وي۔ "ه" حرفِ لفظِ اشاره ده او تلّ فعل دی

نو خبرېنه په تلّ شوه۔

**تَلَهُ لِلجَبِين :** چې هغهٔ سم کړو، برابرئې کړوتندی۔په تله تول ياتللې يوه محاوره ده۔اتل يوپښتوتوری دی چې دپوره سيال معنٰی وزکوي۔ دهندی ژبې اتل دغسې معنٰی لري۔ اتل دَ اپتال ماخذ هم لرلې شي۔ اپتال دپښتون يوه قبيله ده چې۵۰۰ سنهٔ خواوشاپه هندقابضه شو۔تول پتې ته هم وايي

۔ اشنائې لکه ښه تول چې ورته اش کړې
جدائې لکه ږلی ورانې دَ تول کړه

تول فصل ياکروندې ته هم وايي:

۔چې هم تول ځې هم دلی داتوپان دی کهٔ ږلی
چې ئې وړې موندی نهٔ شي هائ توبه له هغه کښته

تال،تالې، تاس لوئ ښانک ته وايي:

ع: ورته اېښی دَ مغل دحلوه تال دی

ع: دطالي کهٔ درته وايم يو تالی دی

تلاتوب، ناقلارې، تلبر،ښانک، تل ول،هلې ځلې، تلاش، تلبدل، ورتبدل۔کامل صبب دتلاتوب معنٰی جوش وخروش، هېجان، غلبه ليکلې ده۔

۔ دجهان غمونه يوسرزمابل سر
کهٔ سړی بې دباورېه تله تول کړه

- لکه باز خال دتارودابنکار دَ دهٔ دی
کهٔ څهٔ شي زمادزړهٔ په تلاتوب

تُول اوتولند دَ تللويو اندازته وايي. تل هم دَ تتل يا ترتله معنی لري. دپښتو تلل اوستاکښې Tak (تګ) او Hake دی. تلې کتل او طالع کتل يوه معنی لري. په تلې کښې شړشم مهٔ زرغونوه. شړشم ته هندی کښې سرسون وايي چې له پښتوئې اخستی دی.

تلې کښې تېل تېنګؤل هندي محاوره ده چې اصل ئې وړاندېنې پښتو متل دی. تلې کښې شړشم په لاس کې شړشم ته وايي. پرېوتې دانې ته ئې هم لاتلې کښې وايي. يعني پرېوتوسره سمدستې ئې مهٔ زرغونوه. هندکوکښې هم "تلی تاک" ښکته ګوره شته.

دتلې اوهتېلې اصل يودې. هتېلې يااتېلې کښې الف اوها وران شي. کله چې دَ هتېلې ورووستی برخه ورانه شي نو هتهه يا هاتهه ترې جوړ شي کوم چې هندي توری دی. دمزکې پاتال يايو اځې پاتال هم دغه دَ تل ريښه لري.

پرتل وهل يا پرلت غزول هم دغه معنٰی ورکوي. زمونږ وخت کښې دسياسې احتجاج نوې ډول دی.

تلې، اتېلې او هت اېلې، دَ پښتو، اوستا اوسنسکرت ګډ توري دي. چې مونږ ئې يو دی تل سوچه پښتو توری دی. دې کښې شک نشته دا دبلې هيڅ ژبې نه اخستی شوی نهٔ دی. داسې حالت کښې دَ عربی سره دَ دې يوشانوالې معنٰی خېز دی.

دَ هت نه اتْ او دَ ات نه اد او دَ اد نه ېد جوړ شو۔

"اد" او "اېد" زور ته وايي قوت ته وايي۔ وَلاَ يَؤُدُهُ حِفظُهُمَا (بخارۍ کتاب التفسير)

اُولُوالايدِ وَالاَبصَارِ (القرآن) صاحبان دَ لاسونو اوسترګو عربۍ کښې "يد" لاس ته وايي لکه بِيَدِهٖ، خُذبِيَدِكَ، اَيدِيهِم۔ مونږ دَ ېد يالاس خبرېنه داسې هم کؤلی شو۔ېد، ېت، هت، هَت، هت پلې، تلې سنسکرت کښې دغه ېد، يتا دی اوپهلوی کښې يات، ايات شي۔داخبره چې داټول تکې دَ ايرانيانوپه لار معرّب شوې دي ډېر وزن نهٔ لري۔ دعربۍ سره براه راست تړون ئې زيات وزن لري۔ دَ عربۍ نه دَ مفغَن کېدو بحث ئې ښکاره لاحاصل دی۔

(ژند)اوستايو کتاب دی چې په ۱۵۰۰ قبل مسيح کښې زرّه تشتره بلخي ته منسوب دی ددې يوه برخه وندېدادنو مېږي (۱) Gatha (۲) اصل اوستا۔

۔ لويه پېشکښې ده درته وايم په مثال کښې
دُرئې په لمن کښې ورته ګوره تلوَه

۔ مخ دي په پلو کښې کهٔ چراغ دی چې بلېږي
خلهٔ ده چې وئيل کا کهٔ مشکنې دي تلېږي

۔ کهٔ دسرملاحظه نهٔ کړې غواص شي
ملغلرې په درياب کښې تلې تلې

- جام ښېناته ورکړه چې ئې ډک یوسي ترځایه

جام ورکړه ړانده ته هسې ووایه چې تل دې

مونږ دتل معنٰی په پښتو، پارسی، هندوستانی اوعربی کښې وڅېړله اوبه ګڼو متلونو مو واضحه کړه. دومره به لږه نهٔ وي. دا ورومبی ځل دی چې یوتکی دَ پښتونخوانه ترهنده اوعربستانه ختېزلوېدېز پورې یوه سرچینه لرونکې وښودلې شو داخبره تراروپا اوږدېدې شي.

★★★

ثاني:

مونږ دغسې ثاقب، هیثم، حرث او نور شنلي دي او "ث" مو په "th" راوستې ده. دو او دوتیا هندوستانې دَ انګرېزی two هم ورته نزدې ښکارې دغسې پارسې هم ده.

★★★

ثاقب:

ثاقب = تېکاو

ابنِ هیثم = Ibn-Haitham

ثلث= درې

ث = th  ث = th = D

ل = د = R

تا= tee= th  Thaqib=tee-kao

قِب =kao=kab      tee په ثابدل شو

اوقب په کاوبدل شو




★★★

## ﴿اَلنّجمُ الثَاقِب﴾ (النجم ۳):

ـ کـــهٔ چـــرې مــل شـــي دَ نـــاقـــابــل ســـره
تیــکـاوې نــهٔ وې رخـصـت ترې تل غوارِئ

(خوشحال)

دَ پښتو تیکاو چې هند ته لاړو نوتهکانه، تېک ترې جوړ شو۔

★★★

## خیاط :

خیط په معنٰی د ستن تار

﴿حتٰیَ یَلِجَ الجَمَلُ فِی سَمِّ الخِیَاط﴾ (الاعراف ۲۹)

﴿حَتّٰـــی یَتَبَیَّـــنَ لَـــکُـــمُ الْـــخَیْـــطِ الابْیَضِ مِنَ الْـخَیْـطِ الاَسْوَدِمِنَ الْفَجُر﴾ (البقره ۱۸۷)

فکر کوم چې خېط اوخیاط به د پښتو د ختي سره تړون لري ختې هم دَ تارونو څخه جوړ وې. اسمان کښې دَ سحر نه وړاندې کرښې توري بیاسپینې لکه دَ تار ښکارې. دَ پښتو توری "ختل" هم ورسره نزدې معنٰی لري. ختی قمیص ته یا ټولو جامو ته هم وایی.




ثانې = دانې = دپښتو دوه

th = ث

Two= Thani = ثانې

- مظلومانو ته څۀ خو نظر وکړه
پـه دربار دې فریادې دې حېرې ختِ

(خوشحال)

مونږ د سَمِ الخیاط" سپړدنه وړاندې کړې ده.

- چې دکم اخترپرې وکړو لوئ به هم شي
چې خیرن درځخه نۀ شي دایو خت دی

(خوشحال)

★★★

## خیری : خیرن

**مَاکَانَ لَهُم الخِیَره (القرآن)**

ع: چې خیـرن درځـځـه نهٔ شي دایوخت دی

(خوشحال)

ع: چې لـه یاره نـه جـداشي، هم غمژنه هم خیرنه

(خوشحال)

سترګې مې خیره دي" داخبره نن هم دَ سترګو دمرېضانو څخه دَ یو سترګه ور ماهر په کتن ځائ کښې ډېره اورېدلې کېږي۔

★★★

## خمطِ:

**اُکُلِ خَمَطِ۔خَمَط** معنٰی خمچې "خورې خمچې پوسکی دَ وازدو اچوې"دَ خمط خمچې او براغبت = وروګې عجیبه تورې دې۔ چې پښتو ته ډېر نزدې دي۔ خمچې یوه وړه دانه وي لکه د غوښتو فصل وي۔ مارغان ئې خوري۔ پخوا به غریبانانو خوړلې۔

ع: کـه تـهٔ هـر کـلـه حـلوه خورې زهٔ خمچې

څوک ورته باجره وائی۔ (خوشحال)

★★★

## خاطِر:

خاطر زړهٔ ته وایي۔ تصوف کښې هغه وسوسې وغېره چې په زړهٔ کښې تېرېږي،خاطر او خَطَره بللې شي۔ خوا،اړخ یاڅنګ ته وایي۔ خـوا دنزدې معنٰی ورکوي۔ خوا زړهٔ ته وایي۔ خوا یوې سیمې ته وایي۔

وطن ته وايي۔ خوا دَ وخت سره تړون لري لکه پخوا اخوا ديخوا د مکان ښودنه ده۔ دَ خاطِرتلفظ "خواتېر" کېږي معنیٰ زړهٔ کښې تېرېدونکې خبرې۔ "خواتېر" هغه ځائ دی چرته چې فکرونه زرغونېږي۔ سرپورته کوي۔ دَ عربی خاطِر دَ پښتو خواتېر دی او د سنسکرت "کهتا" ده۔ کهتا خبرې ته وايي۔

"خوائې ښه شوه" "خواسړی پرې مهٔ کوه" دَ پښتونخوا مطلب دپښتون سيمه، مرکز، غاړه، اړخ، ځائ، زړهٔ دی۔

چې په خواپه خاطرنهٔ هسې عيان شي
ځنې څهٔ چارې پيداپه داجهان شي

(خوشحال)

★★★

## زَوت

زوتَوُل : يو څهٔ په يادو ياد ساتل اودکتاب نه بغېر وئيل۔دا دعربی دَ تجويدسره تړون لري۔تجويد: جَوَد (ج: ز او دَ : ت)

نو جَوَد = زَوت

پښتو کې جوت توری په معنیٰ د ځرګند ورسره تړون لرلی شي۔ مونږ جوت توری د جغ او جوتي سره څېرلی دی۔

غــم:

فَنَجّينٰكَ مِنَ الغَمّ (طٰه ۴۰)

۔ لايو غم راځنې لاړنهٔ وې بل راشي

مــګــرزۀ پېــداپــــه ورځ دَ شـــوروشــریـم

"واړه سَر درګم کښې ګم = غم راځي۔ (خوشحال)

★★★

## غَزَاَل:

Gazella thomsoni

فرانسـبسي Gazella

انګرېزي Gazelle

(Antelope)

A soft Eyed animal

(Oxford)

Gaze په معنیٰ د نظر ،کتل، یونظر،سترګې مې ګزې مزې کېږي۔

ع: پـــه ښېـــوه ښېـــوه رفتـارکانـدي غـزالـــه

(خوشحال)

غزال پښتوشاعرۍ کښې ډېرزیات راغلی دی۔د خوشحال بله مـصرعـه کې ئـې تـلـل سـتـائـیلي شوي دي۔ د تګ نه ئې زیات کتل زړونه راکاږي۔

ع: چې ئې ونـیـسـم پـه غـېږ کې راتـه ګوري

(خوشحال)

کېلی او غزاله به یو وي۔ غزاله کې اصل رېښه د Gaze ده۔

★★★

غُراَب = غرو =Crow

دَ غُراب نه غـرو داسـې جـوړېږي لکه آفتاب نه پيتاو،تاب نه تاو،دوآبه نه دو واوه،ګرداب نه ګرداو،د Crow نه قرا = قارغهٔ = کارغهٔ = کراغ،دَ قرو نه خرو= کرو= کوَا (هندوستاني)(ق = خ)(کرات کرات)

زاغ پارسي ده۔زاغ د عربی په معنی د رپېدلو خوزولو۔

مَازَاغَ اَلبَصَرَ (القرآن)

مِثلَ هٰذَا الغُرَابِ (القرآن)

Koraciod Process د اوګـې د هډوکي يو شاخ يا ځانګه ده۔ دَ دې شـکـل لکه دَ کارغهٔ وي۔ Koraco پـه يـوناني ژبه کې کارغهٔ ته وائي۔ Koraco دَ کارغهٔ او Crow دواړه سره يو شان غږ لري۔

(۱) کارغهٔ (Pushtu)

(۲) (Greek): Koraco

(۳) (English):Crow

(۴) (Arabic):غراب

(۵) (Hindostani):کوا

(٦) (Persian):زاغ

(۷) (Sanskrit):کیکا

(۸) (Tamil): Kakkai

(۹) (براهوي) Khakha

(۱۰) (Malti) Khakha

وئیلی شي چې دا توري دره ور (Dravidian) دي او سنسکرت ترې پورلي دي۔




★★★